


له ماهر-Maaherچینل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له اِنس او جِن سره خبرې

لنډې کیسې

لیکوال: سید داود قادري

لومړی چاپ چاپ

۱۳۹۸\۲۰۱۹

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# له اِنس او جِن سره خبرې

لیکوال: سید داود قادري

خپرندوی: شهباز خپرندویه ټولنه ـ جلال اباد

چاپ وار: لومړی

کمپوز: پخپله لیکوال

ډیزاین: نعمت الله پیردوست

چاپ کال: ۱۳۹۸ل\۲۰۱۹م

چاپ شمېر: ۱۱۰۰

د کتاب د ترلاسه کېدو ځای

لومړی پته: شهباز کتاب او قرطاسیه پلورنځی: د بي بي حوا عالي لیسې تر څنګ، حاجي زمان کوڅه څلورم نمبر دوکان افغانستان.

اړیکي شمېرې: 077692008-0797920008

دوهمه پته: روغانیوال کتاب پلورنځی: اسحاقزی مارکېټ، لاندیني پوړ، جلال اباد ننګرهار افغانستان.

اړیکي شمېرې: 0787830302-0772994040-0787868816

دریمه پته: فتح الله قرطاسیه او کتاب پلورنځی: د کندز ولایت د دښت ارچي ولسوالی بازار: اړیکي شمېرې: 0783443052

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ليکلړ


ډالۍ .................................................. ٥

سريزه .................................................. ٦

د ليکوال څو خبرې .................................................. ٧

خانګړې مننه .................................................. ٨

په کيسې کې .................................................. ٩

د مخاطبينو لپاره څو کرښې .................................................. ١٠

شپون او جنون !! .................................................. ١١

د پيريانو مـور!! .................................................. ١٣

لـويه بلا او دوهٔ بچي!! .................................................. ١٦

د پېرې ملګرى .................................................. ١٨

سپين ږيرى پېرى!! .................................................. ٢١

پـه سپـين کـفن کـې پېـرى! .................................................. ٢٤

لنډې او واړه پيريان!! .................................................. ٢٦

پـه چيـنه کـې پـيري!! .................................................. ٢٩

(( ٩ )) کلن هلک او د پيريانو بازار!! .................................................. ٣١

د غــوا پـه بـڼه پـېرى!! .................................................. ٣٥

غــرور او بــې اعتــباره ملګــرى ! .................................................. ٣٧

لبت صفا! منزل اسان ! .................................................. ٤١

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزاده مزدور! ...... ٤٧
بې پېريان! ...... ٥١
په خان باور! ...... ٥٣
بد نصيبه او غريبه ! ...... ٥٦
تاوې د پېريانو لومړنی هدف ...... ٥٨
نابېره پېرې!! ...... ٦١
بې وفا ملګري؛ بې وفا دنيا! ...... ٦٤
سخت نازولی ؛ سخت خوارېږي ...... ٦٧
مرګ په وعده دی! ...... ٧٠
کمزورې بلا! ...... ٧٣
د پېريانو مولوي!! ...... ٧٧
د پېريانو سره مناظره! ...... ٨٣
شوخ پېرې!! ...... ٨٦
د بدو مينه! ...... ٨٨
ويرجنه او غمجنه مينه! ...... ٩٤
خونکاره سړی! ...... ٩٨
بې وسه کوندې! ...... ١٠٢
بې شکره مالدار! ...... ١٠٧
د زور مينه! ...... ١١٠

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

زما هغه درنو او محترمو والدينو (مور او پلار) ته چې زه يې د آدب هغه سالم رقابت تـه هڅـولی يـم چـي، خپـل د هيـواد لپـاره دوه جملـې ليکلـی سـم. او هيڅکلـه بـه ونـه توانېږم چې احسان يې ادا کړم!

يوه ځانګړې ډالۍ زما دروند او زړه ته تېـر ورور طلحـه کاکړ تـه چـې اوس د مسافرۍ شـپې او ورځـې د فرانسـې هيواد د پاريس په ښار کې سبا کوي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سريزه

د مهربانه پروردګار (ج) په سپېڅلي نامه!

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته!

که د بشر او عشر ډګر ته پام وکړو نو زموږ فکر کې د انساني بدلون او تمدون ځيني اطلاعات او مالومات راڅرخي او په دې پوهېږو چې د انساني پيدايښت په لومړيو کې ژوند ډېر ساده او پياده وو. له يوې خوا د انسان فطرتي غوښتني او له بلي خوا په نړۍ کې نوی رواج انسان دې ته اړ کړ چې، د ژوند په بېلابېلو برخو کې وده وکړي، چې همدا لاملونه په تدريجي توګه ددې سبب سول ننی عصري نړۍ ته موږ ګوته په غاښ ناست يو.

ما هم د يو خوان په حيث چې ددې نړۍ ددغه عصري رواج ښخه ليري پاتي نه سم خپل د ژبې او هيواد د لا ودې لپاره مې دا څلورم اثر دی چې د پښتو ادب ته يې ډالۍ کوم.ځکه چې ژبه مې حق رابانديلري ترڅو خدمت ورته وکړم او زما مسئوليت دی چې دغه حق يې په سره او خوږه سينه اداکړم.

په دې هيله چې دغه څلورم اثر مې هم د پښتو ادب ته يو ځيز وي! او درانه هيوادوال وکولی سي چې ورڅخه خپل ادبي تنده خړوبه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال څو خبرې

ژوند اسان دی، په ژوند کې انسان دی ، انسان کې شیطان دی ، شیطان کې خورا توان دی، توان خورا گران دی او گران تاوان دی،تاوان هم ببخښې بې شـــان دی.

ژوندون ته مبارزه په کار ده مبارزې ته وسله په کار ده، وسلې ته بیا واسطه په کار ده، واسطې ته جذبه په کار ده او جذبې ته وظیفه په کار ده.

خان چې د چا سیال نه کړې ژوند به خوشال نه کړې، خوشال به په بنه حال نه کړي، حال به دي خپل مال نه کړې او مال به دې خپل کمال نه کړې.

بسم الله الرحمن الرحیم!

پورته چې مې کومې جملې او کلیمې لیکلې دي په ټولو کې مې خپل د ژوند او خوند موضوع او تنوع را اخیستې ده. ژوند یوه لویه مانا لري څوک چې په دې مانا پوی نه سي او دغه لفظ تشخیص نه کړي، هغه ته به خورا د ژوند او پیوند شپې او ورځې گراني سي.مُمکن زیاتي ستونزې مور او تاسي په دغه لفظ کې ولرو خو د نه حلېدو لامل یې دغه هم کېدلی سي چې، مور د ژوند مانا او دنیا نه ده درک کړې.

د ژوند غلامان تل هڅه کوي چې له دوی څخه بل غلام لوړ مقام ونه لري چې دا لامل دی چې انسان و یوه داستان ته په خورا ډېرو کړکېچنو حالاتو خان اړوي. مهمه هم نه ده چې مور دي هغه کسان مشخص کړو چې کوم کسان داسې حالاتو ته زمینې برابروي، ځکه چې خانگړي نه دي بلکې ددې نړۍ ټول غلامان همداسې فکر او ذِکر لري. دلته به خان پخپله د جمالاتو او کمالاتو سرحد ته رسوې بلکې د بل چا څخه به هیله نه کوې.

په خورا خوږې او افغاني مینې

سید داود قادري

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځانګړې مننه

نړۍ يو ګډ کور دی چې، په هغه کور کې بيا انسان اوسېږي. خو ځينو بيا دا فارمول له ذهن څخه کښلی دی نو ځکه د انسان د مرستې لاس لنډ سوی دی.

خو اوس هم په نړۍ کې داسې ځيني اشخاص پيدا کيږي چې د انسانيت مينه ورباندې ماتېږي. ځيني داسې کسان سته چې د انسانيت مثال يې په نورو کې هم ژوندی کړی. دلته سړی فکر کوي چې انسانيت خپلوانو پورې تړاو نه لري بلکې دا ښکلی صفت د خدای تعالی ج په بنده کې خوندي دی، هغه که هر څوک وي خو يوازې يو انسان وي.

زه هم نن درته د داسې کس صفت کوم چې، د علم هغه ډېوه يې زما په زړه کې لګولې ده چې اوس يې تاسې مطالعه کوئ. ګوهر په دريابونو کې ډېر سته خو، دې ته هم يو داسې کس بايد پيدا سي ترڅو ګوهر ته يې تشويق کړي او هغه له درياب څخه را وباسي او بيا يې ددې خوار ملت په درد درمل کړي.

((طلحه کاکړ)) زما هغه ناليدلی ملګری او ورور دی چې، د نړۍ د يوې ليرې فضا څخه يې زه هڅولی يم ترڅو زما په بدن کې پټ علم ښکاره کړم او ددې ملت د درد يو ناڅيزه درمل ترې جوړ کړم.

طلحه کاکړ اوس له هيواد څخه بهر د فرانسې هيواد په پاريس ښار کې خپل د ژوند شيبې تېروي. په دې هيله چې يوه ورځ يې د ګران هيواد په جنتي خاوره کې ووينم او د لومړي ځل لپاره ورسره لېدنه وکړم.

(زه دې د پوره احسان منندوی يم وروره)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په کیسې کې

کیسه خوږه ده، ترخه ده. تېره ده، پسته ده. بنیبنه ده. بنه ده بېخي نه ده
مُمکن څوک ورته خپل د نظره وګوري خو، ځيني ورته له خبره ګوري!

ځيني چوکاټونه ورته لري خو، ځيني بيا ورته ذهنونه لري!

يا به يې له خانه ليکي ؛ يا به يې له جهانه ليکي!

ځيني مخاطب په نظر کې نيسي خو، ځيني بيا مرتکب

ځيني د دنيا مني خو، ځيني بيا د هيڅا

ځيني له فکره کار اخلي خو، ځيني له ميکره

ځيني له هنره استفادده کوي خو، ځيني له ډګره

ځيني ملت په ذهن کې نيسي خو، ځيني دولت

ځيني دردونه لري خو، ځيني شرطونه

ځيني يې له زوره ليکي خو، ځيني يې له اوره

ځيني يې له ميني ليکي خو، ځيني يې له ويني

ځيني مومن خان خوښوي خو، ځيني سلمان خان

ځيني جنګ خوښوي خو، ځيني بنګ

ځيني ملاله خوښوي خو، ځيني ګل پاڼه

ځيني کمال خوښوي خو، ځيني شال

ځيني درمل پکښې غواړي خو، ځيني توکل

ځيني خوند ترې اخلي خو، ځيني پند

ځيني يې په خبر ګوري خو، ځيني يې له پېغور

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مخاطبينو لپاره څو کرښې

د بشر د پيدايښت ګام د خطا او وفا سره يو ځای اينودل سوی دی!

ما خپل د هيواد د ابادی او ودې لپاره دا ناچيز اثر چاپ کړ، ترڅو د علم او ادب مينوال وکولی سي چي ادبي تنده پرې ماته او خړوبه کړي. ما تر ډېره هڅه کړې چي داسي لفظونه او لغاتونه استعمال کړم چي د پښتو ژبې د مشهورو لهجو څخه د يوې حق هم راپسي ډېر رانه سي.

دا چي زموږ لويه ستونزه داده چي، د هيواد په کچه د ليکلو يوه معياري لهجه نه لرو نو ځکه ځيني وخت زما غوندې غريب ليکوالان د ستونزو سره مخ کېږي.

ما خپل د کمزوري ذهن پر وزن دغه کتاب (د إنس او جن سره خبري) داسي ليکلی چي، له يوې خوا مخاطب اغيزمن کړي او بيا مي ورته خپل نظر د هري کيسې په پای کي ليکلی دی، چي د نصيحت بڼه لري او شخصي نظر مي هم دی. کيسې مي ټولي هغه رښتني کيسې دي چي پر ځينو انسانانو باندي خپل په ژوند کي تېري سوي دي او بيا ما له هغوی څخه ليکلي.

که بيا هم راڅخه په کومه برخه کي تېروتنه سوې ما وبخښئ او تاسي يې له ځان سره اصلاح کړئ. ځکه چي انسان له تېروتنو خالي نه دی، دا ځکه چي زموږ نبي کرامو او صحابه کرامو هم تېروتني کړې دي او بيا الله ج بخښلي دي.

په وروستيو جملو کي درته دا وايم چي راسئ ددې هيواد د ابادولو لپاره متې راونغاړئ او کار ورته وکړئ. ضد او کينه پرېږدئ يو او بل تشوق کړئ، ترڅو پرمختګ وکړو او دې دردناکه ملت ته مو خير ورسېږي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپون او جنون !!

توره شپه وه، سپوږمۍ د شنه اسمان پر مخ د خالونو او ستورو په منځ کې گرځېدل او را گرځېدل.

ما مې خپل مېږي را وشړلې، ترڅو کور ته يې بوځم او وې رسوم. په بسم الله را ولاړ سوم سپين او خيرن لرگی مې راواخيست د چاوو پيالې مې په زوږ خادر کې و پېچلې، يوه د پاسه بله د بغل غوټه مې ورکړه او تر ملا مې وتړلې.

د مېږو تر کنگسو غوږونو مې خپل اواز ورسوی او د کور پر لور مې حرکت ورکړ. په ذغه ورځ له ما سره کوم بل شپون نه وو، چې را سره د مالونو په بيولو کې مرسته وکړي. زه هم ورو، ورو را روان سوم.

د لارې په اوږدو کې وم ومې کتل چې، يو څه مېږو بلې خوا ته مخه نيولې ده او پر بل لورې رواني دي. زه هم په تشويش کې سوم، چې څه کيسه به وي!! ورغلم تر څو په اصلي موضوع خان پوی کړم.

خو کله چې ورغلم ومې کتل چې يو تور څيز ناست دی، د لاسونو تولې گوتې يې نه سته پرې دي او مېږو ته وايي : پې، پې په عزت اوسې! پې، پې په عزت اوسې !!

خپل د پرې گوتو لاسونه ورته نيوروي او همدغه جملې ورته تکراروي.

کله چې مې دا حالت وليد، ژبه مې گونگې سود، غوږونه مې کاڼه سوه، شولډې مې پنډې سوې، ټول بدن مې لرزې واخيست.

لار رانه ورکه سوه او ددې سره بلې نړۍ ته داخل سوم. هڅه مې وکړه چې ددغه حالت څخه خان وژغورم.

خو د بدن هيڅ غړي مې ملتيا نه راسره کول. ترڅو خان له دغه حالت

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخه را وباسم. خو بس په وروستیو کي مي خپل رب (ج) راباندي ورحمېدی چي، حیاة کُرسي مي ذِهن ته راغله او ومي ویل، وروسته مي پر ځان چوُپ کړل.له هغه وروسته د ځان په ګټه پوی سوم چي اوس پر بنه کېدو یم.

نو په ډېري سختی مي ځان له هغه حالته را خلاص کړاو مېږي مي را وشړلې او حرکت مي را وکړ.کله چي کور ته را ورسېدم.

د کورنی ټول غړي مي په رنګ پوی سول. ټول راته هک پک سول، چي ستا رنګ ولي داسي زړ سوی دی؟ خدای مه کړه بېړېدلی خو نه یې؟ زه چي ډېر بېرېدلی وم، ورته مي ټوله کیسه بیان کړه. هغوی چي کله کیسه واورېده، ډېر افسوس یې وکړ او وې ویل: چي کاش یو بل کس هم درسره وای، ترڅو در باندي دا حالت نه وای راغلی.

زه تر سهاره هغسي په یخ او وام کي پروت وم. نه خمکي خای راکوی او نه مي زړه سکون را بخښي.

بلاخره وروسته د څو ورځو او شپو مي بیا یو څه د بنه کېدو احساس وکړ.

له هغه را وروسته دا دی اوس په تورو شپو کي مېږي نه راولم او نه هم د شپې ناعالوم ځایونو ته سفر کوم. ځکه چي ډېر بېرېږم چي بیا راسره یاد عمل تکرار نه سي.

**د لیکوال نظر د کیسې په تړاو :**

که چېري کیسې ته فکر وکړو اوووایو چي دغسي پېښي یو طبیعي حق دی! مُمکن غلط فکر مو کړی وي.

علت یې دا دی که موږ د شپې په دغسي- شیانو باندي کار ونه لرو، نو طبیعي حق له کومه سو؟!!!

نو هر کله چي انسان دې ته ورته موضوعاتو سره مخ کیږي، باید له پوره فکر او ذکر څخه کار واخلي، ترڅو د نړۍ د یوه افت څخه ځان وژغوري.

او ددې تر څنګ به یې ځان ته کومه ستونزه هم نه وي اړولې. ځکه چي په نړۍ کي د ځان ژغورني اصُول همدغه دي چي، په داسي حالاتو کي باید د عقل پروسه ډېره قوي کړي، ترڅو ځان ته کوم زیان ونه رسوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پیریانو مـور!!

کوچنۍ پیالـه وه. د شنو چاوو ډکـه وه. پـر سر مـي را وا ړول او ومـي څښل!

وروسته مي د شنو نصوارو سپین قـطی را واخیـست او د چـپه لاس د ورغـوي خـخه مـي ووهـی او ور وامـي ړول. د نـړی د مـادي او معـنوي خیـالونو کي غرق و پرق سوم.

پر سُور بـالِښت پروت نوکـیا موبایل ته مي زنګ راغی! ومـي کتـی چې کشـر اکـا مي اړیکه نیولې! نصوار مي توففف کړل او مـوبایـل ته مي جـواب ورکړ!!

-ورته مي ووېل : بلې!

-کاکا مي: جوړ یې؟

- کاکا مي : هو ښه یم ستاسي څه حال دی، د کورنۍ غړي مو ښـه دي؟

-زه :مننه کاکا جانه تاسي ښه یاست؟

-کاکا مي : ژوندی اوسې، ټـول ښه یو!هلکه ته به داسي وکړې چي زه نـن بو خای خـم،تـه مابنـام راسه زمـوږ کـورته خکه چي ماشومان یـوازي دي!

ما وېل: سمه ده کاکا جانـه، تـاسـي ښخي بـې غمـه اوسـئ زه مـابنام درځم ستاسي کور ته. تـاسي پخیـر خپل د موخي خای ته ولاړ سئ.

د کاکـا سره مي په موبایـل کي اړیـکه پرې کړه.د کا کا کور مي کـه څـه هم زموږ کور ته نـژدې وو، پرېکړه مـي وکړه چي مـابنام د ډوډۍ نـه وروسته به ورسـي!

همداسي مـي وکـړل، مابنام تېر سـو مـا مـي هـم د اکـا د کـور پـر لـوري

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکت وکړ. کله چې مې د اکا کور ته نږدې سوم، د اکا د کور تر څنګ چې کوم چناران دي؛ له هغه ځايه د ماشوم ژړا راغله.

کله چې مې دا حالت خپل په غوږونو واورېد ، ور منډه مې کړه ترڅو د چنارانو خوا ته ورسم، چې دلته ماشوم څه کوي چې ژاړي ؟!!

کله چې د چنارانو خوا ته ورغلم، ورته ومې کتل چې دننه په چنارانو کې يوه سپين سرې ښځه ناسته ده او په غېږ کې يې يو ماشوم دی .هغه کراروي.

ما فکر وکړ چې شايد د اکا مېرمن وي د کورنۍ سره به يې کومه خبره راغلې وي او خپه سوې به وي. حرکت مې ور وکړ. کله چې ورته نږدې سوم او نه ورته خبر سوم ومې کتل چې ښځه د انسانانو په څېر نه ده! جګ قد يې دی.

ښخې بَل ډَوَل ده. بدن مې لړزې واخيست ځکه چې پوی سوم کيسه خرابه سوه!

د دواړو ژامو غاښونه مې د ډېرې بېرې نه کړپې کاوه. لاسونه مې بې واکه سوه. حيران پاتې سوم چې اوس څه وکړم؟!! بلاخره مې څه چې زده وه، ومې ويل او پر خان باندې مې چُپ کړل!

له هغه وروسته مې د بدن غړو يوڅه په فعاليت پيل وکړ او شا ته مې په ډېرې ستونزې مخه کړه او را منډه مې کړه. کله چې کور ته را ورسېدم دروازه مې په ډېر شِدّت سره خلاصه کړه او په کور ورننوتم، ماشومانو ټولو چيغې کړې، چې څه وسول؟؟!!!!!

بلاخِرَهَ کښيناستم ماشومانو ته مې ډاډ ورکړ چې هيڅ خبره نه سته. خو کله چې سهار سو، ماشومانو ته مې د تېرې شپې کيسه بيان کړه.هغوی هم ډېر وبېرېدل او ژمنه يې وکړه چې بيا به د شپې چنارانو ته نه ځي !

د ليکوال نظر د کيسې په تړاو :

-هر کار چې ترسره کيږي حتمن په عمل کې د خان سره يو لامِل لري.که چيرې دغه شخص د شپې و چنارانو ته نه وای ورغلی، نو بيا به دومره ستونزه له کومه کېدله؟

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالومه خبره ده چې، انسان غرَضي څیز دی.

خکه ورته په ژوند کي خیني ستونزي او خنډونه پیدا کیږي. هیڅکله باید انسان په دغسي حالاتو کي و دې ته ورته شیانو باندي کار ونه لري! ترڅو په ستونزو کي راگیر نه سي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لـویه بلا او دوهٔ بچي!!

د لوی او نعمـت لرونکي ذات خدای (ج) شـنې دبنـتـې وې، تکـې شـنې غـونډۍ به وې او څاروي به پکښې ګرځېدل.

شپون مي تـه وو د ماشـومانو مـور راته وویل : چې سـړیه ! نن شـپون نـه سته تـه اړیـن یې، چې د هغـه دنـده پـه مخـه وې سې.نـن د عبـدالقیوم کـاکـا وراره، جان محمد راغلی وو! چـې پـلانـکي، کاکا تـه وویـه چې نـنـه شپه به مېږي او رمې ته ځـروې!

سپین لمـر د شنهٔ اسمان پرمخ په تېرېدو سو، بـلاخره ژړ سو او پـرې وتـی چې ددې سره مابـام سـو.زه هـم د دنـدي دِ اجرا کولو لپاره د مېږو پـر لـور روان سوم.د نیمه شپـه وه، د مېږو رمه مي د غونډیو پر لوري و ځـرول.

ورو، ورو د مېږو پـه ګـامـونـو روان وم. چې یـو وخـت مي وکتـل چې یو لـیري خای ته مي پام سـو، چـې یـو څیـز دی د اوبـو د ذخېرې سره یوځـل اخوا واوړي او بیا دې خـوا واوړي.

فکر مـي وکړ چې شاید دوه مـرغـومان وي؛ را وبه یې شـړې!

کـله چـې ورغـلم ور نـژدې سوم. و مي کتـل چـې مرغومـان خـو تـور دي،دا خـو ډېر غـټ مالومېږي.ددې لپاره چـې خان نـور هم ډاډه کړم نـور هم ورنژدې سوم.کلـه چې مـي پـه خبر ورته وکتـل چي یـوه غټه بلا ناسته ده او دوه دانې بچي یې اخوا دېـخوا ورتـه اوړي او را اوړي او مـتـي ورسره کوي ! کله چي مـي دا حـالـت ولـید پر بـدن مـي یـخـه تـبه راغله!

د بدن خـواک مي له لاسـه ورکـړ. څه چـي مـي زده وو، هغـه مـي پـر خـان چُپ کـړل او شا تـه مي ورو، ورو حـرکـت راوکـړ او مېږي مـي د کـور پـر لـوُر وځرولې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېر بد وضعيت مې خان تر کوره راورسوی. کله چې کور ته راورسېدم په ډېر بد حالت کې وم. خپلې مېرمنې ته مې ټوله کيسه بيان کړه. هغه چې د کيسې په اورېدو سره سخته پرېښانه سوه ژر يې کمپل او تلتکان راواخيستل او زه يې پکښې پټ کړم!

د ليکوال نظر د کيسې په تړاو :

که چيري د کيسې د پېښېدو علت وڅېړو؛ دا به راته څرګنده سي، چې ياده کيسه د غُربت څخه رامنځته سوې. څکه چې هيڅ څوک هم لېونی نه دی، چې د شپې پر يوه بجه را ولاړ سي او په دومره خطر ناکو غونډيو کې څاروي وڅروي، خو د موضوع اصلي اړخ دا دی

چې يو څوک نه بايد خپل خان خپل د مال لپاره په دغسې- شپېو کې قُرباني کړي.که چيري دغه کس خپل مېړې په دغه شپه نه واى ويستلي تر سهاره به مېږې مړې سوې واى؟!

خو مالومه خبره ده چې د پوښتني جواب نه دى!

او که اوس د پوښتني بل اړخ ته پام وکړو! که چيري دغه کس ته هغه بلا مخ ور اړولی وای نو څه فکر کوې چې دغه کس ته به يې تاوان نه وای اړولی؟

نو څرګنده سوه چې بايد انسان د ژوند په ټولو چارو کې له پوره دقت څخه کار واخلي!!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پېرې ملګرې

د معمول له مخي د شپې لخوا ټول وګړي خوب کوي،خو د مېرمني دنده
دا ده چي د شپې لخوا خيني نا تمامه کارونه بشپړ کړي!

زه هم را ولاړه سوم، تور پوړنی مي پر سر کړ، سترګي مي په لاسونو ومږلې
د خېمې څخه بهر راووتم د شين اسمان په غېږ کي سپوږمۍ پرته او پر اړخونو
يې ستورو چاپه وهلې وه، لکه د پېغلې پر زنه چي مور د خيال او ناز خالونه
وهلي وي.

د وړو کاسه مي راواخيستل او د اشپز خاني پر لوري مي حرکت راوکړ. کله
چي روانه سوم، د شا لخوا يو شين کالی سړی راغی او زما په شا باندي يې
ولکه واچول.

چي ددې سره مي ټول بدن دروند سو، ساه مي بنده سوه فکر مي وکړ
چي يو چا مي په اوږو باندي د هندوکُش غر کېښود. بدن مي لرزه واخيستل
او خپل د خان په غم اخته سوم.

په زړه کي مي پاک خدای ته زاری شروع کړې چي، زما سپېڅلې
ذاته! زه ستا يو عاجزه بنده يم. ته راباندي رحم وکړې او ته مي مددګار سې.
زه مي په همدغو زاريو بوخته وم، ورو، ورو مي بدن سپک توب احساس
کړه.

خو بلاخره هغه شين کالی سړی مي له اوږو څخه کښته سو او د ستړيا
اهونه مي ترخوله ووتل. يو وخت وو، چي د ماشومانو پلار را باندي ږغ
وکړ چي د پلانکي موري پاسه چي ناوخته دی ولاړه سه وړه دي واغږه!
سترګي مي پرانيزلې ومي کتل چي خير و خيرت دی او هرڅه خوب وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو خير راپاسېدم ډوډۍ مې پخه کړل د کورنۍ غړو ته مې د شپې تېره سوې کيسه بيان کړه، هغوی راباندي وخندل چي خوب دي ليدلی او د شپې لخوا خلک هر ډول خوب ويني.

بلاخره ! د ماسپښين خوا وه لاړم د کلي د مُلا څخه مي د تيري شپې د خوب پوښتنه وکړه .هغه ته مي ټوله کيسه بيان کړه.

هغه وخندل ويل : د تشويش د وړ خبره نه ده، ته د شپې ستوني ستخ بيده سوې يې ځکه درباندي ياده واقعه راغلې ده.

هر کله چي تاسي ويدېږئ هڅه وکړئ چي په راسته اړخ باندي بيده سئ.چي ددې سره به مو هم اسلامي رُکن ادا کړی وي او هم به مو ددغې- افت څخه خان ژغورلی وي.

د خپڅکي په نامه يو څيز دی هغه د هغه کسانو سره سر او کار لري چي د شپې ستوني ستخ پرېوځي، نو بيا دغه افتورباندي خان اچوي. چي ددې سره انسان ډېر په تکليف کيږي.

که پورته اسلامي ذِکر سوې طريقه هر مسلمان ادا کړي،نو نه به دا ستونزه ورته راولاړه سي او نه به هم په تکليف سي.

ځکه چي د خدای تعالی پر دنيا باندي د نعمتونو تر څنګ خيني افتونه هم سته چي له هغو څخه يو هم دغه شمېرل کيږي، چي د بيده او بې پروا انسانانو سره کار لري او دنده يې داده چي،يو انسان څومره په عذابولی سي هغومره يې په عذابوي او دردوي.

د ليکوال نظر د کيسې په تړاو :

که چيري موږ او تاسي د اسلام مبارک دين و څينو لارښونو ته پام وکړو د ژوند په هره برخه کي د بريالیتوب سره مخ سو.

که بر عکس په دغه لارښووونو عمل ونه کړو مُمکن ډېري ستونزي راته په ژوند کي پيداسي.

د کايناتو سرور او د خدای ج د ګران رسول حضرت محمد مصطفی (ص) و حادث ته که پام وکړو هغه فرمايي : تاسي د خوب په وخت کي پر ښي اړخ باندي پرېوځئ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډې کېسې

د کيسې نوعيت ته که پام وکړو دغه کيسه هم د غلط پرېوتلو له اعله رامنځته سوې ده، چي دغه مېرمن ستوني سخت پرې وتلې ده.

نو بايد د اسلام مبارک دين پلويان و دغسي مسائلو ته جدي پاملرنه وکړي، ترڅو د دنيا د ناوړه پدېدو ښکار نه سي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپین ږیری پېری!!

د لمر ژړ پای ته ورسېد. د ځمکې او اسمان پر مخ د تورې شپې اغېزه ځرګنده سوه.

ورور مي کور ته رانوتی وېل: څه مو پخ کړي دي، زما سره مېلمانه دي؟!

مور مي ورته وېل: زویه غوښې او ورجي مو پخ کړي دي!

بلاخره مي مېلمنو ته ډوډۍ ور وړل د ډوډۍ وروسته زه د حويلۍ څخه بهر راووتم. زموږ د کور مخ ته ايرې پرتې وې.زما فکر نه وو پر هغه ايرو وختم او هلته مي جواب چای رفع کړ.

کور ته راغلم ومي کتل چي د کور په حويلۍ کي يو ښايسته ماشوم ګرځي او خاپوسي کوي. ما مي ګوته په غاښ ونيول د فکرونو په نړۍ کي ډوب سوم. فکر مي وکړ چي شايد د کور ماشوم مو وي او له خوني څخه به بهر راوتلی وي.

حرکت مي ور وکړ ترڅو وې نيسم او بيرته يې خوني ته بوځم چي کوم تاوان ور ونه رسېږي.

کله چي زه ماشوم ته ورنژدې سوم راځخه يې منډه کړه ما هم ورپسې-منډه کړه ترڅو وې نيسم خو ماشوم د حويلۍ څخه بهر ووتی!

کله چي د حويلۍ څخه بهر ور ووتم ماشوم يو ځل راځخه ورک سو!! ومي کتل چي زموږ د کور په مخامخ پټي کي يو سپين ږيري سړی ولاړ دی او ماته يې لاس ونښوری چي دلته راسه!

پر بدن مي يخه تبه راغله غوږونه مي کنګس سول. بدن مي لرزه واخيستل په ماتو بندونو ور روان سوم. کله چي ورغلم راته يې وېل کښېنه او غوږونه ونيسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library





زما چې ژامې یوله بله نښتي وې خبره مې نه سـوای کـولی. بلاخره سپینږیري سړي تر غوږو ونیولم او د خمکي خوا ته یې راکش کړم.

پر اوږو مې سپور سو او زما سر ته یې خپل سوکان بند کړه په وهلو یې شروع وکړه...

ما هرڅه چغې ورته وهلې چې ته څوک یې او ولي مې وهې؟!

سپین ږیری سړی چې ډېر په غُصه وو وېل: ته ولي پر هغه اېرو کښېناستلې او زموږ یو ځوان دې خپل تر پښو لاندې کړ او په شهادت دې ورسوی؟!

ما ورته قسمونه اخیستل چې ما دا کار نه دی کړی! خو سپین ږیري هغې وهلم!

کورنی چې مې ډېره وارخطا سوې وه او زما په پلټلو پسې یې تول خایونه پلټلي وه.

بلاخره یې زه پیدا کړم او تولو را منډې کړه او راته یې وېل : ته ولي دلته داسي ناست یې راپاسه خو کورته؟!

ما ورته وېل: نه سم تللی پر اوږو مې یو سپین ږیری سړی ناست دی نه راځخه کښته کېږي او وهي مې!

مشر ورور مې د کلي مُلا سره اړیکه ونیول او توله کیسه یې ورته بیان کړه!

مُلا ورته وویل : چې د ورور و غوږ ته دي موبایل ونیسه. مشر ورور مې همداسي وکړل. زما غوږ ته یې موبایل ونیوی او مُلا خپل د مؤنه شروع کړه.

بلاخره مې سپین ږیری سړی له اوږو څخه کښته سو. په سبا باندي د هغه مُلا خوا ته ورغلو هغه راته ځیني تعویذونه راکړه.

راته یې وویل: چې ته د شپې لخوا پر هغه اېرو بې بسم الله کښېناستلی یې کومې چې ستاسي د کور مخ ته پرتې دي، چې په دغه وخت کي تا د پیریانو یو ځوان تر پښو لاندي کړی او هغه دې وژلی دی او اوس ته اړین یې چې هر کال یو پسه حلال کړې او په خلکو یې تقسیم کړې، ترڅو زه پیریانو ته قناعت ورکړم.

ما چې د مُلا صاحب خبري واورېدې او بیا مې خپل د کور اقتصادي ستونزو ته نظر وکړ،خدای سته په زړه مې د غُربت تود باد راغی او ډېر خواشیني سوم.د مُلا صاحب د خبرو وروسته دا دی، زه اوس هر کال یو پسه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلالوم او په خلکو يې تقسيموم.

خو دا اړينه نه ده چې، چې زه پيسې لرم او که يا!

خو بايد يو پسه پيداکړم او حلال يې کړم.

او بيا يې خپل د ټولني په مېشتو خلکو باندي تقسيم کړم. ترڅو پيريان خوشاله کړم او ماته د بيا لپاره کوم زيان وانه ړوي.

## د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:

مور تل وايو چي د شپې بايد په هرځای کي چي موږ ناسته ولاړه کوو، بسم الله ووايو. څکه چي دا نوم انسان له ډېرو بلاوو څخه ساتي. موږ د سترگو ليدلی حال وليد چي پر اېرو بې بسم الله کښيناستل څومره تاوان دغه کس تـه واړوی.چي هم مريض سو هم بايد هر کال يو پسه حلال کړي. مهمه نه ده که دی پيسې لري او که نه خو بايد پسه واخلي او حلال يې کړي. نو بايد انسان چي د شپې هرځای وځي بسم الله ووايي؛ او د اېرو څخه ځان ليري وساتي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په سپين کفن کې پېرى!

د توري شپې ډېره برخه تېره سوې وه د مُلا اذانونو ته کابو دوه ساعته پاتي وه!

په گرم کمبل کي پروت وم، پلار مي راغى وېل : بچيه پاسه ورسه مانبام مو هغه کولاغ سهي نه وو تړلى شايد اوبه رايله سوي وي.

زه هم په ماتو بندونو راولاړ سوم او د کولاغ خوا تـه مي حرکـت وکړ.کله چي ورغلم ومي کتل چي د کولاغ په څنگ کـي يـو سـړى ولاړ دى او سـپين کفن يې اغوستى زما خوا ته گوري.

کله چي مـي سـړى وليـد! د بـدن خـواک مـي لـه لاسـه ورکـړ. زړه مـي وربږدېدى. بسم الله ويل مي پيل کړه او شا ته مي رامنډې کړې.

کله چي کورته راورسېدم رنگ مي تک ژړ سوى وو.

پلار مي راته وېل : هلکه څه کيسه ده، چي دومره وارخطا يې؟! کيسه مـي ورته بيان کړه. پلار مي مُسکى سو وېل : د تشويش د وړ خبره نه ده. مه ورخطا کېږه! شايد سترگي دي په کومي وني لگېدلي وي.

زه پوى سوم چي، پلار مي زما د صحت او د نه بېـري لپاره وويـل! کـنې لري چي ونه دي د انسان په شکل خان جوړکړي او بيـا دي ماتـه د انسـان پـه شکل کي ودرېږي ما دي وبېروي.

خو لنډه دا چي ډېر زيات بېرېدلى وم.د خان سره مي پريکړه وکـړه، چي له دې وروسته به يوازي بيا دغـي ځاى ته نه ځم.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لیکوال نظر د کیسې په تړاو :**

د کیسې اصلي اړخ ته که پام وکړو د غفلت څخه رامنځته سوې ده. ولي باید انسان دغه ډول دروند او خطرناکه ځای ته د شپې لخوا ولاړ سي؟! که د اوبو رایله کېدو غم وکړو، نو که ټوله شپه اوبه رایله سوې وای نو هغه به چا تړلي وای؟ د هغو درد به چا دوا کړی وای؟ خو مالومه خبره ده چي د کم فکر څخه دغه ډول پدېدې تولیدېږي او بیا داسي نتیجې په تمه وي چي د هغه جوړېدل او بیه کېدل خورا ستونزمنه وي. په داسي حال کي چي که انسان لږ د عقلي پروسې څخه کار واخلي نو هیڅکله به هم دغسي کار رامنځته نه سي او نه به هم د دومره تاوانونو شاهد و اوسي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډي او واړه پیریان!!

په ژوند کې ډیرې شیان وي، چې پر ته له هغه ژوند ناشونی وي، چې له هغه جملو څخه یو هم کور ته نفقه برابرول دي! که دې نفقه برابره کړه نو ښه دی او که دي برابره نه کړه بیا نو مالومه خبره ده چې په پیدا کولو پسې به یې ګرځې.

په کلي کې مي روزګار سخت سو، مجبوره سوم چې یو خای ولاړ سم چې، هلته غریبي یوڅه ښه وي. یو چا راته یو خای وښود چې هلته ډېره ښه غریبي کیږي.ما هم همداسې وکړل! بلاخره د موخې خای ته راورسېدم. کار مې د خښتو په بټۍ کې پیل کړ.

ورځ پای ته ورسېدل. شپه سوه.ګورم که نه ګورم چې واړه، واړه خلک دي لرګي یې په لاس کې دي او هغه خلک پرې وهي کوم چې یې د ورځې لخوا په بټۍ کې کار کاوه.

ما مې په ناتوانه زړه د دوی تماشه کول. خو لنډي پیریان دومره بې رحمه دي چې نه په ماشومانو دریغ کوي او نه په لویانو او همدغه ورته وایي : تاسې ولې دلته کارکوئ؟! تاسې ولې د شهیدانو په قبرونو پورې ملنډې وهئ ؟!

لنډي پیریان و یوې خیمې ته ننوتل او هلته یې ماشومان ډېر ووهل وروسته د ماشومانو پلار چې ډېر په غُصه سوی وو، و لنډې پیریانو ته یې وویل :که تاسې نران یاست نو ولې ماشومان وهی ؟! ماته راسئ چې نر او ښځه مو مالومه سي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې په کولو سره سپین ږيري سړي ته یو غم جوړ سو او لنډي پیریانو وربانـدې راکـش کـړه سـپین ږیـری سـړی یـې بـنـه ووهـی. بلاخره لنډي پیریانو وویل: چې تر سبا پورې مو دلته ونه وینو! هر څنګه چې کیږي له دې ځای څخه ځانونه ورک کړئ!!

ما چې دا کیسې واورېدې ډېر زيات وبېرېدلم. شپه مو په یـو حـال تېره کړه.په سبا باندې مو امنيتي خواکونه په خبر کړه هغوی هم راغلل او خپل د نا ترسو او وحشي وسلو خولې یې لنډي پیریانو ته وربرابرې کړې.

کله چې دوی څو ټکان وکړل لنډې پیریان پرې را مخته سول، خو جالبه دا وه چې امنيتي خواکونو هرڅه ټکان پرې کول، خو پـر لنـډي پیریـانو یـې هیڅ اغیزه نه کـول.چـې زمـوږ دغــه چــاره د پــیریــانو پـر ورانـدې نـاکـامـه ســوه.

په بله ورځ مو ديني عالمان را وغوښتل او هغوی مو ددغې ضوع څخـه بـا خبره کړه هغوی ورغلل د لنډي پیریانو سره یې مناظره پیل کړه.

پیریانو ورته وویل : چې مـوږ مـسلمان پیریـان یـو او پـر دې خمکـه چـې ستاسې خلک خښتي جوړوي او بیا هغه خښتي سوځوي دلتـه یـو وخـت شهیدان سوي وه، چې ستاسي د خلکو په دغه ډول کار هغـه شـهیدان زورول کیږي.

خو بلاخره دلته بیا هم پیریانو قناعت ونه کړ!موږ وړپـې- بیـا د اسـتوګنې سیمې یو بل مشهور عالم د مناظرې لپاره واستوی.

• دا ځل یې دومره مراعت کړی وو چې، زموږ سره یې یو سرحد مالوم کړ او یوه لویه کربنه مو وکښل چې نه به دوی له هغې سرې کربنې را اوښتل او نه به موږ له هغې کربنې څخه ور اوښتلو.

ما هم یو څو ورځې تیرې کړې او بیرته مې خپل کـور تـه حرکـت راوکـړ. اوس یې مالومات نه لرم چې په هغه سیمه کې به څه شي تیرېږي!

**د لیکوال نظر د کیسې په تړاو:**

د کیـسې نوعیت بیا هم د فکر په سالم رغبنت راڅرخي. انسان نه باید داسې ځای خپل د سـوداګرۍ ډګر وګرځوي چې هلته هم ، دده او هـم یـې د مـال خطر وي. لکه د يادې کیـسې ځای.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بيا چي دغسي واقعه پېښېږي نه بايد دومره مناظرو ته انسان دوام ورکړي چي دا هم يو ناسم کار دی.علت يې دا دی يو ځای چي د دومره خطر شاهد سو نو بيا به په هغه کي د ښېګني راز له کومه پيدا سي؟!

نو بايد انسان د سوداګری په ټولو چارو کي د اسلام مبارک دين احکامو او لارښونو ته پوره توجه وکړي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پـه چيـنه کـي پـيري!!

د شپې د پای برخه وه او د سهار شپېې را لنډېدلې.

زموږ د کور خوا ته يو چينه ده. غوښتل مي خان هغي چينې ته ورسوم او غُسل وکړم همداسي مي وکړل. له کوره مي حرکت را وکړ.

چنه زموږ د کور په پای کي د يوې کوچنۍ غونډۍ لاندي وه.کله چي زه د چينې خوا ته ور نژدې سوم. ورته خبر سوم چي په چينه کي يـو بـل کـس لمبېږي!

زه د چينې څخه پناه د يوه توت ساهې ته کښناستم.ترڅو دغه سړی له چينې څخه راووځي.

د انتظار ډېر حد مي تېر کړ د شنه اسمان ستورو تـه مـي کتـل ورو، ورو کمېدل.يوی سوم چي سړي زيات وخت تېر کړ سر مي ور پورته کړ او ومي توخل!

خو شېبې وروسته سړی د چنې څخه راووتی ما ورته پخپلـو سـترګو کتـل، کله چي سړی راووتی يوځل لوی سو او بيا لنډ سو!!

دغي چارې مي د زړه رګونه يو له بله سره ووهل.

ما ددغې وحشي او ډارونکي شپېې تماشه کول چي سړی زما د سترګو پر وړاندې خای پر خای نادرکه سو! حالت مي نور هم نازک سو!! ددې پر خای جي چـينې ته مخه کړم.

کلېمې مـي پـر خـان شروع کـړې او د کـور پـر لـور مـي پـه يـوه ناورين حالت کي حرکت راوکړ.وخـتونه ډېـر ووتل خو تر اوسه مي د هغه وام اغېزه په زړه کي ده.

او هر وخت راته د بې وسی احـساس راکوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لیکوال نظر د کیسې په تړاو:**

د کیسې د نوعیت اړخ دا دی چې د بـــې احتـــیاطـــۍ څخه پېښه سوې ده. انسان نــه بــایــد پــه دې ډول حـــالاتـــو کـــي د شپې لــــخوا و چیـــــنې تـــه راووځي.

په داسي حال کي چي پېری تل په چینو باندي ګرځي او را ګرځي.

نو کله چي په دې پوهېږو چي پېری تل پر چینو او اوبو باندي ګرځي، نو ولي دغسي خالاتو کي چینې ته ځو؟

نو پایله یې مالومه سوه چي،تاوان یې خپل د لاسه ورپېښ سوی.نو ځکه خو مشرانو هغه متل ویلی چي : خپله لاسه ګله لاسه!

یاني اکثره وخت خپل د لاسه انسان ته پېښېږي!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (( ۹ )) کلن هلک او د پيريانو بازار!!

د تنکۍ او غوړېدلې ځوانۍ پر دُرشل يې نوې پښه ايښې وه. مور وغوښتل چې په دغه ګُل باندې د مکتب چاپېريال ښايسته کړو. چې بلاخره مو مکتب کې شامل کړو.

ځيني پوهان نظر لري او وايي : چې په ژوند کې په ورځې پسې-شپه سته.په بهار پسې خزان سته.په انسان پسې تاوان سته. ځيني د سترګو نظر لري او ځيني بيا په سترګو کې خنجر لري.

يو ورځ مور د کور و مخ ته خپل د سوپې سره ناست وو. پر ټولنيز ژوند مو خبرې کولې.

او پر يو او بل مو سندرې کولې. مور د خور مجلس په دوام کې وو، چې زمور د کور شهزاده راغی.

هغه شهزاده چې پورته مو لږ تعريف ورڅخه وکړ. مور مې ورپاڅېدل او وې غوښتل چې ښکل يې کړي چې په يو خل هلک پورته سو او وخمکې ته بيرته ګوزار سو! مور او زمور د کورنۍ غړو پرې ورمنډه کړه او چغې يې پرې پيل کړې!

که څه هم دا پېښه مور ته نوې نه وه خو بيا يې هم وردردولو ځکه چې زمور د کور ماشوم او شهزاده همدغه کس وو. بلاخره مو هلک راپورته کړ او سپين د نور ځخه ډک مخ مو له تورو او بدرنګو خاورو څخه ورته پاک کړ.

مور د تل په څېر پوی سو، چې ګزار پيريانو ورته ورکړ. ځکه چې هر وخت به ورته پيريانو دغه ډول بې رحمه ګوزار ورکوی.يوه ورځ بل بيا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغسې کيسه پېښه سول.مازديګر وو مور مې ډوډۍ پخول ورور مې ورځنې ورته وېل : مورې ! يوځه ډوډۍ خو راکړه وږی سوی يم!

- مور مې : ودرېږه زويه اوس به ديګ پوخ سي، د خوړو سره به يې يو خای وخورې!

- ورور مې : مورې ډېر وږی يم خدای خبر ديګ کله پوخ سي! بس وچه ډوډۍ راکړه خورم يې.

- مور مې : ودرېږه زويه پر تا باندې څه سره ده چې دومره بېړه کوې!

د مور په دې خبره مې ورور باندې بيا هغه څپه راغله. يو خل پورته سو او له خمکې سره ولګېدی. پلار مې مشر ورور ته امر وکړ چې په منډه ولاړ سه او د کلي پير خبر کړه او ورته ووايه :پلار مې درپسې-را استولی يم، ما ته‌وله موضوع له وړاندې ورسره شريکه کړې ده.

ورور مې هم پرته له کوم ځنډه د پير صاحب خوا ته ورمنډې کړې. مور را منډې کړې، مظلوم او بې وسه شهزاده مو را پورته کړ. په مظلومو او بورو سترګو کې يې د بې وسی جملې له ورايه ښکارېدلې!مور مې ورته په ژړغوني اواز ووېل : بچيه ستا تر مظلومو اوښکو جار سم، ما خو ستا خخه ډوډۍ نه وه ګرځولې! خو ماوېل د ديګ سره به يې يو خای وخورې.

زما پر مظلوم ورور چې پيريان حاکمان وه.

زما و مور ته يې ووېل :چې ستا زوی نه وو وږی، بلکې موږ وږي وو.

- مور مې : سمه ده چې تاسې وږي واست خو ما دا بهتره وګڼل چې د ديګ سره يو خای ګرمه او پسته ډوډۍ وخورئ.

پيريان : اې سپين سرې ښځې ! ستا پکې کار نه وو. موږ چې هر ډول غوښتل تا بايد هغه تر سره کړي وای.

موږ مو د ګلالي ورور په بدن کې پټ پيريانو سره په مباحثو کې وو، چې مشر ورور او پير صاحب يو ځای را ورسېدی.

کله چې پير صاحب را ورسېد، ورور مو خای پر خای سم سو. پير صاحب د حال پوښتنه وکړه چې څه کيسه ده؟!

موږ ورته د تيرې شېبې کيسه بيان کړه. پير صاحب ووېل :تاسې لږ ليرې خای ودرېږئ! چې زه خپل کار تر سره کړم! موږ همداسې وکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیري ودرېدو.

پیر صاحب مي ورور ته ور نژدې سو. زما ورور یې د شهادت د ګوتي تر سر ونیوی او دمُونه یې شروع کړه. چي بس په یـو خـل مـي بیـا ورور تـه پیریـان راغله!

پیر صاحب خپل په دروند لاس زما ورور په خپېره ووهـی. مـوږ پـوی سـو چي په اصل کي یې پېری ووهی. پیر صاحب زما د ورو په بدن کي پټ پېري څخه پوښتنه وکړه : تاسي څوک یاست او ولي دغه ګلالی ماشوم زوروئ؟

پیریان : پیر صاحب موږ هندوان یو! او دغه هلک مو خوښ سـو نـو ځکـه یې زوروو.

پیر صاحب : نور مو دلته ونه وینم چي، دا هلک بیا و زوروئ، کنې کار مـو درکوم!

پیریان : سمه ده پیر صاحب بیا به نه کوو. له دې وروسته به له دې هلـک سره سر او کار نه لرو.

د پیر صاحب دغه د مونو تر یوې لنډې مودې پوري ګټـه وکـړه. د یوځـه وخت وروسته مي بیا پر ورور باندي پیریان بنکاره سول.

دا ځل یې د پیر سره هم درمل نه وو. یو خـوا بـل خـوا مـو منډې تـرړې وکړې، خو کومه پایله یې ورنه کړه. یوه ورځ مي پلار ته چا په غزني ولایت کي یو زیارت ښودلی وو.

پلار مي تر یوځه وخت وروسته همداسي وکړل. زما ورور یې د غزني هغـه زیارت ته راوستی. د غزني ددغه زیارت ګټه دا وه چي هغه کسانو چاره به یـې کول چي پیریان به یې درلودل.

پلار مي کیسه کوي چي کله چي مي راوست نو په هغه زیارت کـي مـي د دوو ساعتونو لپاره بندي کړ او وروسته ورغلم را ومي ویـستی، چـي رک روغ دی.

بلاخره یې زما ګلالی ورور کور ته راورسوی. زما یو اکا یې پوښـتني تـه پـه هغه ساعت راغی او زما پلار ته یې مبارکي ورکړه. اکـا مـي و پـلار تـه وویـل : مبارک دي سه وروره، وراره خو مي ماشاءالله جوړ دی!

پلار مي : مننه ژوندی اوسې وروره. هو وروره بس دا ځـل مـي داسي کـار

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ چې په ژوند به بیا پرغ اغړ ونه کړي.ددې سره مې یو خل بیا ورور په قبر سو او زما د پلار خوا ته یې وویل : اې سپین ږیری! هیڅکله دا خبره مه کوه. مورږ هیڅکله ستا د زوی خځه نه خو!

مورږ پوی سو چې بیا هم هغه پیریان دي او زموږ ګلالی پرغوي اغړوي.

ددې خبرې په کولو سره مې د پلار پر مبارک مخ د خپګان ګونځي له ورایه ښکاره سوې.ځکه چې د نازولي زوی دغه افت ډیر زوروی.د پلار تر ځنګ زموږ نور د کورنۍ غړي هم ډیر پریشان وه.

ټل مو خپل د ورور غمجنه او مظلومه خبره په ذهن کي انځوروله او دغي چاري به موږ ته ډیر یې دربغه غم راکوی.

د اقتصادي، ټولنیز، طبي ،سیاسي او فرهنګي ستونزو تر څنګ مو خپل ددغه ماشوم غم پر اوږو اضافي بار وو.

خو دا ځل د خدای ج فضل وو نسبت و پخوا ته ښه سو! هر کله به چې پیریان ورباندي راغله موږ به ورسره خپل باندار کوی.

ددغه باندار لړۍ تر دې حده اوږده سوه چې زما ورور په ټول چم او ګاونډ کي مشهوره سو.بس اوس مو هم همدغه ژوند دی تیریږي.

خیني وخت مې په ورور باندي خپل ساعت تیروي او خیني وخت یې یو ځای بل ځای بیايي.

خو د شکر ځای دا دی چې اوس یې د زیارت ځخه راوېستلو وروسته بیا نه دی په عذاب کړی.

**د لیکوال نظر د کیسې په تړاو :**

کیسه مو ولوستل په رښتیا هم د درده ډکه وه.خو پر دې دنیا ځیني داسي شیان ډیر سته چي و انسان ته د سر دردی ستر لاعل ګرځېدلي وي.

چې ژوندی بیلګه یې د همدغي کیسې د لوښاړي ورکولی سو،خو ددې هرڅه حل دا بولم چي د اسلام مبارک دین د هر درد دوا دی او د هر درد وضاحت پکښې سته.چې ددغه درد او کیسې درد هم پکښې دی.

نو لازمه یې بولم چې ددغه هلک درد باید دده کورنۍ د اسلام مبارک دین په اړوندو لار ښونو سره کړی وای!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غـوا په بـنه پـېرى!!

د سېمه ايز دود او رواج له مخې به چې هر کله چا زموږ په کلي کې د کوز دې وروسته نيم ولور ادا کړ، هغه زوم کولی سوه چې د خُسر کور ته ازاد تګ را تګ وکړي.

ما هم دغه مرحلې بشپړي کړې وې او د ځوانی پر دُرشل مې تازه پښه ايښې وه.

يوه شپه د خُسر د کور خځه را روان سوم خپل د کور پر لوري.

يو زوړ بايسکل مې پلار راته په ډېر ناز او پياز اخيستی وو.زما د مزل د لارې جوړښت داسې وو چې توله لار د انارو باغونو اخيستې وه.

زه هم د ځوانی په نشې کې وم د بېرې او خطر احساس مې د سره نه پېژندی. وړاندې له دې چې خپل کور ته ورسېږم، فکر مې وکړ چې شايد بهتره وي چې د کور نه مخکې بايد په کارېزکې ولمبېږم.

بلاخره بريکړه مې وکړه او د کاريز خوا ته راغلم. بايسکل مې د کارېز غاړې ته ودروی او په اوبو ور ګډ سوم.

وخت هم داسې دی چې د شپې ډېره برخه تيره سوې وه.

سبوږمی پر شنه او د خالونو ډک اسمان کې ځلېدله او رڼا يې د ځمکې ډېره برخه نيولې وه ماته يې خپل د مينې د ياد تصوير راتازه کوی.

او داسې فکر مې کوی چې زما مينه زما سره خوندې ده راته لېرې نه ده. ددغې شپې سبوږمی دومره ښايسته وه چې د ښايست انعکاس يې د الله ج تر بنده ګانو رسوی.

ما يو څو غوپې/غوټې ووهلې او سر مې را پورته کړ تر څو د سترګو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې اوبه پاکې کړم پام مې سو چې، د کاريز په يوه اړخ کې يو عجب خيز لميږي!!

ټول بدن يې د غوا دی خو سر يې بيا د انسان دی!

کله چې مې دا حالت وليد ډېر زيات يې وويرولم!

زړ مې پر خان باندې حياة کرسې شريفه وويل او ځپ مې کړل.

په ډېر بېړې مې د اوبو خخه خان را وويستی او بايسکل مې پرې سوی جامې، مې را وا خيستلې او د کور پر لور مې رامنډه کړه.

کله چې کور ته را ورسېدم وضعيت مې ډېر زيات خراب سو مور مې را وينه کړه او د تيرې سوې صحنې کيسه ور واورول.

هغې راباندې خبل د مهرباني پوړنې وغوړوئ او په کمپلونو کې يې پټ کړم.په سبا باندې ورغلم او خپل پاڼې سوی بايسکل مې را ويستی .

## د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:

مور تل وايو چې د خوانۍ مرحله ډېره د نښې مرحله ده.

خو دغه نه بايد د عقل د پروسې خخه نه وي ليرې ! خکه چې هر هغه خه چې د عقل د پروسې سره اړيکه ونه لري ممکن ډېرې ستونزې را ولاړې کړې لکه پورتنی کيسه!

که چېرې هندغه کس شرم نه وای کړی او راغلی وای خپل کور ته او په راحته لمبدلی وای نو دومره وام او ېېره به له کومه کېدل!!

په داسې حال کې چې ده د شرم د سرحد خخه هم پښه ور واړول.دده د کورنې په شعول بې د خر کور کورنې هم خبره سول، نو دلته شرم ډېر سو که کم!

نو بايد هره پريکړه د عقل د پروسې سره ډېره اړيکه ولري! او که ليرې وي نو مالومه خبره ده چې، دغسې ناوره کار به ورسره کيږي.

او بيوه بله مهمه خبره دا چې خښې هغه رواجونه چې بې مانا دي او ددې ملت د هرڅې کړنې پر خلاف دي بايد له منځه ولاړ سي، خکه چې نر گټي بې تاوانونه زيات دی. پرته له دې چې خلکو ته ستونزې جوړې کړې نه گټه لري او نه هم د چا په خير دی، چې ژوندی بيلگه يې پورته کيسه ورکولی سو.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غـــرور او بـــې اعتـــباره ملگـــرى !

خيني کسان ادعا کوي چې نړۍ ښايسته ده. شايد دا هغه کسان وي چې د ژوند په أصولو پوهه وي، خو خيني بيا ددې خبرې برعکس فکر لري او وايي چې نړۍ بدرنگه ده! هغوى هم مُمکن يو عقلي فکر او دليل ولري.

دوه ملگري وو! يو احمد نومېده او بل محمود نومېده.

احمد او محمود دومره خواږه وه چې د چم او گاونډ هم پکښې فکر سو. دوى به چې د ژوند هره کړنه ترسره کول يوله بل څخه به يې سلا او مشوره اخيستل.

آن تر دې چې يو بې ژوند وو او بل يې هم اکسيجن ! دوى به جامې، خواړه، کره او وره ټول يو ډول کول. دغه دوو نانداارو او بې شانو ملگرو د ډېرو خلکو توجه خانونو ته راجذب کړې وه.

حتى تر دې چې چا به هم انډيوالي کول نو دغه به يې ويل : چې نر سه د احمد او محمود په څېر انډيوالي وکړه !!

ژوند وو تېرېدى يوه ورځ احمد و محمود ته وويل : محموده ! که ته چيري پاچا سوې نو زه به دي لومړى وزير يم ؛ که زه چيري پاچا سوم نو ته به مي لومړى وزير يې!

- محمود : سمه ده د زړه سره تر دې خو ښه او بهتره خبره نه سته! ته تل خپل د خان په ډول ښايسته خبري کوې.

ژوند دى تېرېږي لمر ولوېږي شپه سي او سپوږمۍ پناه سي بيا لمر را پورته سي!

وخت داسي راغى چې احمد او محمود يو او بل سره لا درکه کړل. يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت محمود په ښار کې تیرېږي ګوري چې احمد به چیرې پیدا کړم! په دغه وخت کې اخبار پلورونکی منډې وهي او همدغه وایي : اې مسلمانانو خبر سئ چې د هیواد نوی پاچا و ټاکل سو.

ما هم د اخبار پلورونکي څخه یو اخبار را نیوی، تر څو وې ګورم چې دا اوس کوم بختور سړی دی چې پاچا سوی دی! کله چې مې د اخبار و اولي پاڼې ته وکتل چې نوی پاچا احمد ټاکل سوی! ددې خبر په کتو سره مې د خوشالي اوښکې بې اختیاره جارې سوې. ما ویل دوې ګټې مې وکړې یوه ګټه مې داده چې خپل د زړه ټوټه احمد مې پیدا کړ او دوهمه ګټه مې داده چې پاچا سوی دی!

د ځان سره مې پریکړه وکړه ،چې تر هغې به نه ورځم د احمد مبارکۍ ته، تر څو چې هغه د ټول هیواد و پوځ ته امر نه وي کړی چې ورسئ محمود را پیدا کړئ!

یوه شپه را باندې یو کال تیرېږي خو د احمد یو عسکر هم یوه ورځ راته ونه کتل. فکر مې وکړ چې داسې نه وي چې احمد د پاچاهۍ تاج مغروره کړی وي، زه به یې هېر کړی یم!

بیا مې فکر وکړ چې شاید دا وسوسه راته شیطان پیدا کړې وي!! احمد کله کولی سي چې زما غوندې یار هېر کړي؟!

بیرته مې فکر وکړ که احمد زه نه هېرولی اوس به یې ما کوم عکس العمل لیدلی وای.

خو بلاخره مې پریکړه وکړه چې ورځم به او د احمد سپیني ماڼۍ مخ ته به کښېنم. خپل فکر او زړه ته مې ځکه قناعت ورکړ چې شاید احمد خپل د پاچاهي په کارونو کې ډېر بوخت وي نو ځکه به یې زه هېر سوی یم.

د یو څه وخت په تېرېدو سره را ورسېدم د احمد د ارګ هغه سپیني ماڼۍ ته چې دی پکښې دی او د سپیني ماڼۍ مخ ته یې یو لوی غټ چینار وو. هغه چنار ته مې تکیه وکړل. فکر مې وکړ که احمد په رښتیا هم زه نه وم هیر کړی اوس به مالوم سي.

ځکه چې کله چې احمد تیرېږي نو چینار ته به وګوري او زه به د چینار په پای کې ناست یم. بس به ماته را ږغ اغږ کړي او زه به ورته بیا خپل ګیلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



باني وکړم. خو جالبه دا وه هر کله چي به احمد تېرېدی هیڅ به یې زما خوا ته نه کتل په داسي حال کي چي زما د سترګو پر وړاندي تېرېدی!

خو خیر زه په دې پوره ډاډه سوم چي زه مي احمد هېر کړم!

راغلم خپل غریبي جونګړي ته او خپل د ژوند شپبو ته مي دوام ورکړ. یو وخت وو چي وا مي ورېدی چي احمد د پاچاهی د تاج څخه کښته سو او بل پاچا کس یې پر ځای پاچا سو!!

دغه خبر هم خوشاله کړم هم یې خپه کړم. خوشاله یې ځکه کړم چي اوس به په اساني سره وکولی سم چي د احمد سره ووینم او خپه په دې سوم چي احمد د پاچاهی د څوکی څخه کښته سو!

په داسي حال کي چي احمد زما سره دوستي ونه پالل . خو ما لا بیا هم دده په اړه د پخواني ملګرتیا شېبې را یادولې.

بلاخره یوه ورځ په ښار کي روان وم چي احمد مي په مخه راغی! د ډېر تعجب څخه مي د خولې څخه اه ووتی! او غاړه په غاړه سوو!

راغلو د ښار په یوې برخي کي کښېناستلو او بیا مو د پخوا په څېر په کیسو پیل وکړ! خو له بده مرغه دا ځل یې هغسي خوند نه وو! احمد ته مي وویل :ورورکه جوړ یې؟!

- احمد : شکر دی وروره ښه یم! ته څنګه یې؟

- زه : مننه زه هم ښه یم! اې ظالمه وروره ته دومره وخت چیري وې؟!

- احمد : وروره! زه خو پاچا سوم! داسي مي وکړل او هاسي مي وکړل....

- زه : نو تا ولي زه هېر کړم؟! زه خو ستا هغه نازولی ورور وم!

- احمد: نو ته چیري وې ولي زما مانۍ ته نه راتلې؟! او اې وروره بس کله چي مي پاچاهي شروع کړه فکر مي ټول و عشق عشرت ته سو، پلار مور ټول راڅخه هېر سول....

- زه : نو زه چي ستا د مانۍ هغه سپین لوی غټ چینار ته هره ورځ درتلم، تا ولي ماته ږغ/غږ نه کوی؟!! په داسي حال کي چي ماته لېدلې او زما څنګ ته به تېر سوې!!

- احمد : چینار ؟! کوم چینار ؟! چینار خو زما د ارګ په سپیني مانۍ کي نه وو!!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چې فکر وکړ چې احمده! د پاچاهۍ تاج دومره غرور تاته در بخښلی وو چې تا خپل په مانۍ کې د دوه درې سوه میتره په اندازه لوی چینار نه لیدی نو زه به دې څرنګه لیدلی وای چې زه د هغه چینار په پـای کـې ناسـت وم؟!!

وروسته پوی سوم چې ژوند ربښتیا هم بدرنګه دی او د هغـه کسانو خـبره مـې سل په سله ومنل چې ویلي یې وو : ژوند بدرنګه دی!

ښکه چې ما سره چې یو داسې ملګري ناځواني وکړه چې زه هغـه تـه د سر او مال نه هم ورتېر وم.

پر هغه ځای مې احمد ته مخ ور واړوئ چې ته ملامت نه یې !!

ستا سترګې د یوځو ورځو قدرت دومره ړندې کـړې وې چـې زه دې هم ونه لیدم ته چې زما د ښې ورځې په کار را نه غلې نو په سختۍ خو مې بېخې په کار نه راځې !!

پر هغه ځای مـې د احمـد سره د وروسـتي ځـل لپـاره لاسـونه ورکـړه او د دوستۍ مزې مې ورسره د تل لپاره پرې کړل! ښکه چې یو څوک چـې ستا د وروری او ملګرتیا محبت د قـدرت لپـاره هـېروي نـو سبا بـه حـتمن هغـه تـا هېروي. چې ددې پایله ما ولیدل!!

ژوند بدرنګه دی او په چا باندې په ژوند کې هم تر ډېره اعتبار مه کوئ!!

د لیکوال نظر د کیسې په تړاو :

غرور هغه بد مرغه مرض دی: هر انسان ته چې یو ځل دا مرض پیداسې بیا یې درملنه ډېره سخته ده.

غرور پرته له الله ج د بل هیچا سره ښوند نه کوي! ښکه چې انسان که هـر څومره وي بیا هم یو او بل ته اړتیا پیدا کوي خو، الله ج هیچا ته اړتیا نه لري.

موږ ولیدل چې د غرور پایله دا سوه چې احمد د محمود غوندې ملګـری له لاسه ورکړ.نو انسان ته په ژوند کې په کار ده چې د یو مېړې پر وړاندې هم غرور ونه کړي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیت صفا؛ منزل اسان !

دیني عالمان تل وايي : چي تاسي همیشه د الله ج ښځه خیال په مل کې
برکت وغواړئ. ځکه چي الله ج خورا مهربانه ذات دی!
پخوا زمانه کي یو پاچا وو. یوه ورځ یې پریکړه وکړه چي د ولس او حاکم
احوال مالوم کړي! د غریب جامې یې واغوستلې ځان یې ، یو ملنګ با ځبر
جوړ کړ او یو کلي ته راغی.
په کلي کي هر کور ته درېدی خو چا ورته د شپې ځای نه ورکوی بلاخره
د غریب په جامه کي پټ پاچا چي ډېر ستړی سو، د یو شریف او غریب سړی
کور ته ودرېدی او دروازه یې ورته وټکول.
د کور خاوند راووتی ګوري چي په دروازه کي یو ملنګ سړی، ولاړ دی! د
کور صاحب چي محمد نبي نومېدی د ملنګ ښځه یې پوښتنه وکړه : مهرباني
ملنګه! تا څه ویل چي دروازه دي وټکول ؟!
- ملنګ : هو وروره! زه یو ملنګ سړی یم په ټول کلي کي وګرځېدم خو
چا راته د شپې ځای رانه کړ! که چیري تاسي راته د شپې ځای را کړئ نو ډېر
به مو مننداوی سم.
- محمد نبي : هو ولي نه ! دا خو دومره لویه خبره نه ده، هر کله راسئ!
بلاخره محمد نبي، ملنګ کور ته راوستی او خپل غریبانه ډوډۍ یې ورته
راوړه.ملنګ چي په اصل کي پاچا وو. د محمد نبي سره یې بانډار شروع کړ!
ملنګ د کور د خاوند ښځه وپوښتل : وروره که بده نه وي، ستا نوم څه
دی؟
- د کور خاوند : ملنګ جانه زما نوم محمد نبي دی او ددغه کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېدونکی یم!

- ملنګ : نه ډېر نه! ډېر نه! تاسي د ډېري شريفي کورنۍ خاوند یاست!!

- محمد نبي : مننه ملنګ جانه! که تاسي نه په تکليف کېږئ، خپل نوم راته ووایاست!

- ملنګ له خان سره مُسکی سو ویل : وروره په نوم پسې مي مه ګرځه! خو بس دومره چي زه ستاسي د هیواد يو غريب پاچا يم! دا نو تاته بنه مالومات سته چي ستاسي د هیواد پاچا څه نومېږي!!

محمد نبي چي کله دا خبره واورېده ډېر حيرانه سو چي اوس څه ووايي !! و پاچا ته يې وويل : تاسي په رښتيا زموږ د هیواد پاچا یاست؟! نو بیا ستا سره ولي خانګړی پوځ او عسکران نه سته تر څو ستا ساتنه وکړي؟! او ولي مو د ملنګ جامې اغوستي؟!

- پاچا : هو! زه پرته له شکه ستاسي د هیواد پاچا یم ! ما څکه خپل د خان سره پوځ او عسکران راونه ويستل چي زما ساتنه يوازي الله ج کوي! او ما څکه دا جامې اغوستي دي چي خپل د هیواد د خلکو د حال او احوال څخه خبر سم او هغوی را باندي پوی نه سي !!

بلاخره پاچا او محمد نبي د شپې تر ډېره کښېنا ستل او کيسې يې وکړې! پاچا و محمد نبي ته وويل : ته به سبا ما سره څې زما ارګ ته! تر څو زه ستا حق ادا کړی سم! ددې خبري په کولو سره محمد نبي ډېر خوشاله سو او د پاچا سره يې ژمنه وکړه چي زه درسره ځم!!

محمد نبي راغی خپلي مېرمني ته يې ټولي کيسې بيان کړې! مېرمن يې هم ډېره خوشاله سوه او د محمد نبي پر تګ يې ټينګار وکړ چي د پاچا سره حتمن ولاړ سه، څکه چي له هغې خوا به خدای خبر څومره ډېر زر او زېور درکړي؟!

بلاخره ورځ سوه پاچا او محمد نبي يو ځای حرکت را وکړ ، تر څو ارګ ته را ورسېږي! د يوڅه تګ وروسته پاچا او محمد نبي د ارګ سپيني او ښايسته ماڼۍ ته را ورسېدل.

کله چي دوی سپيني ماڼۍ ته را ننوتل. محمد نبي د ارګ د خانګړي پوځ و حرکاتو او منظموالي ته چي وکتل هوش يې له سره څخه ليري سو!!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمد نبي ښځې چي په کلي کي له خوشالي څخه شپېلۍ وهلې.د ټول کلي خلک يې خبر کړه چي زما خاوند پسي پاچا راغلی وو او هغه ته يې مېلمستيا کړې او ورسره ولاړی!.

د کلي خلکو چي مالومات وکړه وروسته پوی سول چي د تيري شپې ملنګ په اصل کي پاچا وو، چي موږ يوه هم ورته د شپې کولو ځای ور نه کړ،خو محمد نبي ورته ځای ورکړی، هغه دی هغه يې اوس له خانه سره د ارګ ماڼۍ ته بيولی! او خدای خبر چي پاچا به محمد نبي ته څه شي ورکړي وي؟!

دوی بلاخره پريکړه وکړه چي کله محمد نبي راغی نو يو ځای به ورته پټ کښېنو او تماشه به يې وکړو چي پاچا څه شي ورکړي دي!!

محمد نبي د ارګ د سپيني ماڼۍ خوند او قند نشه کړی وو.

د دنيا غم او چم ورڅخه هېر وو. ماښام سو. محمد نبي ګوري چي پر سترخوان باندي د نړۍ ټول نعمت او محبت پروت دی.

شپه پای ته ورسېدل. سهار سو د مُلا د اذانونو وخت سو. د پاچا خدمتګاران راغله او پر ما يي ږغ/غږ وکړ، چي محمد نبي پاسه لمونځ وکړه! زه هم را ولاړ سوم.ترڅو لمونځ وکړم.

کله چي مي اودس وکړ غوښتل مي چي لمونځ وکړم د پاچا و څنګ ته ودرېدم او نيت مي وتړی! پاچا لمونځ خلاص کړلاسونه يې د دوعا لپاره لپه کړه.

او داسي دوعا يې وکړه : اې پر کايناتو، انسانانو، پيريانو او دنيا وو واکمن ذاته! زه ستا يو غريب او بې وسه بنده يم، زه پر ته ستا څخه نيمګړی يم، ته راباندي خپل د مهرباني رحم مه سپموه !!

کله چي مي دا حالت وليد چي پاچا لګيا دی الله ج ته خواست کوي! له سترګو مي اوښکي بې اختياره رواني سوې! د ځان سره مي فکر وکړ چي موږ خومره نا اهله! انسانان يو چي هيڅکله د الله ج څخه د يو شي غوښتنه نه کوو او د هغه د يو بنده څخه يې بيا غوښتنه کوو.

د پاچا دغه حالت ډېر وژړولم او د ځان سره مي وويل :پاچا لا د الله ج څخه روزي غواړي او له هغه څخه د ژوند د ضرورتونو غوښتنه کوي. په داسي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال کې چې پاچا د ټول هيواد واکمن دی!

له خان سره مې پريکړه وکړه تر هغې چې خدای ج راته زر او زيور نه وي راکړي نو د پاچا ښځه به کومه ډالۍ نه اخلم.

وخت داسې راغی چې د پاچا ښځه را رخصتېدم.

پاچا خپل د خزانې مشر ته وويل : ورسه د بيت المال د خزانې ښځه و محمد نبي ته بنه ډېرې پيسې او زيور ورکړه حتی تر هغې چې پخپله محمد نبي ووايي بس دی !

ما و پاچا ته وويل : پاچا صاحب ! ډېره مننه . ژوندی اوسې ماته ستاسې هرڅه را ورسېدل بيا هم مننه کوم. خو زه هيڅ ته اړتيا نه لرم.

بلاخره د پاچا صاحب ښځه خپل د کلي او کور پر لوري را روان سوم او دغه فکر مې له خانه سره وکړ ترڅو چې الله ج راته خپل په کور کې دننه زر او زيور نه وي راکړی نو د بنده ښځه به يې هيڅکله ونه غواړم.

پر لارې را روان وم ډېر ستړی سوم. يو ځای کښېناستم تر ځو دمه وکړم فکر مې په دې کې سو چې کله به کور ته ورسېږم؟ تر څو مې مېرمنې ته ټوله کيسه وکړم!

په همدغه فکر کې وم او خپل په لاسونو مې د خمکې خاورې اخوا دېخوا اړولې ؛ گورم چې تر خاورو لاندې د يو طلايي کوزې سر بنکاره سو! خاورې مې نورې هم پر له واړولې او کوزه مې ترې را وويسته!

د کوزې سر مې خلاص کړ ومې کتل چې د سرو طلا وو ښځه ډکه ده!! بير ته مې کوزه واخيستل او په هغه خاورو کې مې پټه کړه! او ومې ويل :

ای د کايناتو خالقه ! ته په رښتيا هم مهربانه يې! زه ستا ښځه ډېره مننه کوم، خو تر هغې چې دې دغه طلا وې ماته خپل په کور کې نه وې راکړې، ستا په سپېڅلې ذات دې مې قسم وي که يې بل هيڅ ځای هم وغواړم.

کوزه مې تر خاورو لاندې پرېښودل او د کور پر لور را روان سوم. کله چې کور ته را ورسېدم. مېرمنې مې له وخته لا انتظار کوی! بلاخره مې ټوله کيسه خپل مېرمنې ته وکړه!

چې داسې ولاړم داسې راغلم او داسې کوزه مې پيدا کړه را وا مې نه خيستل.....!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نو مه کوه په دې وخت کې مې د کلي ځينو خلکو لا د وختي څخه زما د کور پر بام ناست وه او غوږ يې نيولی وو، تر څو په دې پوی سي چې ماته پاچا څه شي ورکړي!

هغوی چې زما خبري اورېدلي وې نو ټول په منډه تللي وه هغه ځای ته ؛ چېري چې ما کوزه موندلې وه!

خو بس د خدای ج راکړه ورکړه ده!! چاته يې ورکوي او چاته يې نه ورکوي.

کله چې دوی هغه ځای ته رسېدلي وه ، کوزه يې له خاورو را ايستلي وه، د کوزې سر يې خلاص کړی گوري چې په کوزې کې د طلا وو پر ځای سرې زهر ناکه مُچۍ /غالبوزي دي او ټول يې شکولي/ وهلي وه.

دوی ته چې ډېره غُصه ورغلې وه، پريکړه يې کړې وه چې د مچيو ډکه کوزه به بېرته د محمدنبي کور ته ور وړو او د بام څخه به يې پر کولک ور غورځوو، چي ددې سره به د هغه کورنۍ هم مُچۍ و شکوي. څکه چې محمد نبي پوهېدی چي، زموږ سره يې دغسي لوبه وکړه.

زه مې د مېرمني سره په لانجه کې وم چي د بام د خوا څخه يوه کوزه زما د خوني په منځ کي را ولوېدل او ددې سره شرنګ سو!

سرې طلا وي د خوني ټولو اړخونو کي خپرې سوې !!

مېر مني ته مي وويل: چي اوس يې نو را ټولي کړه!ما خو درته ويلي وه چي الله ج به يې ماته خپل په کور کي دغه ډالۍ راکوي؛ هغه دی نن هغه کار وسو!!

د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:

الله ج چي انسان پيدا کوی نو د رزق ورکولو ژمنه يې هم ورسره وکړل.

موږ که پورتنۍ کيسې ته وګورو همدغه خبره پکښې رانغښتې ده، خو دلته د رزق تر څنګ بنده ته دا خبره ډېره مهمه ده چي بايد د زړه اخلاص او صداقت د الله ج پر وړاندي ولري.

لکه : د پورتنۍ کيسې لوبغاړي چي درلودل.

پاک، صفا او ايماني کلک هوډ د الله تعالی ج پر وړاندي هغه څه دي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي، انسان د بريا څوکو او سرحد ته رسوي او الله ج داسي ذات دی چي
خورا مهربانه دی او خپل بنده هيڅکله هم نه نا اُميده کوي.

هغه د پخواني خلکو يو شعار وو او اوسني خلک بيا د متل په څېر ورڅخه
استفاده کوي او وايي چي :

راست اوسه ناست اوسه!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شـــهزاده مـــزدور!

نوي مي سترګي پرانيستي وې. ددې نړۍ خوند ته مي يوخـه تـازه سر ور ښکاره کړی ؤو!

پلار مي د مرميو او وسلو سوداګري کول.

دومره پيسې به يې ګټلې چي حد او سرحد پرې تمام وو.پلار مـي د وسـلو پيسو دومره نشه کړ چي بل واده يې وکړ. زه هم د ژوند په اصُولو دومره نـه وم پوه خومره چي يې ضرورت وو.

د انقلاب په لمن کي پراته انسانانو به تل د خپلو هغه کورنيو د غـړو د کـور ته راتګ شپې شمارلې، چي له کور څخه به د يوخـه روزۍ د لاسـته راوړولـو لپاره وتلې وه.

مورِ هم خپل د کور د مشر د راتګ شپې د لاس پـه ګوتـو شـمارلې ترڅـو روغ او جوړ کور ته را ورسيږي.څکه چي زما د پلار دومره بې رحمه او بدبخته دنده وه چي هره شېبه به يې د خطره ډکه وه.

پلار چي به مو کله کور ته راغی وروسته به مو زړه پر پښتيو سـو چـي بـس شکر روغ دی! ژوند او خوند وو تيرېدی به ! ورځ به شپه سوه او شپه بـه ورځ سوه!

پلار مي هڅه وکړه چي ګټلي پيسې پر يوه سم ځای ولګوي! زمـوږ د کـور په څنګ کي يې زموږ د يوه ګاونډي څخه دوه جريبه ځمکه رانيول.

په بله ورځ يې زما مشر وررو ته کوزده وکړ.

همدغه ژوند مي روان وو خوښ او خوشاله وو. کله به مي خپل د سيمي د جګړو تماشې کولې کله به مي د تنکيو ځوانانو د جنازو کيسې کولې.

يوه ورځ مي پلار د کـوم وسـله وال قومنـدان سره پـر کومـه خبره لفظـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخړه وکړه. د لفظي شخړې څخه پایله دا سوه چې هغه قومندان زما پلار د خو ورځو لپاره بندي کړ.

په واسطو،پیسو او د کلي په سرو مو پلار له بند څخه را خلاص کړ.

اکا مي و پلار ته وویل : هلکه نور دغه بې رحمه او د وینو د سوداګرۍ دنده پرېږده! ځکه ته چې کوم کار کوې په اصل کې د هیواد د جګړې په وده کې مهم رول لري!

- پلار مي: نه وروره! زه ولي د هیواد د جګړې اوږدېدل غواړم؟! زه خو یوازې وسله پر وسله والو پلورم! او د هغې له لارې روزي لاسته راوړم!

- اکا : بس وروره ! نور درته څه نه وایم، خو ته ماشوم نه يې چې خپل په بد او ښه پوی نه سې! خدای مه کړه زه سبا د داسې ورځې شاهد ونه اوسم چې ستا اولادونه یوه ورځ یتیمان پاتې سي!

پلار مي دا تولې خبرې په یوه غوږ واورېدلې او د بل غوږ څخه يې وویستلې! ویل : زما ورور زما پرمختګ نه سي زغملی، نو ځکه ما ددغې دندې څخه پرېږدي.

د شنه اسمان له نس څخه سپوږمۍ په ډوبېدو وه زموږ د کلي د مُلا ږغ اغږ مي تر غوږ سو چې اذان يې وکړ.

پلار مي موبایل پر غوږ کړ او له کوم بل چا سره يې خبرې وکړې!

د موبایل اړیکه يې پرې کړه زما نوي میرې ته يې وویل : زه یو ځای ځم کوم؛ چا راته زنګ وهلی وو چې راسه د لته یوځای وسلې دي هغه رانیسه او زه هغه د هغه کار لپاره ځم!

بلاخره پلار مي له کور څخه دوه لکه افغانۍ واخیستلې پر سور دوه فلکه موټرسایکل يې ښه را واړول او حرکت يې وکړ.

موږ هم د سهار د ډوډۍ لپاره چمتوالی ونیوی او کښېنستلو تر خو ډوډۍ وخورو، خو دغې ورځې د پخوا په څېر خوند او شخوند نه درلود. سرّه هوا او بې خونده فضاء زموږ د کورنۍ د غړو تر منځ جوړه وه!

=بلاخره ورځ تېره سوه شپه سوه خو پلار مي مالوم نه سو.موږ د تل په څېر د اندېښنو و نړۍ ته بیا فکرونه ور ایله کړه.

شپه هم تېره سوه، سهار سو خو بیا مو هم د کور رهبر مالوم نه سو او نه يې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



موبایل کار کوی ترڅو د صحت په اړه یې پوښتنه وکړو.

زه او د کورنۍ غړو مو د پلار د پلټلو لپاره له کور څخه بهر را ووتو. په ښار کې را روان وم رحمت الله کاکا چې زما د پلار سره یو وخت د وسلو په کار کې شریک وو، د ښار په یوه اړخ کې ولاړ وو او د یو دوکان څخه یې سودا اخیستل را باندې ږغ/غږ یې وکړ : هلکه ! څنګه تېز روان یې، چیرې ځې؟!

- زه : کاکا د پلار په پلټلو پسې مې نیمه نړۍ وکتل خو لا یې درک را مالوم نه سو!

رحمت الله : هلکه دلته چا ویل، چې په پلانکي ښار کې دولت یو دوه مړي را وړي دي!

تاسې یوځل ورسئ وې ګورئ چې هلته خو به نه وي!!

ما چې دا خبرې واورېدی غوږونه مې یو رقم تاوده غوندې سوه ستونی مې د حلق سره ونښتی رنګ مې تک زېړ سو!

کور ته په منډه راغلم تر مشر- ورور مې دغه بدرنګه او بد مرغه خبر را ورسوی. هغه هم ژر اقدام وکړ زما د اکا سره یو ځای هغه تاکلي ځای ته روان سو.

زه او د کورنۍ غړو مو ددغه بدرنګه خبر و پایلې ته تم وو چې اوس به څه کېږي؟!بلاخره ورور او اکا مو د نیمې ورځې وروسته راغلل چې یو سراچه ډوله موټر کې سپاره دي.

ما ورمنډه کړه چې څه کیسه ده!

کله چې ورغلم ومې کتل چې د ورور او د اکا په سترګو کې مې د لوی غم نښانې احساس کړې.

یوه شیبه تېره سوه چې د سراچې څخه یې په سپین کفن کې ترلی کټ را کښته کړ!!

په دې حالت نه یم پوی سوی. یو وخت چې مې سترګې پرانیزلې ګورم چې، د پلار د جنازې د کټ و اړخ ته پروت یم. مور مې په غاړه کې لاس راواچوئ او راسره چغې یې کړې!

بس هغه هم یو سات وو تېر سو.

د مرمیو سوداګر پلار مې خپل په نازکو لاسونو کې د لوی الله ج د حسابي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره په خاوره کې پټ کړ......!

د پلار د مرګ وروسته مو د کورنۍ اقتصادي ستونزې خپل له حد څخه واوښتلې زه او بل تر ما، ماشوم ورور مو، مور او مشر ورور د مزدورۍ کار ته په مخه کړو.

دا دی اوس د بل د مېړو مزدوري کوم. داسې مزدور چې په شپه او ورځ کې اته ساعته خوب هم ماته پاچاهي ده.

شپه او ورځ د بل د مزدورۍ تږخنګ په غلامۍ کې تیروم.خینې وخت مې خپل ژوند ډېر کړوي! خو څه وکړم؟ د خدای ج به همدغه ډول ژوند خوښ وو چې ماته یې ډالۍ کړی.

د لیکوال نظر د کیسې په تړاو:

د بل چا ژوند اخیستل ؛ هغه که په هره لاره وي د خدای ج د نارضایی سبب ګرځي!

ددغه ماشوم پلار هم داسې حساب کړه! د وسلې مانا داده چې د یو چا ژوند باید واخیستل سي، خو بیا ددغه ماشوم پلار د همدغه وسلې کار وبار کوی.

نو مالومه خبره ده، چې د ناوړې دندې څخه ناوړې پدېدې منځته راځي.

لکه : پورتنی کیسه!نو انسان باید په ژوند کې د خیر په کارونو کې دندې ولټوي!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پسـټ پيريان!

د شپې څو همه برخه وه او د مهربانه خدای ج ټول بنده ګان په خوږو خوبونو ويده وه. دا چې ژوند مې د کلي په چوکاټ کې وو.

کلي کې څو نو يا بزګري وې او يا هم مالداري. نو موږ هم غويان درلوده؛ د غويانو د ساتلو يو قانون بيا دا دی چې د شپې که هره برخه وي بايد وساتل سي او ماړه سي.

زه هم را ولاړ سوم ترڅو غويانو ته د خوړولو لپاره يوڅه او شفتل واچوم ترڅو ماړه سي. کله چې د غويانو دننه ځای ته راغلم يو څراغ راسره وو هغه مې په يو انګړ کې کېښود ترڅو رڼا سي.

د غويانو و اخور ته مې شفتل واچول او همدا لړۍ دوام درلود چې په يوځل څراغ مړ سو بيا ولګيږي زه يې ډېر حيران کړم او په فکر کې يې کړم.

ما هم په ډېرو ستونزو د غويانو ټولو اخورانو ته شفتل واچول، ترڅو هغوی ماړه سي چې په سبا باندي بيا د کورنۍ غړي راته څه ونه وايي چې: ولې دي غويانو ته وابنه نه وه اچولي!

زما هم کور ته د تګ شېبې وې چې د غويانو د ځای څخه راووځم او د کور پر لور حرکت وکړم.

کله چې د څيراغ خوا ته راغلم ومې کتل چې څيراغ بيا هم بنديږي او بيرته رڼا سي دا چې هغه وخت ژوند ډېر ساده او پياده وو فکر مې وکړ چې شايد د څيراغ تېل کم سوي وې نو ځکه به دا ډول چمونه کوي.

خو بلاخره مې څيراغ را واخيستی او غوښتل مې چې را ووځم چې د شا لخوا رابـې ږغ / غږ سو وايي پلانکيه دې خوا وګوره!!

کله چې مې دا نابېره اواز واورېدی د زړه رګونه مې د عصابو له رګو سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډې کېسې

تکر کې سول د بدن ټول غړي مې فلج سوه؛چې دا وخت وګوره او دلته سړی!!

کله چې مې ورنه وکتل چې یو سړی دی کفن یې اغوستی دی او څیراغ یې په لاس کې دی چې نه یې د سړي رنګ او نه یې د پېږي!

نور په خان نه یم پوی سوی چې زه په کومې نړۍ کې یم هملته بې صده سوی وم آن تر سهاره هم څوک نه وه راباندې خبر سوي چې زه چیرې یم!

د کورنۍ غړي مې چې سهار خبر سوي وه چې پلانکی چیرې دی خو د ډېرو پلټلو وروسته یې هم نه وم پیدا کړی چې بلاخره مې د یو کوچني زوی فکر سوی وو او پیدا یې کړم.

کله چې یې کور ته راوستم بیا یې په ډېرو مُلایانو باندې وګرخولم ترڅو جوړ سم خو دغه ویره مې دا دی ۲۴ کاله کیږي لا هم په زړه کې ده.

د لیکوال نظر د کیسې په تړاو :

دا تجربه رسوې خبره ده چې په زاړه او تاریک ځایونو کې د پیریانو تاسیسات دي چې هلته ورتګ انسان ته نه ده په کار.

علت یې همدغه دی چې دومره تاوان ور رسولی سي لکه : د کیسې پورتني کس ته! نو نه ده په کار چې دغسې ـ ځای ته انسان ورسي په داسي حال کې که یې غویان مړه هم سي!

که داسي اوس ووایو که چیرې دغه کس ته هغه پېږي نور هم تاوان ور رسولی وای نو څه فکر کوې چې نه یې سو ور رسولی؟! که مو جواب هو وي! نو څرګنده سوه چې مُمکن ددې سړي و ژوند ته یې خاتمه هم ورکړې وای،څکه چې پوښي ته چې الله ج دومره توان ورکړی وي چې په لیدو یې انسان بې صده کیږي، نو هغه حتمن نور تاوان هم ور رسولی سي.

نو زه څکه وایم چې تر انسان هیڅ څیز هم ارزښت نه لري نو لازمه نه ده چې خپل ژوند خپل د مال په موخه په خطر کې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ځان باور!

په پښتو کي يو متل دی وايي، چي دومره وخوره چي په خوله کي دي ځای سي کنې نو خولې ته به دي اړين تاوان ور رسېږي يابه څيري سي او يا به هم ژوبل سي.

د نړۍ په کوم ځای کي وايي چي يو سړی وو، بيمار وو او په روغتون کي بستر هم وو. بيماري يې هم د زړه حمله وه.

د زړه حمله چي څوک ولري په هغه وخت کي پر انسان راځي چي يا ډېر خوشاله وي او يا هم برعکس ډېر خپه وي.

بيمار سړي چي خپل د ژوند شپې او ورځي د روغتون پر چپرکټ باندي تيرولې ډاکټرانو يې هم د ژوند شپې شمېرلې چي شايد ډېر ژر له دې دروغجني نړۍ څخه وکوچېږي او خپل پور پرې کړي.

څه موده تېره سوه چي د دولت د يوې ځايي موسيسې او برنامې له لوري و بيمار سړي ته د پنځوس ميليونه ډالرو جايزه راغله! ترڅو همدغه بيمار سړي ته ورکول سي ځکه چي بيمار سړی يې ور وو او دده حق بلل کيدلې.

ډاکټران چي کله له دې موضوع څخه خبر سول چي بيمار سړي ته پنځوس ميليونه ډالر جايزه راغلې.

نو يو ګډ مجلس يې جوړ کړ چي که چيري بيمار سړي ته ووبل سي چي تاته دومره ډېري پيسې جايزه راغلې نو مُمکن هغه باندي د خوشالی له کبله د زړه حمله راسي او خپل ژوند له لاسه ورکړي. چي دا چاره شايد موږ ته ډېره ګرانه تمامه سي، ځکه چي موږ پوهيږو چي بيمار سړی په دې خبري ډېر خوشالېږي او خپل ژوند له لاسه ورکوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ډاکټرانو پريکړه وکړه چې ددې لپاره بايد يو اروا پوه راوبلو چې هغه په دې چاره ښه پوهيږي، چې بالاخره همداسي وسول.

اروا پوه يې را وغوښتی او ډاکټرانو هم موضوع له نژدې ورسره شريکه کړه چي دغه کس دومره موده کيږي چي، زموږ سره په روغتون کي بستر دی او د زړه د حملې مريضې لرياوس ورته پنځوس ميليونه ډالر جايزه راغلې ده موږ نه سو کولی چي په مخامخ ډول ووايو، ممکن بيا د زړه حمله پرې راسي.

که يې تاته کومه لار در مالومه وي نو ښه دی ته يې په هغه ډول ورته ووايه چي بر بيمار سړي د زړه حمله را نه سي.

اروا پوه ډاکټرانو ته ووېل چي تاسي بېغمه سئ دا دومره سخته موضوع نه ده زه يې حلوم!

اروا پوه راغی او بيمار سړي ته کښيناستی د ستړې مه سې وروسته يې ورسره نور خوږ باندار پيل کړ.

بلاخره اروا پوه خپلې موضوع ته په غير مستقيم ډول راغی او بيمار سړي ته يې ووېل چي زه به درته يو خبره وکړم!

که تاته سل ډالره جايزه در کړل سي نو ته به څه احساس وکړې؟!

- بيمار سړی : هيڅ! زه به تاته ترې پنځوس ډالره درکړم!

- اروا پوه:ډېر ښه!که درته پنځه سوه ډالره جايزه راسي نو څه احساس به وکړې؟

- بيمار سړی : هاهاها بيا هم هيڅ ! دوه سوه ډالره به تاته ترې درکړم!

د اروا پوه او بيمار سړي همدغه مناظره روانه وه او د پيسو گراف ورو، ورو لوړېدی

بلاخره اروا پوه د پيسو گراف دومره لوړ کړ چي په اخرکي يې بيمار سړي ته ووېل چي: که پنځوس ميليونه ډالر جايزه درته راسي نو ته به څه احساس وکړې؟!

بيمار سړي په ډېرې نرمۍ جواب ورکړ: پنځه ويشت ميليونه ډالره درکوم! اروا پوه سړي چي کله وروستی خبره واورېده د زړه حمله ورباندې راغله! او مړ سو!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:**

ددې لپاره چې پرچا باور و نه لرو لومړی باید خپل د خان ارزونه وکړو، چې څومره قوي يو. بیا به بل ته مخ او د لاسونو گوتـه ور اړوو. څکـه چـې دا یوه بده خبره ده چې موږ دي خان په ډېرو پیسو خرڅ کړو بل دي په لږ هـم نه رانیـو! په داسي حال کې چې هغه تر موږ ډېر لوړ قیمت لري!

که مو یوه گوته بل ته نیول څلور خان ته ونیسۍ!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بد نصیبه او غریبه !

ځینې کسان ډېر لټ وي او هیڅکله هم نه غواړي چې، د ژوند په چارو کې دې د بریا پر لور گام واخلي.خو، برعکس ځینې بیا داسې وي چې خدای ج نه وي ورباندې خوړلې او یا هم خپل د بې عقلۍ څخه ور پېښېږي.

په کوم کلي کې یو ساده گی وو. ساده نو څکه وو چې خپل په ژوند کې یې ډېر چانسونه له لاسه ورکول. د چا خبره به یې نه منل. د کلي له رواج او عصریتوب سره یې خورا نه وه جوړه.

یوه ورځ څو ملگري ولاړ وه خپل د کلي پر ساده گي یې بانډار جوړ کړی وو، چې پلانکی د خدای ج له نعمت څخه نه ده برخمن، څکه چې هغه ته خدای ج پیسې ورکوي خو د هله په نصیب نه وي.

دوی به همدې بانډار لگیا وه چې ساده سړی له اخوا را روان وو. د دوی په منځ کې چې یو هلک ډېر بیداره وو، وېل دا به زه اوس مالومه کړم، چې دی په رښتیا ساده دی که یا. یو بنډل پیسې یې را واخیستې او پر هغه پول یې کېښښولې چې، د ساده سړي لاره وهورباندې.

وېل که ساده سړي پیسې واخیستې نو زه یې هم نه تېرې گرخوم وا دې یې خلې. د بانډار ملگرو،خپل ددغه ملگري څخه ژمنه واخیستل که چیرې ساده سړې پیسې واخستلې نو حتمن به ورته هغه پیسې ورکوې!

ساده سړی چې د دوی لور ته را روان وو، وړاندې له دې چې ورته را ورسېږي له لیرې څخه یې چغې کړې چې اې هلکانو زه به په پټو سترگو له دغه پله څخه تېر نه سم؟!

هلکانو ورباندې وخنل چې موږ نو څه خبر یو چې، ته تېربدلی سې او که

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ساده سړي هغسې وکړل سترګي یې له لیري څخه پټې کړې او له پله څخه په پټو سترګو تېر سو! هلکانو چي ددې کار تماشه وکړه یو او بل ته بې وخندل او وې ویل چي په رښتیا هم ځیني کسان ډېر بې نصیبه او بد بخته وي، چي ژوندی مثال یې دغه ساده سړی دی.

**د لیکوال نظر د کیسې په تړاو:**

ساده خلک خورا په زړه صادقه وي، خو دومره ساده توب هم نه وي چي سړی دي د بې عقلۍ کور ته داخل کړي. پورتنی کس هم له همدغه خلکو څخه شمېرل کیږي.بنه دې ته څه اړتیا وه چي، دی دي پر پله په پټو سترګو تېر سي؟! مهمه هم نه ده چي ده دي پیسې پیدا کړي وای! که دی زغوار سوی وای او ژوبل سوی وای نو د هغه تاوان به څنګه وو؟! نو،مالومه سوه چي ډېر ساده توب د لیونتوب سرحد ته اړ کړی وو چي، هم یې ځان ته تاوان اړولی وو او هم د خلکو د خندا وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناوې د پیریانو لومړنی هدف

په پېغلتوب کې مې د واده نوی پسرلی پرانیستی وو. یوازې مې خپل د خاوند خواني ته توجه کړې وه. نه د ماشوم په فکر کې وم او نه هم د مظلوم!
دا چې د کلي او محل رواج مو داسې وو چې، ډېره وړه جینۍ که هم څوک وه حتمن به یې خاوند ته ورکول. چې زه هم یو له هغو ځخه شمېرل کېدلم او نوی واده مې کړی وو.
خاوند مې د ژوند په څو شپو کې راسره وو ما هم فکر کوی چې، دې نړۍ کې بل هیڅوک دومره سرمایه نه لري لکه زه چې یې لرم.
خو دا چې وخت ډېر ساده وو او د شوروي پر وړاندې د جهاد زمانه وه، زما خاوند هم د اسلام سرباز وو، د اونۍ ډېرې شپې به یې د سنګر په خزو کې تېرولې.
بلاخره زما د خاوند د پوستې قومندان یوه ورځ خپل ټولو سربازانوته ویلي وو، چې د مهماتو او د زیاتو وسلو لپاره باید ګاونډي هیواد ته ولاړ سو.
زما خاوند ماته راغی او نوموړې خبر یې تر ما پورې را ورسوی.
خدای سته ډېره خپه سوم ځکه چې د واده نوې شپې مې وې د کلي او کور د ټولو دېوالونو سره ناشنا وم. هرځه راته پره دي ښکارېدل.
ښکاره خبره همګاده چې وایي: ښځه د خاوند په شتون ښځه وي چې، خاوند یې نه وي هغه به څه ژوند ولري.
د ژوند د څو ورځو شپو لپاره مې خاوند راسره وو، خو بلاخره هغه اړین سو چې خپل د قومندان خبره ومني او له ماسره یې تر نا مالوم وخته پورې د خدای په اماني وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند وو شپې وې او ورځې وې په ډېرو ستونزو مې سبا کولې. دا چې هغه زمانه ډېره پخوانۍ وه فکرونو دومره رشد نه وو کړی. زه نوې واده کړې ښځه وم خو چا هم را سره خپل د زړه بړاس نه شریکوی.

نه مې کوم لېور یوه شپه خپل مېرمني ته وویل چې ورسه پلانکې یوازې ده ورسره پرېوځه څوک نه سته ورسره په خونه کې یوازې ده ونه ویرېږي.

یوه شپه پرته وم په خونه کې هیڅوک نه وو راسره یوازې هم وم. خوب هم نه راتللو د خونې د سر تیران مې شمېرل حیرانه پاتې وم چې، زه څنګه بد قسمته ناوې یم چې، هیڅوک زړه نه راباندې سوځي چې، ددې خو خاوند هم نه سته باید یوه ښځه خو ددې لپاره ور واستوو چې ونه ویرېږي!

په همدې فکر کې وم چې د خونې دروازه مې وټکېدل! دا چې زه خپل د پېغلتوب په نشې کې وم، د دومره ستونزو سره سره مې بیا هم د بېرې احساس نه کوی بلاخره ور ولاړه سوم ترخو وګورم چې څوک ده او څه راته وایي!

کله چې مې د خونې دروازه خلاصه کړه ومې کتل چې هیڅوک هم نه سته لږ مې زړه ته د ببرې احساس ور ولوېدی. اندېښنه راپیدا سوه چې، دا به نو څوک وه!

ددې لپاره چې خان یو څه ډاډه کړم د خونې د دروازې څخه لږ ور ووتلم او ږغ اغږ مې وکړ چې څوک یې؟!

خو ددې سره بیا هم د چا اواز رانه غی چې له دې سره مې نوره هم بېره زیاته سوه، ستونی مې د ژړا ډک سو او تر سترګو مې مړې، مړې اوښکي را رواني سوې او دبېرې ترځنګ یې وسې او خپل د کور ناداني ډېره زورولم.

لږ نوره هم ورپسې مخ ته ورغلم ومې کتل چې پر هغه زېنو چې زمونږ د خونې خوا ته را پورته سوې، یوه ښځه ناسته ده او یو لوی پوړنی/څادر یې پر خان را تاو کړی.د راسته لاس د شهادت ګوته یې خپل تر زني لاندې نیولې او زما لورې ته په ډېرې حیرانۍ سره ګوري!

ما بیا هم فکر وکړ چې شاید د مشر لېور مېرمن مې یوښتني ته راغلې وي او اوس چې یې زه ولیدم غواړي چې ما وبېروي.

بیا مې هم ږغ اغږ پرې وکړ او نوم مې واخیست چې پلانکۍ ته ولي نه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړېږي؟!

نامالومي ښځي بيا هم راته هيڅ ونه ويل او هغه ډول ناسته ده! دا چي زما حوصله او جذبه نوره خلاصه سوه ور روانه سوم چي، په لاس يې وښوروم چي، ته ولي راته ږغ/غږ نه کوې خو، ودي ويرولم.

چي ناڅاپه مي په فکر کي راغله چي پخواني خلکو به تل ويل چي پيريان تل د نويِ واده سويو او ناويانو سره کار لري نو هغه چا چي نوی واده کړی وي او ناوې وي نو بايد ډېره هڅه وکړي چي د شپې لخوا يوازي را ونه وځي!

وروسته ددې خبري مي نور هم زړه بې کراره سو او ويره مي يو په دوه سوه، ورو،ورو مي هڅه وکړه چي د خوني خوا ته خان ورسوم چي په ډېرو ستونزو مي خان تر خوني ورسوياو تر سهاره مي بدن لرزه کول.

په سهار مي د خسر د کورنۍ غړو ته ټول کيسه وکړه هغوی ښکنځل راته وکړه چي، ولي د شپې هرشي ته راوځې؟! نو له هغه وروسته د شپې لخوا بيا يوازي نه يم راوتلې.

د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:

په دې کيسې کي ناوې، خاوند ، د خُسر کورنۍ ټول ملامت دي.خاوند خکه ملامت وو،چي خپل مېرمن يې يوازي پرېښودل.

د خُسر کورنۍ خکه ملامته وه ،چي د ناويِ سره يې مرسته نه کول.ناوې خکه ملامتوه چي، د شپې و هرشي ته راوتل ښه کار نه دي. په داسي حال کي چي پيريان تر ټولو زيات د ناوي سره کار لري. نو مهمه ده چي، انسان بايد په هر کار کي د عقل څخه کار واخلي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نابېره پېرى!!

د توري شپې څو همه برخه وه، چې د شنه اسمان ستوري خپل منظرې کولې. زه هم د سوچونو او فکرونو په نړۍ کې ډوبه وم، ماشومان مې په شا وخوا پراته وه.

خونه کې مې د ماشومانو پرته بل څوک نه وه راسره. د توري او زړې خونې و تيرانو ته مې کتل او د خان د حيرانتيا په تماشې کې وم. په همدې فکر کې وم چې د خونې د دروازې سره، مې د کشر لېور ښځې را ږغ/اغږ کړه او زما نوم يې واخيست.

ما هم غوښتل چې ها ورته وکړم خو، فکر مې وکړ که اواز ورته وکړم مُمکن ماشومان را ويښ سي. نو ځکه مې ورته ږغ/اغږ نه کړ.

ورو راولاړه سوم ترڅو ورسم چې پلانکې مې څه کوي! کله چې راغلم د خونې دروازه مې خلاصه کړه، چې هيڅوک هم نه سته. حيرانه پاتې سوم چې دا اوس څه سوه؟!

دا چې د کشر لېور حويلي زموږ د خونې انګړ کې وه، ور روانه سوم ترڅو ورسم هلته چې څه کيسه ده؟!

کله چې ورته را ورسېدم د خونې دروازه مې ور وټکول په نوم مې ور ناري کړه چې پلانکې تاڅه راته ويل چې زما خونې ته راغلې وې؟!

هغې هم راته په حيرانه لهجه وويل چې زه نه يم درغلې او څه مې نه ويل، ولې څه کيسه ده؟!

زه نوره هم حيرانه سوم او ورته مې وويل: هيڅ کيسه نه ده، مخکې چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته ستا په اواز ږغ/اغږ وکړ او زما نوم یې واخیستی!

د کشر لېور میرمني بیا راته وویل چي نه یم خبر، ما درته څه نه دي ویلي شاید بل چا درته اواز کړی وي. زما ویره نوره هم یو په دوه سوه، حیرانه پاتي سوم چي دا ږغ/اغږ به چا راته کړی وي!

زه بېرته خپل د خوني پـر لـور را روانېـدم چـي د کشر- لېـور ږغ/اغـږ مي واورېدی چي خپل میرمني ته یې وېل: خوله دي وچه سه ورته ووایه چي هغه زه وم چي، در ناري مي کړه کیدای سي هغه وېرېدلې وي ځکه چي په خونه کي یوازي ده.

وروسته راپسي د کشر لېور ښځي بیا ناري کړه ویل پلانکۍ هغه زه وم چي اواز مي درته وکړ ماوېل: ماشومان خو به دي نه ژاړي! او مخکي چـي مـي تـه پوښتني ته راغلې زه د خوبه وم ځکه مي درته وویل چي زه نه وم!

زه پوی سومه چي دوی خبره ځکه راته وکړه چي، زه ونه بېرېږم پـه داسي حال کي چي زه اول لړ، لږ پوه سومه چي شاید خبره د پیریـانو وي. زړه مـي خورا لرزه پیدا کړه حیرانـه سـوم چـي اوس تـر خـوني ځنګـه ولاړه سـمه او د ماشومانو به مي څه حال وي ځکه چي هغه مي هم یوازي په خوني کي پرې ایښي دي.

خو د کلیمو ویلو سره د خوني پر لور را روانه سوم هرځیز راته ځلور ځلور مالومېدل ځکه چي زما سره د بېرې احساس مل وو فکر مي کوی چي اوس به پر ماباندي یو ځیز د برید هڅه کوي.

خو بلاخره په یو ډول مي ځان تر خوني را ورسوی او د خوني دروازه مي په ځان پسي کلکه وتړل! ماشومان مي ټول وکتل چي په خواږه خوبونو پراتـه دي . زه هم د کمپل او نالی پرمخ را کشولو سره د بېرې ځخه پټه سوم.

په سهار مي زموږ د کلي مُلا صاحب ځخـه پوښـتنه وکـړه هغـه راتـه وېـل: هیڅکله و دغسي ځیزونو ته د شپې جواب مه ورکـوئ ځکـه چـي دا یـو ډول بېرې دی که انسان ورته د ها جواب ورکړي نو خورا لوی تاوان ور رسوي. کله چي مـي دا خـبري واورېـدی نـو پـوه سـومه چـي زمـا شـک پرځـای وو او د راتلونکي لپاره باید هوښیاره و اوسمه.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لیکوال نظر د کیسې په تړاو:**

کیسه د ناپوهۍ څخه رامنځته سوې ده، چې ښځې د شپې په یو نامالوم اواز پسې دومره پلټنه کړې ده. په داسې حال کې چې اکثره وخت دغسې-اوازونه پیریان باسي. نو دغې میرمنې ته دا په کار وه چې سر یې نه وای خلاص کړی او پرې وتلې وای او کلیمې یې پر ځان ویلې وای او ویده سوې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې وفا ملګرى؛ بې وفا دنيا!

د نړۍ په ډېرو برخو کې وګرځېدم ومې غوښتل چې يار او ملګرى پيدا کړم. داسې ملګرى چې د ژوند د هر درد راز او ناز ورسره شريک کړم، ددې سره به مې هم ملګرى پيدا کړى وي او هم به مې زړه پر کراره وي.

د اکا زوى مې په ذهن خورا ښه انسان مالوم سو ومې غوښتل چې ورسره خپل د ژوند د بهترينې ملګرې راز او زړه ورکړم. که څه هم هغه ځينې ستونزې درلودې ، خو بيا مې هم د زړه د بهترينو ملګرو په کتار کې حساب کړ.

د ملګرتيا لړۍ مې ورسره شروع کړه کله خوشاله کله خپه، خو ژوند مو همداسې په دغسې کيسو روان کړى وو. ځينې وخت به مې د اکا زوى يو داسې کار وکړ چې نه به منطق منل او نه به عقل! زه به ورځخه مرور سوم چې، ته ولې داسې کار کوې؟!

خو د هغه بېچاره دا کار عادت او عبادت سوى وو، زما به يې نه منل. زه به هم ورځخه د يو څو ورځو لپاره مرور سوم بيا به کله دده لخوا يا هم زما لخوا او يا به هم د درېيم سړي لخوا پخولا سوو او ملګرتيا به نوره هم خوږه او ښايسته سوه.

د ژوند شپې او ورځو مو د ملګرتيا په داسې رنګونو تېرولې، يوازې به خپل د ملګرتيا کيسو حيران کړې وو. د ورځې ډېره برخه به مو يو ځاى تېرول او د زړه رازونه به مو شريکول.

خو دا چې زه صادق وم او تل به مې هڅه کول چې په رښتيني ډول ورسره د ملګرتيا اصُول مراعت کړم، خو له بده مرغه د اکا زوى مې راسره زما په اندازه صادق نه وو او په ضمناً کې يې نه غوښتل چې زه دې خپل د ژوند په يوه برخه کې هم ودان اِو روښان ونه اوسم.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته به هم ځيني وخت دغه فکر را پیدا سو چي، ولي مي داسي بنايسته او د زړه ملګرى داسي ناخواني راسره کوي؟ خو ما به دا هرځه بیا هم په وړوکي عقل د ذهن څخه و ایستل او فکر به مي کوی چي، ته ناوړه فکر کوې!

دا چي زما د اکا د زوی اقتصادي حالت هم ښه نه وو، هغه سره به مي ځيني وخت د اقتصاد په برخه کي هم مرسته کول. که څه هم یادول یې ښه نه دي خو ځيني ځیزونه داسي وي چي حقیقت لري. ته به ښه ورسره کوې خو، بل دي په مقابل کي بد کوي.

چي دغه چاره بیا انسان خپل د ښو او نیکو کارونو څخه باسي او دې ته دي اړ کوي چي، د بیا لپاره د چا سره هم ښه ونه کړې، چي دا کار بیا ددې لامل کیږي چي، ملګرتیا کي د خوند ټکي له منځه ځي.

بیا هم د تل په څېر په داسي ورته کار به ورڅخه مرور سوم، خو بیا به هم ورسره جوړ سوم.بیا به مو تېري کړني او غلطیاني له منځه یوړې. بیا به مو د یاراني او وروری مزي نوي کړه.بیا به رازونه وه.خوندونه وه.نازونه وه.

لکه څرنګه چي یو کار د بریا او پرمختګ راز لري همدارنګه د خنډ او خنډ راز هم لري چي بریا او پرمختګ مخه ډب کوي او خپل هدف ته یې نه پرېږدي.

دا ناخوانه ملګرى مي تل بیا هم زما د ښه دوستي څخه استفاده کول او خپل غلط ذهن یې تل پر ماباندي تطبیقوی او زه به یې خپل ښو او نیکیو ته زورولم.

پلار او د کورنۍ غړو به مي تل راته ویل چي پرېږده دا په دې نه ارزي چي ته ورسره دومره د انسانیت په اصُولو ملګرتیا کوي او هغه دي په کیسه کي هم نه دی.

دا چي ما په سلو کي سل سلنه ښه کول خو، ده راسره پنځوس سلنه هم ښه نه کول پریکړه مي وکړه چي نور به ورسره دومره ښه نه کوم. نور به ورسره د هغه په کچه او اندازه ملګرتیا کوم ترڅو هغه پوه سي چي ناخواني څومره دردناکه ده.

وروسته مي د ملګرتیا خواږه ورسره کم کړه او دا خل مي ورته هیڅ اجازه ور نه کړه چي، د ښې استفادې څخه مي خپل د غلط فکر فلسفه راباندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تطبيق کړي.

فکر کوم دی هم خپل په خان پوی سو چي، څه چي مي کول بنه مي نه کول ځکه چي خپل ضمير ته به تل ملامت و اوسم اوس چي هرڅه هڅه وکړم کيدای سي چي خپل غلطي په اسانۍ سره جبران او اسان نه کړم ځکه چي ډېر چانسونه مي له لاسه ورکړه.

وروسته له دې چي زما او د اکا د زوی ملګرتيا تردې ځايه را ورسېدل ما هم هڅه وکړه چي، خان وربانديز خبر نه کړم او داسي احساس ورکړم چي ما ببخي هېر کړی يې. حتی تر دې چي د هغه په اندازه ملګرتيا مي لا ورسره پرې کړه.

دا دی زه اوس خپل کار کوم لګيا يم.هغه راسره د جغرافيې په لحاظ ډېر نژدې دی ،خو دزړه په لحاظ راڅخه ليري دی اوس دی هم حيران دی چي کاش يو چانس مي له لاسه هم نه وای ورکړی.

د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:

په ژوند کي اکثره وخت ځيني کړني خندونه وي چي هغه ددې لامل کيږي چي، ځيني سم کارونه نا سم کړي او د بريا د خنډ لامِل سي.

پورتنۍ کيسه د همدې خنډ په لحاظ منځته راغلې ده چي، يوه ورسره وفا کول خو، بل ورسره بې وفايي کول. هيڅکله هم خپل دوست له دوه الی درې څخه زيات چانسونه مه ورکوئ.

ځکه چي ترګټي مو تاوان زياتوي.چي ژوندی بيلګه يې پورتنۍ کيسه ده، چي له يوه څخه زيات چانسونه ورکول سول خو، هغه خپل له حد څخه واوښتې فکر يې وکړ چي دا نه پوهيږي چي له ماسره دومره بنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سخت نازولی ؛ سخت خواريږي

د کوزدې وړاندي مي خورا ښه ژوند وو. د کلي له پره دي راښوولې ان تـر پلاره ټولو نازولم. له دوو څخه زيات او له څلورو څخه کم ورونه مي درلـوده. پلار او مور مي شکُر ژوندي وه او دي .

دا چي څنګه پر پلار او خپل پر کورنۍ ګران وم له هغه څخه لږ د کلي پـر مېشتو نر او ښځو هم ګران وم. ما مي د ګرانښت لامِل دا بلی چي شـايد د مـور او پلار کوچنی زوی و اوسم. شايد چي د کور يواځيني نازولی و اوسم. شـايد پر کلي څکه ګران واو سم چي،هغوی سره ښه سـلوک کـوم او ددې خـانګړنې ترڅنګ ښايسته هم وم!

خو ددې ټولو انسانانو ګرانښت يو خوا د پلار ګرانښت بلخوا چي ماته به يې راکوی. ځيني وخت چي به مي پلار زه زوروليم نو ماته به يې وويل: ښځه درته کوم. دا چي زه ددې جملې سره خورا شارټ وم نو مابه بيا لـه نـازه ورتـه هـر ډول خبري کولې.

د ژوند د ستونزو او کړاهونو سربېره به مي پلار بيا هـم زه غمجـن او پـرې شاته نه پرېښودم.زما ډېر لوی ارمانونه يې هم را پوره کول. حتی زما د خوښي موټر هم!

دا چي زه نوی خپل د ژوند په خوند او پيوند پوی سوی وم، د ځوانۍ په نشه کي ډوب ګرځېدم.نه د ليلا په غم کي وم او نه هم د دنيا!

يوازي مي ډېري شـېبې خپـل د ملګـرو سره تېرولـې او د هغـوی د بانـډار څخه مي خورا خوند اخيست. يوازي خپل د راتلونکي پوهنتـون پـه غـم کـي وم، نور مي هيڅ څه ته هم دومره توجه نه کول.

خو دا چي ژوند هرځای خپل اصلي څېره نه مالوموي او انسان چاتـه نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژني ما مې هم د يو عادي کليـوال ځخه ان تـر پـلاره هـم اصـلي ځېـره نـه پېژنده. ځيني وخت به مې فکر وکړ چې هلکه ! دا خو به داسې نه وي چې دا هرڅه ته خپل د راتلونکي د خرابوالي لپاره کوې؟!

خو بيا به مې خان ته په دې موخه جواب ورکړ چې شايد زه نـوی ځـوان يم نو ځکه به مې کړی فکر خورا غلط وي.خـو خـير پـه هـر صـورت! ژونـد او شپې دي رواني وې په ژوند کې هـم ترخـې سـته او هـم خـوږې. د چانـه بـه خوږې اورې د چا نه به ترخې! دا ټولو ته مالومه ده چې دا خو ددې نـاوړې او فاني دنيا وېش او تقسيم دی او زه بيا همدې فکر راګير کړی وم.

پوهان تل وايي : ژوند سخت دی په هرچا باور په کار نه دی!

ما چې دا خبره تحليل کړه تر ډېره دا خبره استثناء نه لـري خـو، کـه يـې لري هم بيا نو په کمه کچه ده.

خو خير ما پوهنتون پيل کړ او خپل د ګران هيـواد افغانستان يـوه لـيرې ولايت ته راغلم ترڅو پوهنتون ته مې ادامه ورکړم او اوس هـم پـرې لګيـا يـم. خو دا چې پلار او مور د کورنۍ د رهبرۍ مهم غړي دي تل بـه يـې پـر مـا دا ټينګار کوی چې،د پوهنتون په جريان کې مې د نوي ژوند خاونـد کـړي او د ژوند نوي پړاو ته مې داخل کړي.

دا ځل مې هم د تل په څېر هڅه وکړه چې، دوی دې ته اړ کړم چې، نور راته د واده او ښځې نوم وانه خـلي ځکـه چـې زه پوهېـدم چـې، د پوهنتـون ترخنګ کوزده خورا يو دروند او وزبينه بار دی چې، زه يې پر اوږو اخلـم نـو ځکه مې زړه نه ورته ښه کوی.

پلار او د کورنۍ غړو به راته تل ويل : چې مونږ هروخت نه يو، تـه د پيـسو خو د پوهنتون په جريان کې مې بيا هم کورنۍ راباندې غالبه سوه د نوي ژوند و دې عجب پړاو ته يې شامل کړم او کوزده يې راته وکړه. خـو ورانـدې له دې چې کوزده راته وکړي پـه مـا يـې هـم د افغانستان د هغو شـهيدانو او تېپيانو کانه وکړه کومو کسانو چې په سردار محمد داود خان باندې کړې وه. زه يې په ډېر جالب او دردناک حالت کې راګير کړم.

تولي هغه وعدې او ژمني چې مې پلار راسره کـړې وې هغـه تـولي داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناقصي او خونسا سوې لکه د افغانستان د پارلمان وکیلانو چي خپل د ټاکنو پر مهال خلکو ته کړي وې.

زه هم ډېر حیرانه سوم فکر کي مي د ژوند ډېر نوي شیان ور اضافه سول د نا اُمېدۍ او بې وسۍ حس مي په بدن کي ډېر زیات سو. هر څوک بې ګانه راته مالوم سوه پلار به مي یو اړین کار هم نه راته کوی حتی تر دې چي هغه کار که مي پلار نه وای راته کړی مُمکن د خُسر کورته مي سر د تل لپاره ټیټ وای.

اوس مي هم دا دی ژوند ډېر کلونه شاته ولاړی او خپل تېر ژوند ته خورا حیران او ګوته په خوله ناست یم! دا مي تردې پوري درته وویل: ژوند کي د یوچا پېژندنه او تشخیص خورا سخته ده.

**د لیکوال نظر د کیسې په تړاو:**

په ژوند کي تر ډېره پرچا باندي تکیه مه کوئ، مُمکن هغه یوه ورځ لیري سي او تاسي ولوېږئ. هڅه وکړئ یو څوک تشخیص کړئ وروسته وربانديي خپل د کار د بریا راز ترسره کړئ.

هرڅوک ستاسي لاسنیوی نه سي کولی، ځکه چي هغوی ددې نړۍ د ناوړو کارونو قرباني سوي دي او فکرونه یې خورا خراب سوي دیاو یو بل لوی لامل دا هم شاید و اوسي چي، هغوی بېسواده هم دي.

Scanned with CamScanner

# مرګ په وعده دی!

د کلي د غُربت په چوکاټ کي مي خپل د ژوند شپې او ورځي سبا کولې، کلی مو داسي وو چي د دوو حکومتونو نظام پرې جوړ او حاکم وو. چي د دوی لانجو زموږ غریبي او بې وسي نوره هم پیاوړې کړې وه.

د کلي د مشرانو په مشوره مي یو تېنوس موټر واخیست ترڅو خپل د کور نفقه او یو ګوله ډوډۍ پرې پیدا کړم چي، بچي مي وږي نه سي.

د معمول له مخي مي خپل نوي دندي ته ادامه ورکړل. له کلي به مي د ولسوالی بازار ته او، له هغه خای خخه به مي کلي ته پیرودونکي وړل او راوړل.

د ژوند شپې او ورځي مي په خوند او پیوند تېرولې. چي دا شپې او ورځي ډېري جالبي هم وې.

یوه ورځ داسي وه چي یوڅو پیرودونکي/سپاریان راته راغله وېل خو د ولسوالی بازار ته. ما هم خپل په زاړه تېنوس کي کېښنول د بازار پر لور مي حرکت وکړ .

د انقلاب رنګ او زمان داسي وو چي، دواړه دولتونه په کمین کي سره ناست وه. زموږ سفر هم په دغه وخت کي روان وو او د انقلاب د خطر شپې مي شمېرلې.

وړاندي له دې چي، موږ خپل د هدف خای ته ورسېږو په لار کي راته یو بله لویه فاجعه پېښه سوه!!

کیسه داسي وه چي: زه د موټر چلولو په حالت کي وم سپاریان مي هم په موټر کي راسره وه چي خو ښخي او نارینه وه، زه هم په خامه لاره کي روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وم چې په يو خل مې يو نابېره رږغ/اغږ تر غوږ سو!

نور نه يم پوی سوی يو وخت خپل د ملا په درد پوی سوم نور مې وکتل چې تېنوس موټر مې دوه ځایه دی چې د سيټ خوا يې يوځای ده او په هغه کې زه هغه ډول روغ پاتي وم او د باډی خوا يې بله خوا ته ده چې، په هغه کې سپاريان وه چې يو مې هم ونه ليدی چې دا څه سوه!

دا نو مه کوه چې اصله کيسه دا وه چې، زه د سړک د غاړې په هغه ماين کې ختلی وم چې، څو ورځې وړاندې چا خپل د دښمن لپاره ايښی وو.

که څه هم خپل د خان د دردونو په تماشې کې وم، حيران پاتي وم چې څه راباندې وسوه.

څکه چې انسان طبيعي ډول همداسې دی چې، خپل د ژوند د غټو خطرونو پېښېدولو ته حيران وي او ژر يې دماغ د عقل د پروسې سره نه يو ځای کېږي چې، دغه چاره په ما هم وسوه تر ډېره حيران پاتي وم.

وروسته خلک د پېښې ځای ته راغله او په ورکو شهيدانو پسې-يې پلټنه پيل کړه. خو بيا هم تر ډېرې پلټنې وروسته ونه توانېدل چې،ورک سپاري شهيدان پيدا کړي او له خان سره يې يو سي.

ددې ترڅنګ ماته هم د سيمي راغلي خلک ډېر حيران پاتي وه چې، څرنګه روغ رمټ پاتي سوی يم! هغوی په څو ځلې دغه جملې د خان سره تکرارولې چې مرګ په وعده دی! مرګ په وعده دی ! مرګ په وعده دی!

وروسته د څو ورځو بيا د سيمې خلکو د ورکو سورليو د بدن ځينې غړي پيدا کړه!

د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:

که څه هم افغاني ټولنه تر ډېره د بېسوادی لخوا تاوانونه ويني او يو لوی علت هم دغه دی چې، خلک يې هره ورځ تاوان ېرې کوي.

نه نو که د کيسې د پېښېدو علت او معلول ته نظر وکړو بيا هم دغه ستره فاجعه د بېسوادی څخه سرچينه اخلي. که داسې نه وي ولې يو موټروان وړاندې له دې چې، په داسې خطري ځايونو کې چې سفر وکړي د لارو او باندو پوښتنه نه کوي چې، ايا کوم خطر خو به نه وي؟! همدغه پوښتنه د ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډې کیسې

پوښتنو جواب دی!

نو مالومه سوه چې د پېښي د رامنځته کېدو علت ناپوهي ده چې ناپوهي اکثره وخت د بېسوادۍ څخه سرچینه اخلي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمزورې بلا!

د شوروي اتحاد پر وړاندې د مقدس او روا جهاد وخت وو. مجاهدين به خلکو خورا نازول ځکه چې هغوی د اسلام د سپيڅلي جهاد عسکر بلل کېدل.

ما او پلار مې د همدې جګړې د خطرونو ليکو ته نږدې د انګورو پر باغ اوبه رايله کړې وې.

دا چې وخت او زمان ډېر کړکېچن او ويرجن وو نو هڅه مو وکړه چې اوبه د انګورو پر باغ ور ډېرې کړم ترڅو ژر اوبه سي او بيا کور ته ولاړ سو.

موږ د تورې شپې په تورو تېارو کې لګيا وو انګور باغ مو خړوبوی چې، په يوځل باندې د شنو او تورو باروتو مقابلې او جنګ شروع سو!

دا چې زه دومره نه پوهېدم ، خو پلار مې د ژوند په ټولو کړاهونو بلد او ولد وو نو هغه راته ويل : بچيه خان و وبالې ته واچوه او در وخغله!

زه چې هم ډېر بېرېدلی وم خپل له وامه مې بېلچه پرېښودل يوازې د خان د ژغورولو په فکر کې سوم او په پلار پسې مې ور وځغاستم.

د شنه اسمان،تورې شپې او سپين ستورو په شتون کې مو د ظلم او وحشت له بېرې خانونه په ډېرې ځغاستې ستړې کړه.

خو الله رب العزت داسې ذات دی چې، د يوه غم د خلاصون او ژغورولو دوعا دې ورته وکړه هغه بې درته حلوې او اسانه کوي.

خو برعکس! که دې چيرې له يوه مصيبت څخه د خلاصون په موخه د الله ج نافرماني وکړه او پر هغه دې شکر ونه ويستی او يا دې هم الله ج څخه د هغه غم د خلاصون دوعا ونه غوښتل نو حتمن به درته الله ج بل غم په مخه

درکوي.

دا ځکه چې، د الله ج د اَ... ځخه انسان نافرماني وکړه او نافرماني بیا الله ج نه خوښوي.

کیسه مې کول!

مور خپل د منډو په حالت کې وو چې یوځل مې د پلار په مخه یو سړی راغی چې پروت دی او پکښې وختې! ځکه چې شپه وه توره تیاره وه او بل لوی لامل دا وو چې مور وام هم مخته کړې وو.

کله چې سړی راپاڅېدو ما او پلار ورته وکتل چې، نه انسان دی نه پېری دی او نه هم حیوان!

لوی ناولی بدن، غټې سترګې، لوی لوی نوکان خیني خایونه بربنډ او خیني خایونه یې پټ وه. خوکله چې ډېر ورته ځېر سوو چې بلا ده!

ما او پلار چې مو کله دا ناشنا ځېره ولیده وام مو نور هم پسې- زیات سو. هغې هم زما پر پلار راټوپ کړل او غېږه په غېږه سوه جنګ یې شروع کړو.

دا چې زما پلار هم د وخت مُلا وو هڅه یې وکړه چې د بلا د شا د کمڅیو ځخه یوځه کمڅی رابېرې کړي!

چې بلاخره پلار مي په دې وتوانېدی چې، د شا د کمڅیو ځخه یې ځو وېښته رابېرې کړه. زه هم د همدې جالبې او د وام ډکې صحنې تماشه کوم.

کله چې مې پلار د بلا د شا د کمڅیو وېښته په لاس کې راښېل کړه بلا هم کراره سوه او خبرې یې شروع کړې.

په داسې حال کې چې خبرې یې بیا د انسان په ډول وې. زه د دوی دې جالبې او د وام ډکې مناظرې ته ګوته په غاښ پاتې وم چې دا هرځه ځ وینم!!

پلار مي ورته وویل: ته دلته څه کوې چې، راغلې یې، نه شرمېږې چې په لارو کې پرته یې او خلک زورې؟! په داسې حال کې چې ځوک زورل نه کار نه دی.

- بلا : تاسې نه شرمېږئ چې له ماسره کار لرئ او اوس مو زما وېښته وکښل! هیله کوم زما کښلي وېښته بېرته راکړئ!

-پلار مي : نه! هیڅکله به یې هم درته درنه کړم ځکه چې زه پوهېږم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته له دې وروسته زما د بچو او د کورنۍ د غړو سره بيا کار لرې!

- بلا : نه قسم دي مي په خداى وي که ورته هيڅ هم ووايم بس ته يـوازې زما وېښته راکړه.

پلار مي ورسره خبري بس کړې او بلا ته يې وويل چي مخکي سـه او خـه! هرځاى چي مور ځو هلته به ته هم راسره ځې. پـلار مـي بلاخـره بـلا کـور تـه راوسته او په کور کي يې ټينګه وتړل! په سهار چي مو کله د کورنۍ هـر غـړى راولاړېږي ګوري چي، يو ناشنا بلا ده او په کور کي تړل سوې ده او له خـولې څخه يې ټول مُرداري وتلې وه چي حويلي يې ډېره بوينه کړې هم وه. نور نو خداى ج خبر چي دې به نو څه خوړلي وه!!

پلار مي راغی بيا يې ورسره خبري شروع کړې او ورته يې وويل : نـور دي ونه وينم په دې سيمو او علاقو کي ! بس خه ځان دي ورک کړه!!

- بلا : سمه ده زه ځم بس ته يوازې هغه زما پرې سوي وېښته بېرته پـه لاس راکړه، بيا هيڅ نه را ګرځم دې کلي ته!

-پلار مي: نه ! نه ! نه يوازې دا چي ته به دلتـه پـه دې کـلي او بانـډو کـي ګرځې بلکي له دې ځم او غم څخه به وځې او ځې به غرونو ته او يوه بله مهمه خبره داده چي، زما د اولادونو او کورنۍ غړو سره به کار نه لرې!

- بلا: سمه ده زه بيا هم درته قسم خورم چي، کار نه لرم ورسره خـو پـه يـو شرط هغه دا چي زما وېښته بېرته راکړه!

بلاخره پلار مي مجبوره سو او کنبلي وېښته يې بلا تـه ورکـړه. بـلا چـي کلـه خپل وېښته وليد ورته وې خندل او ډېر خوند يـې ورکـړ او پـلار مـي رخصـت ورکړ. بلا ولاړه مور مو د پلار څخـه ددې جالبـه او وام د کيسـې پوښـتنه وکـړه چي، ولي دي وېښته نه ورکول!

هغه راته ويل : دا ډول بلاګـاني پـه اول ځـل هغـه کسـاني وي چـي تـازه ناوياني وي او ودونه يې کړي وي کله چي دغه ناوې د ځلوېښتو ورځو څخه د مخه د کورنه يـوازې راوځـي بيـا چـي ووېرېږي نـو بيـا داسي شـياني بيـا پـه تدريجي شکل ورنه جوړېږي. خو کله چي غواړې ورباندي غالبه سې بيا يې د سر وېښته وباسه !

وروسته مور ټولو وويل چي رښتيا هم نړۍ کي ډېر افتونه شتون لري!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:**

هر کله چې مو چاته غُصه راسي هغه ته وايو چې، بلا دې ووهه! بلا هغه څه ده چې، له ليرې يې ناوړه اغېز پر انسانانو پروت دی د هغې لمسول او وهل خو ډېره ليرې خبره ده.

بلا سره داسې کار کول لکه پورتنۍ کيسې کې چې ذِکر سوه بښه کار نه بولم. علت يې دا دی چې، مُمکن ډېر تاوان انسان ته ورسوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پیریانو مولوي!!

د اسلام مقدس دین داسي دی چي، د نړۍ په بېلابېلو برخو کي یې انسانان او پیریان پیروي کوي. چي ددې جملې څخه چي زیات خپل دین ته ژمن پاتي سوي هغه پیریان دي.

په یوه دیني مدرسه کي مو دیني زده کړي پیل کړې. په دغه مدرسه کي خورا لوړي زده کړي کېدلې چي له هغو څخه یو هم د احادثو دوره وه چي خورا زیات زده کوونکي یې لرل. زه هم په همدې دوره کي وم او زده کړي مي پکښي کولې.

هره ورځ به مو د ورځي په سر کي خپل درسونو ته ادامه ورکول بیا به مو د احادثو دورې استاد راته اجازه را کول موږ به هم خپل د مدرسې و کنجونو ته ننوتلو او راکړل سوی درس به مو له ځان سره تکراروی، ترڅو درس مو زده سي او استاد راته بیا په غُصه نه سي!

د درسونو لړۍ مو روانه وه کله به سخت او به هم راته اسانه سوه. ملګرو سره به مو د مسافرۍ شپې او ورځي تېرولې.

د درس تګلاره مو داسي وه چي د ورځي له سر څخه به مو پیل کړ بیا به استاد زموږ په یوه اړخ کي کښېناستی او موږ به ورباندي د دایرې په بڼه راتاو سوو.

بیا به مو د استاد د حکم سره سم د درس تګلاره اختیاروله او خپل درسونو ته مو په داسي شکل ادامه ورکول.

جالبه دا وه هرکله به چي موږ ته استاد درس راکوی یو کس به زموږ استاد ته راغی او د هغه په انګړ کي به ناست وو او خپل درس به یې ورباندي وویی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل یې انسان ته ورته وو خو، د انسان خوند او رنګ دومره نه وو ښکلې لکه څرنګه چې نور عادي انسانان دي. زموږ ذهنونه هم دغه ناشنا کس ته واوښتل چې دا به نو اوس څوک وي او ولې یې زموږ فکرونه د ځان خوا ته جذب کړي دي؟!

یوه ورځ د درس څخه وروسته زموږ استاد ماته دنده را وسپارل چې ته دغه ناشنا کس تعقیب او رقیب کړه ترڅو موږ پوی سو چې دا څوک او څه کاره دی؟!

ما همداسې وکړه ناشنا کس پسې- تعقیب سوم او تل به ورسره یو ځای ګرځېدم په داسې حال کې چې. دا کس زموږ سره په مدرسې کې د شپې او ورځې یو ځای وو!!

یوه شپه موږ په مدرسه کې دننه خپل د خوب ځایونو ته ولاړو ترڅو بیده سو او بیا سهار پروخت راولاړ سوو. موږ د خوب خوني ته ولاړو ټول خپل پر چپرکټونو پرېږ وتلو او په سر مو تلتکونه راکش کړه.

ماته چې مې استاد دنده سپارلې وه چې زه باید دا ناشنا کس وپېژنم چې دا څوک دی! نو پر سر مې ورو تلتک راکش کړ او سترګې مې د ناشنا کس خواته ور واړولې او فکر مې ټول همدې کس ته کړ او ورناري مې کړ چې هلکه ګروپ مړ کړه موږ بیدېږو!

ناشنا کس راته ویل : سمه ده زه یې وژنم ته پرېږ وځه!

زما چې په سر تلتک کش وو خو نور مې ټول فکر و ده ته وو ده هم لاس ور اوووووووږد کړ او ګروپ یې مړ کړ په داسې حال کې چې له ده څخه د ګروپ بټن درې متره لیرې وو!

زه پوی سوم چې ناشنا کس انسان نه دی بلکې پېری دی!!

او زما د استاد شک پر ځای وو ځکه چې، هغه په همدې خاطر ماته دنده راکړې وه چې ددې کس رنګ او خوند د انسان نه دی مُمکن پېری وي.

پېري چې کله زه ولیدم نه یم بیده او دی تعقیبوم ورو له خپل ځای څخه ولاړ سو او حرکت یې وکړ. ځکه چې دی پوی سوو چې اوس به ټول کسان راباندې خبر نه کړي چې زه انسان نه یم بلکې پېری یم!!

دا نو داسې وخت وو چې په سبا باندې زموږ د احادثو د دورې دستار

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندي وه چې، په دې دستاربندۍ کې همدغه پېرى هم شامل وو کوم چې زموږ سره یو ځای زده کړې کولې.

سهار سو استاد ته مې ټوله کیسه وکړه هغه هم خپل په مُبارکو برېتو کې مُسکی سو او وې خندل. زه پوی سوم چې استاد مې له وختي څخه پوهېدی چې دا کس پېرى وو خو ددې لپاره چې ډېر باوري سي نو زه یې ورپسې- په تعقیب کړی وم.

استاد مي راته وویل : هیڅوک ددې موضوع څخه خبر نه کړې کنې موږ ته به ډېر تاوان ورسېږي!

بلاخره د دستار بندۍ مراسم راورسېدل ومې لیدل چې، هغه پېرى د دستاربندۍ د مراسمو په سر کې ناست دی . زه چې یې ولیدم راته یې وخندل او زما خواته راغی.

پېري راته وېل : پلانکیه جوړ یې؟!

- زه : هو شکر دی فضل د پاک رب ج دی ښه یم! ستا څه حال دی؟!

- پېرى : زه هم شکر دی ښه یم! زه مابنام پوی سوم چې ته زما په تعقیب کې وې خو ژمنه راسره وکړه چې هیچا ته به هم یاده موضوع نه وایې!

- زه : نه یې غمه سه وروره! هیچا ته به هم نه وایم

- پېرى : سمه ده ګرانه ! خو زه درسره مینه لرم په همدې خاطر د دستاربندۍ د مراسمو وروسته تازه خپل د پیریانو کلي ته بیا یم خو، شرط دا دی چې له استاد څخه رانېولې تربل چاپوري هیچا ته به هم نه وایې!!

ما چې کله خپل د دورې پېري خبري واورېدې او مینه مې وکتل چې زما سره یې کچې مینه لري ورسره مې ژمنه وکړه چې خم درسره او هیچا ته به هم نه وایم!!

د دستار بندۍ د فضلیت مراسم ختم سول او د پېري ټولګیوال سره مې پر تورو غرونو حرکت وکړ.

کله چې تریو ځایه ورسره ورسېدلم پېري مخ زما خواته را واړوی او د جېب څخه یې یوه ګوتمه را وایستل او ماته یې وېل : دا په ګوته کړه! او یوه خبره یاد ساته کله چې مې ته زموږ کلي ته ورسولې هلته به بسم الله نه وایې! که دې وویل موږ ته به ډېر تاوان را واړوې! ځکه چې په دې سره موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوښمنۍ ته مجبوره کېږو!

ما چي کله ګوتمه په ګوته کړه د دنيا رنګ او خوند ښځخي بل ډول سوه. هرڅه مي تر سترګو نابلد مالوم سوه.د نړۍ د هيڅ خطر احساس مي نه کاوه!!

او ورسره ژمنه مي وکړه چي سمه ده بسم الله به نه وايم!!

دا چي شپه وه زه او پېرۍ ټولګيوال مو يو ځاى په تورو غرونو کي روان وو ډېر ستړى سوى هم وم ورته مي وويل: هلکه دا ستاسي ځاى ولي نه را رسېږي؟!

- پېرى : حوصله وکړه يار ډېر ژر به زموږ کلى را ورسېږي او وبه وينې چي څومره خلک زما مراسمو ته راغلي دي!

يوځه تګ مو نور هم وکړ ومي ليدل چي د يوه غره په پاى کي يو کلى دى ټول سره ځراغونه دي چي په کورونو کي لګېږي او خلک را ټول دي!!

بلاخره را ورسېدو ومي کتل چي خلک را روان دي نر او ښځي دي چي زما د ملګري و غاړي ته ګُلان ور اچوي! او مُبارکى ورکوي. کله چي مي دا حالت وليد ډېر حيران سوم چي دومره مينه چي پيريان خپل د دين او علما وو سره لري د هغې په لږ اندازه يې انسان نه لري!!

پيريانو نه يوازي دا چي خپل د فارغه سړي قدر يې وکړ زما يې هم ډېر قدر وکړ او ډوډۍ يې را واخيستل! ددې پرځاى چي زه د هغوى د قدر په مقابل کي صبر وکړم او حق يې ادا کړم برعکس ؛ نور مي هم دربدره کړه!

کيسه داسي وه!

کله چي دوى ماته ډوډۍ راوخيستل زما فکر نه وو بسم الله مي وويل!

زما د بسم الله ويلو سره سم توره شپه سوه اخ و ډب شروع سو ! نر او توريالى کس هغه وو چي چړې يې په لاس ورغلي واى او يو او بل يې قتل کړي واى.

زه چي پوى سوم چي ټوله دربدري ما خپله وکړه او په غلطۍ کي رانه بسم الله وويل سوه. خکه چي ماته خو مي ملګرې پر لاري ويلي وه چي بسم الله به نه وايې!

لار رانه ورکه سوه او پر يو خوا مي مخه ونيول او را منډه مي کړه. هله هله هله هله .........

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حساب څخه ورکې شپې او ورځې مې پر لارې تېرې کړې!

تنده، بې خوبي ، ګرمي ، يخني ، وږتيا ، تږتيا،لېوتنوب او دربدري هغه څه وه چې پر لارې مې تېر کړه.

يو ځاى راغلم يوځه د باران اوبه وې د مُردارۍ څخه ډکې وې هغه مې وڅښلې وروسته د يوې مياشتې تګ څخه په يوه ځنګل کې يو کلى وو هغه ته مې ځان را ورسوى.

کله چې کلي ته راغلم ومې کتل چې، خلک راته حيران حيران ګوري او زما څخه هم د انسانيت توقع او احساس تر ډېره ليرې سوى وو. په کلي کې به مې چې هر انسان وليدى ډوډې به چې ورسره وه هغه به مې په زوره تري واخيسته اوخوړل به مې. جامې مې د ډېرې ککړتيا څخه کلکې سوې وې چې لږ به مې لاس ور وړ فکر به مې کوى چې کلک سوي سمبټ دي.

بلاخره مې په همدې کلي کې د شريفو مسلمانانو په مرسته د انسانيت پر اخلاقو نېک ګام کېښېوى او د انسان په درد مې بېرته ځان خبر کړ.

دا چې زما پر بدن څومره دردونه تېر سوي وه او زما په غياب کې څه تېر سوي وه زه هم نه وم ورباندې خبر!

خکه چې زه کله د پېرې ملګري سره تلم هغه وخت زما تګ يو څو شپې خو کله چې زه د هغې خوا په داسې ويرجن او غمجن حالت کې راغلم د يوې شپې لار له يوې مياشتې څخه هم ډېره سوه.

بلاخره زه بېرته د پخوا پر حالت سوم او د استاد خوا ته مې راغلم هغه ته مې ټوله کيسه بيان کړه. استاد مې په ډېرو ستونزو خوشاله کړ، په داسې حال کې چې هغه زما څخه په داسې کار ډېر خپه سوى وو او راته يې وويل : ته ولې زما د اجازې پرته تللى وې په داسې حال کې چې زه ستا استاد وم؟!

دا دى کلونه کلونه کېږي خو زما له ذهن څخه دا کيسه نه ده وتلې او تل مې خپل وجدان ته ملامتوي!

**د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:**

کيسه د جالب حالت څخه نور هم ور اوښتې ده.

زه ددې کيسې د پېښېدو علت په دې کې بولم چې، بيا هم د فکر او عقل

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ليرې پريکړه سوې ده. ځکه چې هيڅ ته هم نه ښايي چې دغسې- يو لوی کار ته دې لاس واچوي او بيا دې خپل پر ژمنې وفا هم ونه کړي.

په راتلونکې يو الله ج پوهېږي که دغه انسان هلته بسم الله هم نه وای ويلې، نو څوک ددې خبرې ډاډ ورکولی سي چې ووايي دې انسان ته هلته کوم خطر چا نه رسوی؟!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پيريانو سره مناظره!

کور کلي داسي شی دی چي هلته پېری تل شتون لري خکه چي د پېري کار د انسانانو او يا هم د هغوی د خوړو سره وي او د پېري د خوړولو ځېز بيا هډوکی دی چي تل وربانديي ګرځي او را ګرځي.

زما مور هم د پېري د شکل سره اشنا وه ځکه چي هغوی تل ورسره کار وو او تل به يې زورول!

يوه ورځ مي مور په کور کي په يو کار ډېره خپه او خواشېنې سوه په يو خل وربانديي بيا د پيريانو ځپه وربانديي راغله او چغې يې شروع کړې مور ټول د کورنۍ غړي وربانديي راټول سو او ټينګه مو ونيول، ځکه چي کله به مي هم په مور دغه ځپه راتله که مو نه وای نېولې منډې به يې وهلې. نو مور هم ځکه ټينګه نيول چي منډې نه کړي او ځان ته کوم تاوان وانه ړوي!

مور مي ډېره بې تابه او بې حاله سوه. که څه هم دا صحنه مور ته نوې نه وه او مور ورسره عادي سوي وو خو، ډېره دردونکې به هم وه ځکه چي هيڅ اولاد هم نه غواړي چي مور دې د هغوی په مخ کي وزورېږي.

د مور حال او احوال مي ورو، ورو خرابېدی. پيريانو په يوځل زما د مور په خوله خبري شروع کړې. ما هم ورسره مناظره شروع کړه ترڅو د مور درد مي وربانديي را کم کړم.

پيريانو ته مي وويل : څنګه ياست يارانو؟!

- پيريان : ښه يو سور ږيرې ځپل حال وايه؟!

- زه : ګورئ تاسي ولي زما مُبارکه مور تل په عذابوی تاسي له خدای ج څخه نه وېرېږئ؟!

- پيريان: تاسي انسانان شرم نه لرئ! مور ستاسي مور نه په عذابوو خو کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تاسي مو مور خپه کوئ او یا هم ورسره جنګ کوئ او بیا هغه خپه کېږي بیا په هغه حالت کې مور وربانديي راځو!

-زه : سمه ده خو اکثره وخت یې مور نه په عذابوو خو تاسي یې بیا هم نه پرېږدئ او دومره یې په عذابه کړئ چې، د هغې پر مُبارک مخ د اوښکو سېلابونه را مات سي.

- پیریان : نو چې تاسي یې په عذابوئ نو زمور خخه څه ګیله ده؟!

- زه : ګورئ زه پوهېږم چې، یوازي دا علت نه دی چې مور مې کله خپه سي نو تاسي وربانديي راځئ اصل کې حتمن تاسي کوم بله ګټه لرئ چې، زما کعبه مور په عذابوئ.

- پیریان : ته رښتیا وایې! اصل کیسه داسي ده چې، یوه ورځ ستاسي مور د شپې لخوا پر اېرو کښېناستلې وه. په هغه اېرو کي زموږ یو کور وو او موږ نه وو په هغه شپه باندي تللي وو بل خای ترڅو خپل وړي اولادونو ته یو ګوله حلاله نفقه راوړو!

یوازي زموږ په کور کي زموږ څو ماشومان پاتي وه هغوی چې ستاسي مور لیدلې وه ورسره حرکت یې کړی وو او ستاسي کور ته ورسره راغلي وه.

موږ چې کله کور ته راغلو ومو کتل چې په کور کي ماشومان نه سته ډېر مو ورپسي پلټنه وکړه ترڅو پیدا یې کړو خو بریالي نه سوو.

وروسته د ډېره وخته مالومات راته وسو چې ماشومان مو ستاسي په کور کي دي او ستاسي د مور سره راغلي دي!

له هغه وروسته موږ ستاسي کور ته درغلو او خپل ماشومان مو راوستل په داسي حال کي چې ماشومان ستاسي له مور څخه نه راتلل او هغه یې ډېره خوښه سوې وه. نو په همدې خاطر مو بیا ستاسي مور سره اړیکه پیدا سوه او هروخت یې په عذابوو.

او دا هغه وخت وو چې، تاسي ټول د بیدېدو په حال کي واست او موږ ستاسي مور و وېرول تاسي ټول راغلاست خپل پر مور مو چغې او بغاري شروع کړې.

نو اوس چې هرکله زموږ ماشومان ستاسي د مور خواته راځي بیا موږ ستاسي مور په عذابوو څکه چې زموږ کار اوس دا ګرځېدلی دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه : بنه ! بنه ! بنه ! نو کیسه داسې ده! خو تاسې ولې خپل ماشومان نه در ګرځوئ چې هغوی زما د مور خوا ته راځي او بیا په هغه خاطر زما مور په عذابوئ؟!

- پیریان : مور ډېره هڅه وکړه چې خپل ماشومان پرې نه ږدو چې دلته راسي خو هغوی ته ستاسي مور خوند ورکړی نو ځکه نه ورځخه ګرځي!

- زه : سمه ده ! دا راته ووایاست چې تاسې مُسلمانان یاست او که نه؟!

- پیریان : هو شکر الحمدُالله مور مُسلمانان یو! که غواړې کلیمه درته ووایو!

- زه : نه بس زه پوی سوم چې تاسې په رښتیا مُسمانان یاست !

د ځو خبرو وروسته مې مور پر حال راغله او پیریان ورنه ولاړل او خبره خلاصه سوه.خو بیا هم ځیني وخت ورته راځي او په عذابوي یې!

**د لیکوال نظر د کیسې په تړاو:**

که منطق ته ځېر سو نو وبه پوهېږو چې ځیني وخت د پیریانو منطق ډېر قوي وي د کیسې نوعیت که وځېږو د پېښېدو علت یې دا وو چې د کیسې مور پر اېرو کښېناستلې وه ، په داسې حال کې چې د پیریانو اصلي کورونه پر اېرو وي. نو انسان ته نه ښایي چې په دغسې خطرناکه ځای کې دې کښېني. ځکه چې دومره لوی غم به ورته پېښ سي لکه د پورتنۍ کیسې و اشخاصو ته!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شوخ پیرۍ!!

یوه شپه په خونه کې پرېوتم د خوني ګروپ مي بند کړ او پر سر مي تلتک راکش کړ. ومي کتل چې د خوني ګروپ ولګېدی!

سترګې مي ومورلې او را پورته سوم ږغ/غږ مي وکړ چې څوک یې څه وایې؟!

خو هیڅوک هم مالوم نه سوو!

حیران پاتي سوم چې دابه څوک وي په داسي حال کې چې په خونه کې یوازې یم!! فکر مي وکړ چې شاید د کورنۍ کوم غړی به دي وي اوس غواړي چې په عذاب مي کړي او شوخي راسره وکړي!

ورغلم د خوني ګروپ مي بیا بند کړ او ورته مي وویل چې هرڅوک یې خدای ته وګوره مه مي په عذابوه پرېږ مي زړه چې ویده سم!

بیا راغلم او پرېوتم. یوه شېبه نه وه تېره سوې چې بیا ګروپ ولګېدی!

له سر څخه مي تلتک لیرې کړ ورته ومي کتل چې هیڅوک هم نه سته ددې پرځای چې ور ولاړ سم ګروپ بېرته بند سو!

دا خل مي په زړه کې لږ بېره زیاته سوه او پوی سوم چې کار د انسان نه دی بلکې بل څېز دی.ور ږغ/غږ مي کړه چې، پوی یم یاره چې ماما یې نور مي پرېږده چې یوڅه خوب وکړم!

خو همدا لږی روانه وه تړوله شپه مي خوب ورڅخه ونه کړ. ان تر دې چې د مُلا تر اذانونو پوري یې ګروپ بندوی او بیا یې بېرته لګوی!

کله چې مُلا اذان شروع کړ ورته مي وویل: کـه د خدای ج د نوم څخه بېره لرې نور مي خوب ته پرېږده! یوازې دومره یې ږغ/غږ وکړ چې، لمونځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي وکړه بيا ويده سه زه هم را ولاړ سوم لمونځ مي وکړ بيا ويده سوم.

که څه هم دا کيسه نوې نه وه ما ته څکه دردناکه وه چي زموږ ټوله کورنۍ د داسي کړنو سره بلده وه. خو زه يې په دغه شپه له خوب څخه و ايستلم.

**د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:**

ځيني کورنه په داسي جغرافيې کي موقعيت لري چي، هلته د پيريانو بازار او انګار وي.

د کيسې د پېښېدو په علت کي پورتني کس نه دی ملامت څکه چي، هغوی د کورنۍ غړي ټول په دې کارونو بلد دي او دا هرڅه ورته جالب نه ښکاري په داسي حال کي چي، هغوی ورسره عادي دي.خو انسان بايد د ځينو حالاتو سره په حوصله ګام کښېږدي!

که د حوصلې څخه کار وانه خلي مُمکن د کوم لوی تاوان شاهد و اوسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بدو مینه!

مینه داسي ځیز دی چي د زړه څخه سرچینه اخلي. زړه بیا د اوبو څخه سرچینه اخلي. د زړه اوبه هغه وخت کمېږي چي، انسان باندي مسلسل غمونه وي. کله چي زړه وچ سي مینه هم ختمه سي او خپل مقاومت له لاسه ورکړي.

که څه هم ماشوم نه وم د بلوغ مرحلې ته رسېدلی وم.خو د واده او کوزدې له لفظونو سره مي خورا تعصب درلود او نه مي غوښتل چي دغه مرحلې ته داخل سم.

د پلار مور او کورنی د غړو په ډېر ټینګار یې راته یو ځای انتخاب کړ چي دلته به درته کوزده وکړو او ته هم له دغه ځای څخه مه تېرېږه!

زه هم د ننی پېړۍ له عقل او تفکر څخه خورا اغېزمن سوی وم او تل مي فکر کاوه چي باید خپل د خوښي مطابق ګام او نښان واخلم.

خکه چي ښځه داسي جامه ده چي په ټول ژوند کي به یې له غاړي نه باسې ان تر هغه چي کله څوک مړ سي بیا دغه جامه ترې لیري کېږي. سپینه جامه چي د کفن په نوم ده هغه ور اغوستل کېږي.

که څه هم په ډېرو ښتونزو مي د مور او پلار دغه وړاندیز ومنی چي سمه ده ستاسي ټاکلي ځای باندي به سوچ وکړم خو بیا هم حالاتو راڅخه خپل بدل او اجل واخیستل. زه یې دومره وتکولم چي تر اوسه مي اندامونه رېږدي او خوږېږي!

پلار او مور مي خورا خوښ خوشاله وه پلار به مي چي کله زه به فکر او سوچ کي ولیدم

ماته به یې ویل : زویه ته خو تر اوسه ماشوم نه یې چي دومره فکر کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خان دي په داسي سوچونو وخوري! که ته د پيسو او غمو غم لرې هغه دي ټول پر پلار دي، ته نور د څه شي غم کوې؟!

- زه : پلاره زه پوهېږم چي زه به يوه ورځ حتمن د نوي ژوند مرحلې ته داخلېږم او کوزده به کوم خو، ددې سره، سره چي زه دغه مرحلې ته داخلېږم ماسره ډېر فکرونه مل دي! ما چي خپل د ژوند دوه ويشت سپرلي تېر کړه ؛ هغه ددې لپاره چي يوه سمه کورنۍ مي په نظر راسي بيا به تاسي ته ووايم!

- پلار مي : ګوره زويه ! زه دا پنځه لس کاله کېږي چي تاته د همدې کورنۍ وړانديز کوم چي مه ورځخه تېرېږه بهترين انتخاب دی ستا د بنه ژوند لپاره!

- زه : سمه ده پلاره! خپل په ژوند کي مي ستاسي يوه خبره هم پر ځمکي نه ده غورځولې دغه پريکړه به دي هم ومنم. خو دلته ځيني نور مسايل دي پلاره! تا چي کومه کورنۍ انتخاب کړېده، د هغوی رواج او باج بل ډول دی! هغوی مُمکن ډېري پيسې درځخه مصرف کړي!

- پلار مي : بس زويه! زه نه پوهېدم چي ته دومره سوچونه د څه شي لپاره وهې! اوس پوی سوم چي ستا فکر ټول د پيسو خوا ته تللی وو! هغه هرڅه پر ما دي ته نور له هرڅه خلاص يې.

د پلار دا خبرې چي مي واورېدې خدای سته زړه مي يوڅه نور هم ډاډه سوو فکر مي وکړ چي زه اوس د نړۍ پاچا يم!

يوازې په دې فکر او ذکر کې سوم چي اوس بايد خپل راتلونکې او جوړېدونکي مېرمن په سم ډول ووينم او ترې وپوښتم چي، ايا زه دي خوښ يم؟!

لکه ځرنګه چي هره مينه لېونتوب او ساده توب لري همداسي دغه مرحلې هم زما پر زړه خورا تېري ېېري سوې! ډېر خوند يې هم راکړ خو برعکس ؛ له حد ځخه زيات يې وردولم هم!

بلاخره ما په ډېرو ستونزو او کړاهونو خپل د راتلونکي ليلا سره اړيکه پيدا سوه، زموږ ترمنځ ورکي او نادرکي ميني دومره پياوړتيا پيدا کړه چي د مجنون او د ليلا مثال يې ورک کړ!

موږ يې خپل په زړونو کي دومره ګران کړو چي خپل د مثال کس مو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدل! خپل اصلي نومان مو له ډېره نازه ورک کړه په یو او بل نامه مو د ډېري مینې سره ږغ/اغږ کوی.

د مینې تارونه مو تر دې حالته اوږده سوه چې ان د دواړو خوا وو د کورنۍ غړي مو هم خبر سوه. هغوی چې زموږ د مینې تماشه او مېله وکتل چې له جغرافیې څخه لیري خو په زړه کي دومره نږدې مینه موږ خپل په ژوند کي هم نه وه لیدلې نو ډېر حیران هم سوه.

موږ هڅه وکړه چې مینه مو د اسلام مقدس دین په چوکاټ کي ثبت کړو او کورنۍ ته مو ووایو چې موږ خوښ یو د دواړو په یو ځای کېدلو کي هیڅ ستونزه نه لرو!

بلاخره ما خپل د کورنۍ غړو ته وړاندیز وکړ چې سمه ده هغه ستاسي کړې خبره زما قبوله ده هیڅ ستونزه نه سته پکي. یوازي تاسي بسم الله وکړئ او کورنۍ ته یې ورسئ زما لپاره یې وغواړئ.

کورنۍ مي په ظاهري ډول راته د خوښۍ سر وښورئ چې سمه ده زویه موږ ورځو درته غواړو یې ته هیڅ فکر مه کوه!

دا چې زما د پوهنتون د رخصتۍ لړۍ هم ختمې سوي وې باید پوهنتون ته راغلی وای او درسونه مي پیل کړي وای خو مخه مي خپل د نوي ژوند نوي پړاو ونیول او ونه توانېدم چې پوهنتون ته راسم په همدې موخه مي کورنۍ ته وویل : تاسي لږ بېړه وکړئ دغه کار خلاص کړئ چې زه بیا خم پوهنتون ته مي!

د کورنۍ غړي مي چُپه خوله پاتي وه هیڅ یې هم راته نه ویل. زه به هره شبه خپل د ژوند ددغي نوي مینې په سره انګار کي پروت وم او څمکي هم اما هیڅ کرار نه راکوی.

لیلا مي یوه ورځ په تلیفون کي په ژړا راته وویل : ګرانه نن مي یو ملګري راته وویل چې کیدای سي د پلاتکي اکا زوی درته په مرکه درسي او تا ستاسي له کورنۍ څخه وغواړي! هیله کوم زړګیه کورنۍ دي په بېړه را واستوه کنې خدای مه کړه د ټوله ژوند لپاره به سره بېل سوو.

ما چې مي کله خپل او خپل د لیلا معصومه خبره د ذهن په انځور کي راوسته خپل بې وسۍ بې نهایته وژړولم چې، زه څومره بد قسمته وم لومړی

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د مینې په اور نه وم ګډ سوی بیا چې کله خپل د کورنۍ د غړو په غوښتنه ورګډ سوم اوس هغوی مې هم له دغه اور څخه نه باسي!

د پوهنتون درسونه یو خوا د لیلا دا خبره مې بل خوا او د کورنۍ جفا هم بل خوا د ژوند ټول خواږه راته ترخه کړه. د کورنۍ هر غړی مې وپېژندی چې اصلي خبره یې څه ده؟ زه پرې ګران وم که پیسه؟ هغوی زما غم کوي که د پیسو؟!

بلاخره درد مې دومره مجبوره کړم چې سترګې سپینې کړم او ورغلم ټولې کورنۍ ته مې مخامخ وویل : اې ظالمانو ! اې د بل په درد نا خبرو! تاسې دې په خدای ج قسم وي چې خپل ضمیر ته نه یاست خجالته؟! زه مو ولې د مینې په دغه سرهٔ اور کښېنولم او اوس مې نه ورڅخه باسئ!

هغوی به هم تل د منطق څخه لیرې خبرې کولې کله به یې راته ویل چې دا کورنۍ سمه نه ده! کله به یې راته ویل د هغوی رواج او باج سخت دی موږ یې نه سو ادا کولی! او کله به یې راته ویل چې صبر کوه خدای ج به هرڅه خیر کړي څه خبره نه ده موږ ورځو درته غواړو یې!

د کورنۍ دغه خبرو به سخت درد راکوی فکر به مې کوی چې زه ددې کورنۍ غړی نه بلکې یو اضافه کس یم! دومره به یې ودردولم چې سمې خبرې به یې هم رانه ورکې کړلې. دومره به یې ودردولم چې، زما ناز او ساز یې هم راڅخه هېر کړی وو!

فکر مې کوی چې پر دې دنیا یواځینی بدبخته کس زه یم!

کورنۍ به مې احساس نه سو کولی او ما به تېنګار نه سو وربانديې کولی دا هغه څه وه چې زه به یې خوړلم!

او همدا لړۍ تر هغه روانه وه چې زما وزن یې ډېر کم کړ.

بلاخره مې خدای ج ناره واورېده او زما لیلا یې تر ما پورې را ورسول!

د کورنۍ غړي مې ورغلل او هغه یې ماته وغوښتل هغوی هم د هو جواب ورکړ او لیلا زما په نامه سوه!

د کوژدې وروسته ژوند هم ډېر عجیب روان وو کله به درد وو کله به خوند وو کله به مې له همدې خوږې لیلا سره جنګ کوی او کله به مو بیا نازونه کول!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ج مهربانه دی! دغه مبارک لفظ مي هغه وخت ښه تحليل کړ، کله چي مي د کوزدې وروسته واده هم وکړ. دا چي د کوزدې او واده په جريان کي راباندي کومي خواري خپل کورنۍ تېري کړې هغه نه درته وايم.

خو لنډه دا چي د پلار هغه خبري مي په سلو کي لس سلنه هم رښتيا ونه ختلې چي ويل به يې زويه ته را باندي د پياز امر وکړه زه به يې په مقابل کي ناز درکړم.

د ژوند لړۍ مو همداسي روانه وه په داسي حال کي چي مي ژوند وو چي يو زه او يو مېرمن مي پکښي با سېواده وو! مورِ غوښتل چي د اسلام مُبارک دين او د حضرت مُحمد مصطفی (ص) د احادثو په رڼا کي ژوند وکړو خو بيا مي هم نامردي کورنۍ خپل د ژوند خوند ته نه پرې ښودم. هغه کار چي به زما په نظر صحي وو هغه به ددوی په نظر غلط وو!

ځيني کارونه به چي ما د کورنۍ په خوښه کول هغه به مي د ليلا نه وه خوښه. ما مي هم ليلا نه سوه خپه کولی ځکه چي له يوې خوا پر حق وه او له بلي خوا يواځيني ښځه وه چي زمورِ په کلي کي يې د ښځې په نوم هيڅوک نه پېژندی ځکه چي له ليرې ځای ځخه مي را وېستې وه. زه دغي نامردۍ تر دې حالته را وستم چي د زړه اوبه يې راوچي کړې.

د ځوانۍ رنګ او خند مي وبايلی خو سره ددې هرڅه مي بيا هم نه خپل د کورنۍ زړه خپل کړ او نه مي هم. ځکه چي زه حيران پاتي وم چي د چا خبره ومنم.

د ژوند پنځه ويشتم سپرلی مي دی خو په ړيره کي مي سپين له ليري ښکاري مېرمن مي دا هرڅه ونه زغمل او پر ځوانۍ را ړنګه سوه او خپل ژوند يې له لاسه ورکړ!!زه هم لکه لېونی پر دې نړۍ اوس يوازي د الله ج ځخه راضي يم نور بس له هيڅا ځخه هم نه يم راضي.

سرې سترګي، ببر سر ، څيري ګريوان، شکېدلي جامې ړنګه ښکه ځواني هغه څه دي چي زما پر وجود بار دي! ددې هرڅه سره هم بيا هم خاندم چي ځوک مي په درد پوی نه سي او ځوک مي بيا کورنۍ ته څه ونه وايي!

خو دا هرڅه يوې خوا ته دا خبره بلي خوا ته چي کورنۍ مي راته وايي ته بر څه شي باندي دومره خان خورې؟ بله ښځه به درته وکړو! افففففف زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږم چې زما کورنۍ نه پوهېږي چې مينه اخيستل کېږي نـه بلکـې ورکـول کېږي!

**د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:**

مينه اخيستل کيږي نه بلکي ورکول کېږي! دا جمله بايد هرڅوک خپل په ژوند کي تحليل کړي او بيا د هغې په رڼا کي ژوند تر سره کړي. کنـې پـورتنۍ کيسه به هم بيا د همدې کس سره تکرارېږي چې دا خبره نه تحليل کوي. خو دومره وايم درته چي خدای ته وګورئ پر هيڅ چا هم دومـره بـاور مـه کـوئ کنې پر ملا به مو دوه ځايه کړي، چي بيا به په ټوله ژوند کي روغ نه سئ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ويرجنه او غمجنه مينه!

د واده يې ځلورمه ورځ وه. د پالنګ د ميز هنداري ته ودرېده او د وېښتو برس يې راواخيست خپل وېښته يې شا ته پرې واړول. له ځان سره يې ورو، ورو د عجايبو ډېې زمزمه پيل کړې.

ورته مي وويل : وه مېرمنې بدرنګه يې! دومره په ناز او نخرو دي وېښته مه ږمنځوه. خير که زما زړه ته نژدې يې!

مخ يې را واړوی او مُسکۍ سوه وېل : شين سترګې زه پوهېږم چي، ته راسره ټوکې کوې. زه چي ستا د زړه په کور کي و اوسم بل چا ته اړتيا نه وينم او هغه ورځ دي مي د مرګ هم سي چي، ستا د زړه د کور څخه و ايستل سم!

د خوبه هم وم را ولاړ سوم وېښته مې بنګل کړه او پر سر مې لاس تېر کړ داد مي ورکړ چي بدرنګي بدرنګي بدرنګي مينه درسره لرم! يوازي په همدې خبري ژوندی يم!

خدای ج مو پر ژوند ورځ په ورځ رحمتونه شېندل زموږ ترمنځ يې د مينې سرحد دومره اوږد کړ چي څوک مو په مثال نه وه. يوازي مو د مينې د خوږو لحظو څخه خوند اخيست.

کيدای سي دا نړۍ به د ازموينې وي نو ځکه الله ج خپل پر بنده خيني وخت د ازموينې پارچه وېشي ترڅو خپل په ازموينه کې ترې حساب وغواړي.

د نړۍ هيڅ ازموينه هم تر دغې ازموينې سخته او کمبخته نه ده.

د ازموينې ترڅنګ په نړۍ کې چي ژوند ورباندې را تاو دی هغه مينه ده مينه داسې سپېڅلی نوم دی چي، انسان د ترخو ترڅنګ په خوږو هم پوهوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د نړۍ سخت ترينه حالتونه په خوږوالي بدلوي.

ما هم خپل د ملګرو او کورنۍ د غړو ترخنګ د مېرمنې سره خورا بې سرحده او بې حده مينه لرل، نه يوازې دا چې ما مينه ورسره درلوده بلکې هغې هم راسره تر دې دوه خلې زياته مينه درلوده.

خدای سته يوه شبېه به مې هم له چا سره نه سوای تېرولی خکه چې د پنځه د قيقو بېلتون مې په ډېرو ستونزو تېروی.

د ناز او ساز ژوند مې يوه ورځ عجبه کار راباندې وکړ چې زه يې هم حيرانه کړم چې دا اوس څه وسوه!

مېرمنه مې ناځاپه مريضه سوه ما هم په بيړې سره ډاکټر ته ورسول ډاکټر معينات وکړه او د يوڅه خنډ وروسته يې يوڅه درمل راکړه رخصت يې کړو!

پوښتنه مې ترې وکړه : ډاکټر صبب زما د ميرمنې څه ناروغتيا وه چې په يو خل را ولوېدل او بې هوشه سوه؟ خو تا بيا ورته دوه پاکټه درمل ورکړه او رخصت دې کړو.

- ډاکټر : خوانه که يې د ناروغتيا د څرنګوالي پوښتنه کوې او بيا د هغه د اورېدو توان لرې درته وبه وايم

کله چې د ډاکټر دا خبرې واورېدې په زړه کې مې داسې درد احساس کړ لکه څوک چې په تېره خنجر ووهي! په تک زېړ رنګ او درېدلې اواز مې ډاکټر ته اجازه ورکړه چې راته ووايه!

- ډاکټر : به ! ستاسې مېرمن د سرطان ناروغي لري هغه د ډېرې مودې را هيسې په زړه کې غمونو ته کور جوړ کړی او هغه غمونه يې خوري! چې اوس ددې لامل سوي چې خپل ژوند ته ډېر ژر د پای ټکی کښېږدي!

د ډاکټر دا بې رحمه خبره چې مې واورېده نور په دې نړۍ نه يم پوی سوی چې په ما څه تېر سوي! يو وخت مې سترګې لې کړې چې د کورنۍ غړي او بنايسته بې وسه مېرمن مې سرته ناسته ده او زه د روغتون پر يو چپرکټ پروت يم!

د مېرمنې سترګو ته چې مې وکتل پر مُبارکو سترګو يې د بې وسۍ اوښکو داسې تويونه وهل لکه د اباسين درياب!

بلاخره له هغه ځايه راغلو خپل کورته! زما د فکر ميلان ټول خپل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايستې مېرمنې ژوند ته وو. په داسې حال کې چې په دې نړۍ کې يو زه او يو هغه ډاکټر پوی وو چې مېرمن مې د سرطان ناروغي لري.

شايد مېرمن مې دومره درد نه احساس کوی لکه څومره درد چې ما احساس کوی ځکه چې زه د هغې په ناروغۍ له هغې څخه زيات زورېدم!

تل به مې الله ج ته لاس لپه کوی او ويل به مې : پاکه خدايه ته خورا مهربان ذات يې نن زه ستا يو ګنهګاره بنده تاته لاس لپه کوم چې يا مې مېرمنې ته ژوند ورکړې او يا ما هم در واخله!

زه به هم د کور کلي په کوم انګړ کې به چې کښېناستم پر ژړا به مې زړه خورا ستړی کړ. دومره به مې وژړل چې ان هرڅوک له ليرې راباندې پوهېدی چې ژړلي مې دي.

تل به مې زړه په دې دردوی چې، مېرمن مې له لاسه ورکوم. لکه ماشوم خپل د ژوند مسير مې نه سوو ټاکلی!

د نيمې شپې نيمه برخه وه مېرمنې مې لاسونه راباندې را تاو کړه او پر غاړه يې بنګل کړم!

سترګې يې د ژړا څخه ډکې وې او ډېر درد دې ته مجبوره کړې وه چې خوله څخه يې بې کنټروله اواز وتی! ماته يې په ژړا کې خپل د ناز انداز وړاندې کړ او راته لګيا سوه : ګرانه زه څومره بختوره مېرمن يم چې نن خپل د خاوند پر مبارک مړوند ژوند له لاسه ورکوم!

زړه مې بې حاله سو هڅه مې وکړه چې مېرمنې ته مې ډاډ ورکړم چې هيڅ خبره نه سته ته ولې داسې بې حاله لګيا يې!

پر خوله يې لاس راته کښېښوی او راته يې وويل : جانانه! ما په هغه ورځ ستا او د ډاکټر خبرې واورېدې چې زما د ناروغتيا په اړه يې درته وکړې! ما تر اوسه ځکه دا خبرې نه درته کولې چې ستا درد نور هم سېوا نه سي.

پر مخ مې د اوښکو سېلابونه را مات سوه او په ننولي اواز مې بيا د تېرې مينې اظهار ورته وکړ ترڅو دغه ترخه شيبه يې له فکر څخه وباسم. لاسونه مې ترې تاو کړه او پر وېښتو مې بنګل کړه.

هڅه مې ډېره وکړه چې د مستې مينې شېبې نورې هم مستې کړم خو د زړه وينې مې ودرېدلې هيڅ مې خپل سلګۍ کرارې نه کړې! يو وخت چې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library





مي خپل د ښايستې مېرمنې منور مخ ته وکتل چي د ژوند د پای اخري شېبې يې وې.

کله چي مي مخ ته ورته وکتل پر سر مي تندر رايله سوه هڅه مي وکړه چي مور ته مي اواز وکړم او د يو دروند، صبرناک خاوند دنده سرته ورسوم خو ترخولې مي يو لوی اواز ووتی چي ددې سره مي د کورنۍ ټول غړي له خوبه را ويښ سوه! کله چي مي مور راغله هغې زما د عاجزو سترګو د اوښکو دريابونه وليدل راباندي چغي يې کړې او په ژړا يې پيل وکړ.

د شپې برخه پای ته ورسول ورځ سوه ټولو د جنازې مراسم سرته ورسول!

د جنازې غم يو خوا خو زما خيري ګرېوان بل خوا ټول و همدې ته حيران وه!!

ډېر بد خوب راغلی وو مېرمني مي راباندي ډېري چغي وهلې وې چي پورته سه خوب دي پوره سوو. اخر يې مازغه راته خراب سوه اوبه يې راباندي وشبندلې ژر را ولاړ سوم ومي کتل چي هرڅه يو خوب وو! مېرمن مي په غېږ کي ونيول او په ناز مي ورته کيسه بيان کړهاو اخر مي شکر و ايستی چي ربه ستا ډېر شکر کوم چي دا هرڅه خوب وو کنې زه به مړ وای.

د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:

د ميني خوږوالی او لذت په دې نړۍ کي په بل هيڅ څېز کي هم نه سته.

ژوند په ميني ښکلی دی چي مينه نه وي د ژوند خوږالی په ترخو اوړي که چيري هرڅوک خپل د مېرمني سره مينه ولري نو د هغه ژوند به خورا په مُحبت او عبادت کي تېرسياو که برعکس څوک ورسره مينه ونه لري د ژوند شپې او ورځي به يې خورا په سختيو کي تېري سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خونکاره سړی!

د غُربت شمال وهلی مسافر وم د ګاونډي هیواد په یوه لوی ښار کـي مـي ددې لپاره شپې او ورځي سبا کولې ترڅو خپل اولادونو او کورنۍ ته یو ګوله ډوډۍ پیدا کړم.

ژوند مي خورا سخت او اسانه وو!

سختوالی یې په دې کي وو چي له کور او اولادونو څخه مي لیري وم تل به مي بې وسي احساسول او چا به راته د اتاڼې ارزښت هم نه راکوی!

اسانوالی په دې کي وو چي هرکار چي به مي کوی څوک هم نـه وو چـي راته یې ویلي وای چي داسي مه کوه! داسي وکړه. ځکـه چـي مـسافري خـورا سخت کار دی که په دغه کار کي څوک درباندي قیودات او بندیزونه ولګـوي سختوالی یې دوه چنده نور هم زیاتیږي.

د جسمي ستړیا ترڅنګ به مي ذهني ستړیا هم ځیني وخـت احـساسول. خدای سته درد به یې زیات وو خو، له بلي خوا مجبوري هم خـورا زوروره وه ځکه چي د کور غربت او د مینې محبت مي اصلي هدفونه وه چـي بایـد لاس ته مي را وړي وای!

د مزدورۍ له زړې خـوني بـه پـه کـم زړه راووتـم ترڅـو د مېشت هیـواد پولیس مي ونه نیسي او راته ونه وایي چي، ته مهاجر یې سـتا د ګرځېـدو حـق زموږ په هیواد کي نه سته!

خــو افـــغانـــــي غـــيرت مي هیڅکله اجازه نه راکول چي بېرې ته مي سر ټیټ کړم.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به چې د سړک څنګ ته ودرېدم کوم مالدار سړی به راغی او د پيسو په مقابل کې به يې کار ته بوتلم. همدا د ژوند او مزدورۍ لړۍ مې رواني وې!
ځيني وخت د غُربت په ژوند کې هم خورا ډېرې ناولدې پېښېږي او جالب پړاونه په ژوند کې سړي ته پيدا سي چې چا يې فکر او ذکر هم نه وي کړی.
يوه ورځ په بدن پنډ سړی راغی او راته يې وويل : زه يوڅه کار لرم که راسره ولاړ سې بنه پيسې به درته درکړم!
- زه : سمه ده خان جي درسره ځم ! خو کولی سئ راته ووایاست چې څه کار دی؟!
- پنډ سړي : هو! په د کور په حويلۍ کې مو يوڅه کثافت او خاوره پرته ده هغه به له حويلۍ څخه وباسې!
خبره مې ورسره ومنل او د ټاکلو پيسو په مقابل کې مې ورسره حرکت وکړ! د ښار په يوه پېچلي ځای کې يې خورا لوړه حويلي جوړه کړې وه. زه ورسره کور ته دننه ورغلم څو پوړه بنګله يې وه!
کله چې يې د بنګلي لومړي پوړ ته ورننوتلم ګورم چې اکثره دېوالونه په وينو سرهٔ دي! زړه کې مې بېره احساس کړه او حيران سوم چې خدای دا څه کيسه ده؟! بيا مې فکر وکړ چې شايد کوم پُسه به يې حلال کړی وي، د هغه ويني به ترې په دېوالونو پاشل سوي وي!
دوهم پوړ ته يې ورغلم ومې کتل چې له شمار څخه وتلي انسانان دي د تولو لاسونه او پښې تړلي دي کله چې يې ماته وکتل هغوی هم حيران سوه چې زموږ په قطار کې يې بل هم ور اضافه کړ!
ددې سره مې په زړه کې بېره څو چنده ډېره سوه بدن مې لرزې واخيست او بې واکه سوم!
درېيم پوړ ته يې بوتنه کړم هلته هم ګورم چې، يو لوی پنډ چاغ سړی پر چوکی ناست دی او سګريټ يې لګولی دی!
کله چې يې ماته وکتل په بربتو کې مُسکی سو ويل: واه واه ډېربنه! ډېر بنه سړی مو راوستی! سترګي يې ډېرې قيمتي خرڅېږي!!!
ددې بې ترسه بنده دا خبرې چې مې واورېدې پوی سوم چې دا خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصل کي هغه خلک دي چي د انسانانو د بدن ځيني غړي پرې کوي او بيا يې په ډېرو پيسو پلوري.

پنډ او چاغ سړي امر وکړ چي د مېلمه قدر وکړئ! اول ښه ډوډۍ ورکړئ بيا ترې حساب واخلئ!

زه پوی سوم چي سترګي مي وباسي او د ژوند اخري شېبې مي دي، فکر مي وکړ چي بايد يو چم وکړم او له دې بلا څخه ځان وژغورم، ورغلم پنډ او چاغ سړي ته مي ځان خورا ساده معرفي کړ چي ما خو نو هيڅ څېز نه دی لېدلی!

ورته مي وويل : خان جي ډېره مننه زه پوهېږم چي تاسي خورا ښه مهربانه شخص ياست زه به لومړی ځان تر تشنابه ورسوم بيا به ډوډۍ تـه راسم او وبه يې خورم وروسته به بيا خپل د مزدورۍ کار ترسره کړم.

پنډ سړي چي زما ساده ګی ته وکتل زړه يې ډاډه سو چي زه د دوی په کار نه يم پوی سوی! خپل کوم کس ته يې ږغ/غږ وکړ چي دا مېلمـه تـه د تشناب لارښونه وکړه!

زما قمست دومره ښه وو چي هغه تشنابونو ته يې راوستم چي د حـويلۍ د دروازې په وروستۍ برخه کي موقعيت درلود څکه چي هغوی نه غوښتل چي په ما باندي هغه کسان ووينې چي دوی عمليات پرې کړی وو . په داسي حال کي چي زه له وخته پوی سوی وم چي دوی ډېر کسان دلتـه د مرګ تـر تېغ ايستلي دي!

تشناب ته راغلم ومي کتل چي د تشناب کړکۍ هم خلاصه ده ورو مـي سر دباندي ترې را وايستی ومي کتل چي په کوڅه کي يو څو ماشومان د لوبې په حالت کي دي خپل سات تېروي!

بلاخره مي په ډېرو ستونزو ځان د تشناب تر کړکۍ را وايستی او د بـازار پر لور مي رامنډه کړه!

نور زه نه يم خبر سوی چي زما شا ته به څه تېر سوي وي او هغه ظالمانو به څه کړي وي.

زړې خوني تـه مـي ځـان را ورسـوی او پـه همـدې ورځ مـي هغـه خـای پرېښودی او خپل د ګران هيواد افغانستان پر لور مي حرکت را وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ج روزي انسان ته ورکوي، په هغه شرط چې انسان حرکت وکړي. کله چې افغانستان ته راغلم د ژوند اقتصادي اړخ مې له پخوا څخه ډېر لوړ سو او توبه مې وکړه چې بیا به په ژوند داسې بد ځای ته سفر ونه کړم لکه ما چې پکې ژوند تېر کړی وو!!

**د لیکوال نظر د کیسې په تړاو:**

د نړۍ په هره برخه کې چې انسان اوسېږي د مزدورۍ څخه نه دی پاتې سوی او دغه نوم هر ځای سته! د کیسې علت ته که پام وکړو د مزدور سړي گنا نه سته! علت یې دا دی چې مزدور هغه کس دی چې په پیسو پسې- خې او پیسې د اشخاصو سره دي! کله چې اشخاص راځي مزدور بیا یې نو باید مزدور ورسره ولاړ سي څکه چې دا د مزدور مکلفیت دی چې پیسې لاس ته راوړي. خو مزدور هم باید د پیسو ترځنګ و هغه کس ته هم پام وکړي چې دی د مزدورۍ لپاره له ځان سره بیایي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې وسه کونډه!

دروازه وټکېدل ورې لور ته مي وېل : خديجې په منډه ورسه د حويلی دروازه ټکېږي وګوره چي څوک دي!

خديجه هم په منډه ورغله دروازه يې خلاصه کړه د خوشالی چغه يې کړه چي شکر پلار جان مي راغی!

په زړه کي وغوړېدم خو سترګي مي غټي کړې او په غُصه مي ورته ووېل : د پلار جان سره دي ورکه سې، څوک دومره چغي وهي؟!

پلار يې وخندل وېل : نن بيا زما بدری جماله پـه غُصـه ده خـدای ج دي خير کړي !!

پلار يې خوني ته راننوتی د سر پر وېښتيانو يې لاس راتېر کړ پر تندي ښکُل کړم وېل : نن ډېر ستړی سوی يم که مي ستا وېښته نه وای ښکُل کړي اوس به مړ وای!

پر خوله مې لاس ونيوی او پـر مخ مـي د نـاز څپېړه ورکـړه او بيـا مـي د څپېړي پر ځای ښکُل کړ ورته مي وويـل : تـوله ورځ د کـور کـار کـوم سـتړيا غمونه او بې خوبی تېروم خو، هغه هرڅه مي دومره نه ستړې کوي لکه ستا دا خبره چي و دي کړه!

د خديجې پلار مُسکی سو وېل : لېونی نـو خـو تـا هـم راتـه مخکـي ښـېرا وکړه، خديجې ته دي ووېل چي د پلار سره دي ورکه سې.

د ګردونو پر نازک مخ مې لاس ورتېر کړ ورته مي ووېل : لېونيه! ته څه فکر کوې زه چي ځيني وخت کومي ښېراوي درته کوم هغه د زړه له تله کوم؟! نه هيڅکله هم نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځي ژوند په خاوند ښايسته وي ؛ خاوند چي نـه وي ښـځه دي هـم نـه وي.

ماښام سو تول و ډوډۍ ته راټول وو تلوېزون مو چالند کړ چي د خبرونـو په سر ټکو کي وايي، په کابل کي چادونه سوې ده چي ګڼ شمېر ملکي وګړي يې شهيدان کړي دي.

د خديجې پلار موبايل را واخيست خپل د تلـوېزون همکـار تـه يـې زنـګ ووهی

وېل : همکار صاحب ښه ياست؟! دا چادونه کله سوې په کابل کي؟! زه خو چي تر مازديګره هلته په دفتر کي درسره وم هيڅ شی هم نه وو!

همکار يې ورته ووېل : بلې هو ګرانه ! تـه چـي د کـور خواتـه ولاړې هغـه وخت چاودنه وسوه!

مـا او خوابنـي مـي ورتـه کتـل د خـديجې پـلار چمتـو کـړې ګولـه بېرتـه سترخوان ته کښته کړه او له سترخوان څخه په شا سو. ډېر ټينګار مو ورتـه وکـړ چي، د خديجې پلاره ډوډې دي وخوره خو، د ډېرو سـوچونو څخـه يـې پـر مُبارک مخ د اوښکو سېلابونه رامات سوه.

د خوب خوني کي مي د خديجې پلار ته ووېل : تاولي د ماښام ډوډې ونه خوړل؟! ته څه خبر يې چي زما او ستا د مور پر زړه هغه مهال څه تېر سوه؟!

- خاوند مي : نه ګراني مانه غوښتل چي تاسي خپه کـړم خـو، زړه مـي پـر دې درد کوي چي نن به يوه داسي ناوې ناسته وي لکه ته چي ماته ناسته يـې خپل د لالي سر به په سپين کفن کي اړوي او را اړوي!

ايا ته د هغې درد احساس کولی سې؟! زه چي هروخت کـومي خطرنـاکي سيمي ته ځم يوازي ستا او خپل د کورنۍ غم راسره وي، په داسي حـال کـي چي خپل خوږ بدن راڅخه هېر وي!

په زړه کي مي درد را ولاړ سو د خديجې د پلار پر خوله مي لاس کښېښوی چي، بس دی خدای ته وګوره په دې اړه نور څه مه وايه زړه مي چوي!

د خديجې پلار راته وخندل زما سر يې خپل په زړه پسي ونيوی او راته يې ووېل: ګراني ژوند او مرګ دواړه يو له بل سره نژدې اړيکي لري ما او تا بيا لـه هغو څخه هم نژدې يو که ژوندی وم ته به هم ژوندۍ يې که شهيد سوم ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم راسره شهيده کېږي.

سهار سو لمونځ مې خلاص کړ غوښتل مې د سهار ډوډۍ چمتو کړم ومې کتل چې شا ته مې د خديجې پلار ولاړ دی ورته مې وويل : جانانه رښتيا چې خبريال يې دومره وختي را ولاړ سوی يې چې، ما د سهار لمونځ هم نه دی خلاص کړی! درخه هغه بلې خونې ته چې د سهار ډوډۍ وخورو!

د خديجې پلار راته وويل : نه د زړه سره ! ما ته مې ملګرو زنګ ووهی چې، نن د فتر ته وختي راسه چې کار مو ډېر دی هغه خلاص کړو.

ډېر ټينګار مې ورته وکړ خو د خديجې پلار هغسې ټينګ وو! ويل : د زړه سره د مور جاني او نور ټولې کورنۍ سره مې د خدای په مانۍ وکړه.

يوازې ته پاتې يې ته هم را تر غاړې وځه او د خدای په مانۍ راسره وکړه!

زړه نا زړه مې غاړه ورکړه پر تندي يې ښکُل کړم او ژمنه يې راسره وکړه چې نن درته د خيره د ښاره يوه ښکلې ډالۍ راوړم چې خوند در کړي!

او حرکت يې را څخه وکړ.تر دروازې ورسره ولاړم تر هغه مې پسې- کتل ترڅو چې مې له سترګو څخه پنا کېدی.

راغلم کور ته کښېناستم خدای سته تر ټولو ورځو په دغه ورځ ډېره خواشينې وم حيرانه پاتې وم چې، زه ولې نن دومره خپه يم!

د کور په کارونو لګيا وم چې په کور کې دننه د خديجې چغې او ژړا مې تر غوږ سوه ورخطا سوم فکر مې وکړ چې بربښنا ونيول او که کوم ضررناکه څيز وخوره!

په منډه ورغلم ورته مې وکتل چې تلويزون ته ګورې او ژاړې پوښتنه مې ترې وکړه چې ولې ژاړې؟!

په نيولې اواز يې راته وويل : په تلويزون کې خبر راغی چې پر خبريالانو په ښارکې چاودنه سوې ده!!

ددې خبرې په اورېدو سره مې پر سر يو بلا را نازله سوه.سر مې وګرځېد ومې کتل چې خوابنې مې راغله هغه هم په ژړا سوه!

دومره توان رانه الله ج واخيست ترڅو موبايل را وباسم او د خديجې پلار ته زنګ ووهم چې، چيرې يې! ته خو به جوړ يې!

بلاخره مې موبايل را واخيست او زنګ مې ورته ووهی خو د موبايل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېرې بې کار نه کوی. زړه مې نور هم وارخطا سو ژر راولاړه سوم د کور شيان مې سره سم کړه او غوښتل مې چې د خاوند دفتر ته مې ورسم چې د صحت په اړه يې خان ډاډه کړم.

د لږ خنډ وروسته مې هرڅه چمتو کړه خوابنۍ ته مې وويل : زه خمه د خديجې د پلار پوښتنې ته کور ته پام کوه! وراندې له دې چې زه د هغه پوښتنې ته ورسم چې د امبولانس ږغ/اغږ مې تر غوږ سو فکر مې وکړ چې شايد کوم ګاونډي د کور ناروغ به وي اوس به يې په امبولانس کې را وړی وي ورته!

د دروازې زُولفي چې مې را خلاصه کړه له هغې خوا بل سړي د دروازې پله خلاصه کړه وېل : ورينداري زه ستاسې د خاوند همکار يم کـه ستاسي په کور کې کوم نارينه وي ورته ووايه چې را ووځي زموږ کار دی ورسره!

زه پوی سوم چې د اسمان تندر چې يو ځل په ځا راولوېږي هغه بېرتـه نـه پورته کېږي له خولې مي يوه لويه چيغه پورته سوه د امبولانس خواتـه مـي ور منډه کړه ومي کتل چې جانان مي د امبولانس په منځ کې پـه بدرنګـه تـابوت کې پروت دی او سپينه په وينو لړلې جامه يې اغوستې! کله چې مي دا حالت وليد نوره پوی نه سوم! يو وخت چې را پورته سوم ومي کتل چې د ښځو پـه منځ کې ناسته يم او کونډه سوې يم!

زړه مي په هيڅ ډول کرار نه راکوی خان مي لـه ځمکـې، ځمکـي ځځـه وهی خو تولو نېولې وم.

جانان ته مي وويل : زما لېونيه تا خو ويل چې زه ماښام راځـم تاتـه ډالـۍ راوړم، ستا ډالۍ دغه ده چې په سپين کفن کې بې راته رواړې؟! مـاخو درتـه وويل کنه چې نن مه ځه خو تا زما خبره نه اورېـدل، خـو زمـا بـې وفـا جانـان ماسره يوه خبره هم نه کول!

زما د سترګو پر وړاندې بې زما جانان د تابوت پرکـټ پورتـه کـړ او زه يـې ترلاسونو ونيولم نه يې پرېښودم چې زه له هغه سره نـاز او خـبري وکـړم. ددې نړۍ دا بې ترسه خلک دي چې زه يې خپل د خاوند سره د وروستۍ خبرو ته هم پرې نه ښودم.

دا خو همه ورخ ده چې په کور کې د خوړو څه نـه لـرو حـيران پـاتي يـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څه شي وخورو. د واده مې درې کاله کیږي چې زه له هغه سره یو ځای سوې یم، خو زه دومره نه یم پوه سوې چې درې دقیقې سوي ؛ خو په دې خو ورځو کې د نړۍ د هر غم څخه خبره سوې یم!

الله ج دې مېرمني ته د خاوند پرته یوه شېبه هم ژوند نه ورکوي اوس یوازې هغه کونډه زما احساس کولی سي چې زما غوندې څوک یې له لاسه ورکړي وي!!

زما جانان چې ژوندی وو هرچا به مې لور نازول خو اوس چې هغه شهید سوی هیچا هم زموږ پوښتنه نه ده کړې! زما د خاوند ګناه دا وه چې هغه یو خبریال وو او ددې بیچاره ملت رغ/غږ یې تر بې غیرتو چارواکو رسوی ! خو اوس نه سته په هغه پسې نن یوه نړۍ پاتې ده!

## د لیکوال نظر د کیسې په تړاو :

ځیني دردونه داسې وي چې انسان په بدن کې دننه سوځوي خو اعلاج یې څوک نه سي کولی. ځیني دردونه د بیان ژبه لري خو څوک یې نه سي عیان کولی.

زه ددې پېښې په تړاو دوه کلمې هم نه سم لیکلی ځکه چې همدا اوس مې له سترګو داسې اوښکې څاڅي چې د کمپیوټر کیبورډ یې لوند کړ!!

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې شُکره مالدار!

زموږ د کلي پر هغه لارې روان وم چې د بازار ته غزېدلې ده زما سره یوڅو ملګري هم وه. زه ددوی سره د خبرو په حال کې وم چې زما تر سترګو یو څیز مالوم سو ورمنډه مي کړه ترڅو ترلاسه یې کړم. کله چې مي را واخیست ومي کتل چې یو پلاستیک دی په هغه کې له حد څخه زیاتې د وخت پیسې دي. ملګرو مخ ته مي د خوشالی احساسات را وپارېدل او چغې مي کړې!

ملګرو راته وویل : پیسې زموږ سره نیمې کړه ځکه چې موږ هم پر لاره در سره وو

ملګرو ته مي وویل: نه یارانو نه سم کولی چې، پیسې درسره نیمې کړم!

بلاخره مي ددوی سره پر پیسو لانجه پورته سوه او ملګرتیا مي ورسره پرې بنودل.

که څه هم د پیسو د پیدا کولو وړاندې خورا غریب وم خو، د پیسو په پیدا کولو سره مي خورا طبعیت د عش عشرت لور ته واوښتی. کور، ملګریاو ټول خپلوان مي هېر کړه.

د عشرت یوې نړی ته مي سفر وکړ. له ذهن څخه مي د اسلام خوږ دین لیرې سو او فکري نړی مي خورا ډېره تبدیله سوه.

یوه داسې هیواد ته مي سفر وکړ چې، هلته د جنسي خواهشاتو ځایونه په عامه کچه خلاص وه. څه چې مي زړه غوښتل هغه مي د فکر په خوله نه کول تل به مي غیر مغرضانه عملونه ترسره کول.

سرې سترګي به د پره دې هیواد په ښارونو او واټونو کې ګرځېدم. یوه ورځ خپل د استوګنځای څخه د جنسي خواهشاتو د کلب پر لوري روان وم موټر ووهلم او ژوند مي له لاسه ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډې کيسې

زما سترګو او زړه هرڅه خارل د هغه هیواد خلکو خپل ګران هیواد افغانستان ته په یوه تابوت کې راواستولم. دلته خپل خپلوانو راباندې خورا غمشریکي وکړه او بلاخره د جنازې د مراسمو وروسته یې خاورو ته وسپارلم.

دوی زه په خاورو کې کښېښودم هرڅه چغې مې ورته وکړې چې ما یوازې مه پرېږدی خو، هغوی زما اواز وانهورېدی او زه یې د ګور تورو تیارو کې یوازې پرېښودم.

څو شېبې تېرې نه سوې ومې کتل چې، دوې بد شکلې فرښتې راغلې او لوی لوی د ګوزارونو د اور مزې ورسره دي او زما سر ته ودرېدې!

او ددې هرڅه پوښتنه وکړم!

ژبه مې بنده سوه هیڅ مې ونه سوه کړای چې، ترخولې مې خبرې وباسم

فرښتې چې ډېرې په غُصه هم وې راته یې وویل : اې بد عمله بنده! ته نن زمونږ په واک کې یې او مونږ درڅخه د تېر ژوند پوښتنه کوو!

- زه : سمه ده! راته وویاست.

- فرښتې : تا په دنیا کې ولې ګناوې کولې؟! په داسې حال کې چې ته الله ج خارلې!

- زه : ما ګناوې نه دي کړې!

- فرښتې : مونږ تاته دروغ وایو؟! تاچې پیسې پیدا کړې ولې دې پر غلطه لار مصرف کړې؟ په داسې حال کې چې هغه د بل چا حق وې!

- زه : هغه ما پیدا کړې! بیا به نه کوم خیر دی ومې بخښئ.

- فرښتې : بخښنه پر دنیا ډېره ګټه لرې هلته یوازې کتاب دی دلته یې حساب غوښتل کېږي.

- زه : ؟؟؟؟؟؟؟

- فرښتې : ته د الله ج هغه بدبخته بنده یې چې،خپل په ژوند کې دې تل غلط فکر کړی او د پیسو شوق درڅخه ابدي نړۍ هم خرابه کړې ده!

ته به اوس دومره وزهېرېږې چې تا یې فکر هم نه وو کړی او په دې به پوی سې چې، د انسان ابدي نړۍ څومره سخته ده!

زما چې خوله بنده وه هیڅ مې نه سوای ورته ویلی په سپین کفن کې مې ددغې ببرې تماشه کول او خان مې د نړۍ تر ټولو بد انسان احساسوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ځان سره مې وويل : کاش چې مې په ژوند کې يوځه سم عمل کړی وای ترڅو په قبر کې مې نن سترګې نه وای تيتې او د دوزخ بد نوم ته به نه لوېدلی!

زه د همدې بد حالت په وخت کې راګير وم هيڅ مې هم نه سوای کولی!
چې مېرمنې مې ږغ/غږ راباندې وکړ چې پورته سه د سهار لمونځ دې قضا کړ!!

کله چې را پورته سوم ومې کتل چې، هرڅه يو خوب وو او هغه خوب چې زما شونډې يې هم له ډېرې بېرې پرې کړې وې. شکر ومې وباسی په منډه را ولاړ سوم اودس مې وکړ او ورپسې مې لمونځ وکړ.
رب ج تر پر سجُده پرې وتم او زارۍ مې ورته شروع کړې چې پاکه خدايه ته يو مهربانه ذات يې ته مې وبخښه زه بيا به هيڅکله هم ګنا او خطا ونه کړم، ما هرڅه خپل په سترګو وليدل!

## د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:

د اسلام مبارک دين خورا واضح او څرګند دين دی چې دروغ پکښې ځای نه لري او بد کړه وړه يې له ځان څخه ليرې کړي دي.د ګنا لار خطا ده او د خطا لار بنه راتلونکې نه لري هغه که يې هر انسان کوياوسنۍ نړۍ د انسان د ازموينې نړۍ ده چې انسان بايد په نوموړې ازموينه کې بريالی سي، که ناکامه سو مرګ به يې د پورتنې شخص د خوب په څېر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زور مينه!

د خوانۍ په خوند او رنګ مې تازه پښه ايښې وه.د پېغلو سره مې د چم ګاونډ پر چاپېريال خبرې کولې. د مينې په نوم مې څه نه پېژندل يوازې مې خپل د انجونو ملګرو څخه دغه لفظ ځينې وخت اورېدی.

په کلي کې مو قانون داسې وو چې څوک به د خوانۍ خامې مرحلې ته داخل سوه که هلک وو ښځه به يې ورته کول ؛ که انجلۍ وای خاوند ته به يې ورکول!

زه دومره پوهه سوې وم چې، د کلي د خلکو شعور مو دومره ټيټ دی چې يوازې د انجونو ورکولو په نوم څه پېژني دې ته نه ګوري چې د انجلۍ او هلک خوښه ده که يا! دا بد رواج دومره ډېره وده کړې وه چې، ټول خلک يې قرباني کړي وه.

په کلي کې به چې ځيني وخت په کومه ښادۍ کې خپل د ملګرو سره مخ سوم بيا به مو د کلي پر دې ناوړه رواج خبري کولې، څوک به چې يې پلار ناخوښه کوم هلک ته ورکړې وه بيا به مو د هغې سره د زړه راز کوی، هغې به هم خپل د زړه د غم غوټې زموږ مخ ته خلاصې کړې او فريادونه به يې کول!

دغه ناوړه رواج زما د ډېرو ملګرو ارمانونه د خاورو سره خاورې کړي وو، خوښ به يې يو خای وو خو ورکړې به يې بل خای وه.

د ډېرو نورو بې وسو انجونو شاهده به هم وم چې، پلار به يې خاوند ته ورکړې يا به هغوی خپل ژوند په ژړا تېر کړ او يا به يې د غمونو د نه توان له لاسه خپل ژوند ته د پای ټکی کېښود.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ داسې وه چې زموږ د کاونډې يوه لور وه هغه يې داسې خای ته ورکړه چې د هغې ناخوښه و، انجلۍ خپل مور او پلار ته وويل : پلار او موري که مو زه دغه بد عمله کس ته ورکړم خان وژنم!

پلار او مور يې د لور خبره جدي ونه ګڼل فکر يې وکړ چې انجلۍ ده، يو خبره يې د زړه له درده وکړه دومره د انديښنې خبره نه ده، څکه چې دلته هرڅوک دا خبرې کوي! خو هغوی دومره نه پوهېدل څوک چې، له کومه درده خبره کوي هغه حتمن بله ناوړه پديده رامخته کوي.

څو ورځې تيرې سوې د انجلۍ واده شروع سو خلکو ويل : انجلۍ هسې- خپل د زړه درد پلار ته بيان کړی وو، هيڅ يې زړه درد نه وو کړی څکه چې هيڅ يې هم ونه کړه چې خلک يې ووينې. په داسې حال کې چې انجلۍ ويلې وه که زه مو دغه کس ته ورکړم خان به مړ کړم!

د واده ورځ پيل سوه دواړې غاړې کورنۍ راټولې سوې. د دواده مراسم هم خورا ګرم سوه د واده ګډونوال هم خورا په خوشالۍ کې ډوب وه.

يوه شيبه نه وه تېره سوې چې،د هغې خونې څخه د توپنچې ړغ/غږ راغی چې ناوې پکښې وه!

د واده ښځو چغې کړې چې ناوې خپل خان وويشتی! موږ هم ور منډې کړې چې د پېښې حالت وګورو کله چې ورغلو ومو کتل چې د ناوې سپين شال په سرو وينو کې لت پت دی! ژړمخ يخ لاسونه لکه اوبه وېښته يې د فانې نړۍ پر خيرنې ځمکې پراته وه!

له بنايسته سترګو يې د اوښکو غوټ، غوټ څاڅکې داسې بهېدلې فکر به دې کوی چې، د جنت ويالې دي.

د واده مسته فضا په داسې بدبختۍ او ګرده هوا واوښتل چې نه د نر او نه د ښځې نه د ماشوم او نه د مظلوم په سترګو کې اوښکې پاتې سې بلکې ټولو داسې ژړل چې ناوې دوی قتل کړې وي.

هغې ناتوانې ناوې داسې عالمونه وژړول چې ټول يې خپل د ضمير قاضي ته ملامت کړه.

د ټولو ګډونوالو زړه ته هغه خبره ولوېدل چې، ناوې خپل په ژوندوني خپل کورنۍ ته کړې وه چې زما دغه کس نه دی خوښ کوم تــه مې چــې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـاسي ودوئ!

د واده د ګډونوالو حالت به نه درته وايـم ځکه چـي د هغـوی حـال ډېر دردونکی وو ځکه چي، د انسانانو ترڅنګ اسمان او ځمکي هم ژړل.

د څو بدو شپبو وروسته د ناوي د سرې ډولۍ پر ځای يـې د جنـازې څـو لرګيو کي جسد وپېچی او د ابدي کور پر لور يې حرکت ورکړ.

دا د بېسيوادي او ناپوهي ټولني يو ښکاره بېلګه وه، چـي د يـوې ښايسـتې پېغلي ژوند يې په لوی لاس واخيست!

اوس هم زموږ ټولني کي دغه ناوړه رواج له منځه نـه دی تللـی خلـک بيا هم په هغـسي مړه غوړونو خپل لورګاني و خاوند ته ورکوي، دې تـه نـه ګـوري چي خوښه يې ده او که يا!

يوازي پيسو او د خلکو واسطو ته ګوري.

**د ليکوال نظر د کيسې په تړاو:**

واده کول داسي نوم دی چي بشري تسلسل پر همـدې تکـي ولاړ دی کـه دغه نوم د ژوند له چوکاټ کي ځخه وباسو مُمکن د ژونـد تـسلـسل او نــسل بــند ســي!

دا بيا بېله موضوع ده چي، څوک له دې سپېڅلي نـوم څخـه نـاوړه ګټـه پورته کوي. هغوی چي ناوړه ګټه ترې پورته کوي پورتني کيسه يـې د عـبرت لپاره تر ټولو اغېزمنه لار ده.نر او ښـځه دواړه داسي مبـارک نومونـه دي چـي بشري نړۍ پرې ولاړه ده. مهمه داده کله چي دا دوه نومونه يـو ځـای کـيږي، بهتره او ښه داده چي د اسلام مبارک دين په رڼا کـي يـې د ژونـد مـزي وتـړل سي، چي دا ترون بيا هيڅکله هم نه پرې کيږي او نه څوک پرې خپه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناچاپ اثار:

ړوند ګورکنې (ناول)

نړېدلي کور (ناول)

نړېدلي ګور (ناول)

ویشتلې مینه (ناول)

د کلي ملا (ناول)

وړیا زړه (شعري ټولګه)











شهباز خپرندویه ټولنه

برېښنا لیک: shahbazpublications@gmail.com

اړیکشمېرې: 0797920008 - 0776920008 - 0787868816

پته: پي، پي حوا عالي لیسې ترخنګ، حاجي عظیم مارکېټ، حاجي زمان کوخه

Scanned with CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**